ما انا عليه و اصحابي

# د اهل السنة والجماعة عقيده

تأليف

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله تعالى ورعاه

كال ۱۴۴۷ هـ ق

Ketabton.com

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

ما انا علیه واصحابي

# د اهل السنة والجماعة عقیده

تألیف

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله تعالى ورعاه

کال ۱۴۴۷ هـ ق

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د افغانستان اسلامي امارت
د رياست الوزراء مقام د دفتر لوی رياست
د عامه او ستراتيژيکو اړيکو معاونيت
مطبوعاتو رياست

د کتاب نوم: د اهل السنة و الجماعة عقيده

تألیف: اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث مولوي هبةالله اخندزاده حفظه الله تعالى

د چاپ کال: ۱۴۴۷ هجري قمري

چاپ وار: لومړی

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

## فهرست

مقدمه ....................... ۱۱

پر الله ﷻ او د هغه پر صفاتو عقیده ....................... ۱۳

لومړۍ عقیده: الله ﷻ یو دی هیڅ شریک نه لري ....................... ۱۳

دویمه عقیده: د عبادت مستحق یوازې الله ﷻ دی ....................... ۱۴

درېیمه عقیده: خیر او شر یوازې د الله ﷻ له طرفه دي ....................... ۱۴

څلورمه عقیده: الله ﷻ همېشه و او همیشه به وي ....................... ۱۵

پنځمه عقیده: الله ﷻ پر هر شي قادر دی ....................... ۱۷

شپږمه عقیده: الله ﷻ په هر شي علم لري ....................... ۱۸

اوومه عقیده: الله ﷻ د ارادې خښتن دی ....................... ۱۹

اتمه عقیده: هر څه د الله ﷻ په اراده، د هغه په علم، د هغه په قضاء ....................... ۲۰

نهمه عقیده: د الله ﷻ اراده پر ټولو ارادو غالبه ده ....................... ۲۲

لسمه عقیده: الله ﷻ له هر نقص، عیب او زوال څخه پاک دی ....................... ۲۴

یوولسمه عقیده: الله ﷻ بلا کیفه اورېدونکی دی ....................... ۲۵

دوولسمه عقیده: الله ﷻ بلا کیفه لیدونکی دی ....................... ۲۶

دیارلسمه عقیده: الله ﷻ بلا کیفه خبرې کوي ....................... ۲۹

څوارلسمه عقیده: الله ﷻ دعاګانې قبلوي او حاجتونه پوره کوي ....................... ۳۰

پنځلسمه عقیده: الله ﷻ غني ....................... ۳۲

شپاړسمه عقیده: الله ﷻ په غضب کېږي او راضي کېږي ....................... ۳٤

اوولسمه عقیده: د الله ﷻ صفتونه د مخلوق د صفتونو په شان نه دي ....................... ۳۷

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library


اتلسمه عقیده: مونږ د الله ﷻ په ذات کې خبرې نه کوو ...... ۳۷

نولسمه عقیده: الله ﷻ د هر څه خالق (پیدا کوونکی) دی ...... ۳۸

شلمه عقیده: مرګ او ژوند یوازې د الله ﷻ په اختیار کې دي ...... ۳۹

یو ویشتمه عقیده: رزق ورکول یوازې د الله ﷻ په اختیار کې دی ...... ۳۹

د اسلام په هکله عقائد ...... ۴۱

دوه ویشتمه عقیده: اسلام حق دین دی ...... ۴۱

درویشتمه عقیده: په ځمکه او اسمانونو کې د الله ﷻ په نزد حق دین یوازې اسلام دی ...... ۴۱

څلور ویشتمه عقیده: مونږ د الله ﷻ په دین کې بې ځایه بحثونه نه کوو ...... ۴۳

پنځه ویشتمه عقیده: اسلام د افراط او تفریط، د تشبیه او تعطیل، د جبر او قدر ...... ۴۵

شپږویشتمه عقیده: په دین کې ثابت قدمي اسلام ته په ځان سپارلو کې نغښتې ده ...... ۴۷

پر ملائکه وو ایمان ...... ۴۹

اوویشتمه عقیده: ملائکه د الله ﷻ غوره مخلوق دي، له نور څخه پیدا دي ...... ۴۹

اته ویشتمه عقیده: دوی ته دا طاقت ورکول شوی چې په بېلابېلو شکلونو ښکاره شي ...... ۵۱

نهه ویشتمه عقیده: له هر انسان سره د حفاظت لپاره ملائکه شته ...... ۵۲

دېرشمه عقیده: مونږ پر «کراما کاتبین» ایمان لرو ...... ۵۳

یو دېرشمه عقیده: مونږ پر ملک الموت (د مرګ په فرښته) ایمان لرو ...... ۵۳

پر قرآن کریم ایمان ...... ۵۴

دوه دېرشمه عقیده: قرآن کریم د الله ﷻ کلام دی ...... ۵۴

درې دېرشمه عقیده: د قرآن کریم قدر او تعظیم د مسلمانانو په اجماع واجب دی ...... ۵۵

څلور دېرشمه عقیده: مونږ په قرآن کریم کې بې ځایه بحث نه کوو ...... ۵۶


Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

پنځه د پرشمه عقیده: روح الامین (جبرائیل علیه السلام) قرآن کریم راوړی ........ ۵۹
د محمد رسول الله ﷺ پر نبوت عقیده ........ ۶۱
شپږ د پرشمه عقیده: محمد ﷺ تر ټولو مخلوقاتو او انسانانو افضل ........ ۶۱
اووه د پرشمه عقیده: محمد ﷺ اخیرنی نبي دی، ترې وروسته بل نبي دنیا ته نه راځي ........ ۶۴
اته د پرشمه عقیده: د محمد ﷺ له نبوت وروسته د هر چا د نبوت دعوه کفر دی ........ ۶۵
نهه د پرشمه عقیده: محمد ﷺ ټولو انسانانو او پیریانو ته په حق او هدایت سره ........ ۶۶
شلو ښتمه عقیده: محمد ﷺ د ټول عالم لپاره رحمت او هدایت دی ........ ۶۹
یو شلو ښتمه عقیده: د محمد ﷺ د فیصلې او حکم په وړاندې د هیچا فیصلې ته ........ ۷۰
دوه شلو ښتمه عقیده: له محمد ﷺ سره تر ځان، مور، پلار، اولادونو او تر ټولو خلکو ........ ۷۰
درې شلو ښتمه عقیده: د محمد ﷺ اطاعت او پیروي فرض او لازمه ده ........ ۷۲
څلور شلو ښتمه عقیده: د محمد ﷺ ټولې خبرې چې له دین سره اړه لري ........ ۷۳
پنځه شلو ښتمه عقیده: محمد ﷺ بشر دی، ملک (فرښته) او نور نه دی ........ ۷۳
شپږ شلو ښتمه عقیده: محمد ﷺ د شپې مهال په ویښه په جسم او روح سره ........ ۷۷
اووه شلو ښتمه عقیده: حوض کوثر حق دی ........ ۸۵
اته شلو ښتمه عقیده: هغه شفاعت حق دی ........ ۸۶
پر ازلي عهد ایمان ........ ۸۷
نهه شلو ښتمه عقیده: هغه وعده حق ده چې الله ﷻ په ازل کې ........ ۸۷
پر تقدیر ایمان ........ ۸۸
پنځو سمه عقیده: تقدیر حق دی، الله ﷻ د کائناتو له پیدا کولو مخکې ........ ۸۸

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

يو پنځوسمه عقيده: تقدير د الله ﷻ راز دی، هيڅ نږدې ملائکه يا ليږل شوي ..................... ۸۹
دوه پنځوسمه عقيده: خير او شر د الله ﷻ په تقدير سره دي ..................... ۹۰
درې پنځوسمه عقيده: موږ عقيده لرو چې الله ﷻ تر پيدا ايښت وړاندې ..................... ۹۱
څلور پنځوسمه عقيده: د تقدير په اړه ژور بحث او پوښتنې کول ..................... ۹۳
پر لوح محفوظ او قلم ايمان ..................... ۹۵
پنځه پنځوسمه عقيده: موږ پر لوح محفوظ او قلم ايمان لرو ..................... ۹۵
شپږ پنځوسمه عقيده: موږ باور لرو که ټول مخلوقات راټول شي پر هغه څه چې الله ﷻ ..................... ۹۸
اووه پنځوسمه عقيده: قلم په هغه څه وچ شوی دی چې تر قيامته پيدا کيږي ..................... ۹۹
پر عرش او کرسي ايمان ..................... ۱۰۱
اته پنځوسمه عقيده: عرش او کرسي حق دي ..................... ۱۰۱
نهه پنځوسمه عقيده: الله ﷻ له عرش او تر هغه لاندې له هر څه څخه مستغني ..................... ۱۰۲
شپېتمه عقيده: الله ﷻ په خپل قدرت سره پر هر شي احاطه کړې ده ..................... ۱۰۳
د اهل قبله په هکله عقيده ..................... ۱۰۴
يو شپېتمه عقيده: موږ د خپلې قبلې خلکو ته مسلمانان او مؤمنان وايو تر څو چې ..................... ۱۰۴
دوه شپېتمه عقيده: موږ د مسلمانې ټولنې سره مخالفت نه کوو ..................... ۱۰۵
درې شپېتمه عقيده: موږ هيڅوک د اهل قبله و څخه د ګناه په وجه کافر نه ګڼو، مګر دا ..................... ۱۰۶
څلور شپېتمه عقيده: موږ دا نه وايو چې له ايمان سره ګناه ګنهکار ته ضرر نه رسوي ..................... ۱۰۸
پنځه شپېتمه عقيده: موږ د نيکو مؤمنانو لپاره د عفوې هيله لرو ..................... ۱۱۰
شپږ شپېتمه عقيده: (د الله ﷻ له عذابه) داډ او (له رحمت څخه يې) ناهيلي بنده له اسلامه ..................... ۱۱۳
اووه شپېتمه عقيده: مسلمان له ايمان څخه يوازې د هغه څه په انکار سره وځي ..................... ۱۱۵

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

اته شپېتمه عقیده: د لویو ګناهونو خاوندان که څه هم توبه ونه باسي خو چې پر توحید ....... ۱۱۶
نهه شپېتمه عقیده: موږ د اهل قبله و څخه په هر صالح او فاسق پسې لمونځ کوو ....... ۱۱۸
اویایمه عقیده: موږ هیڅوک جنتي یا دوزخي نه ګڼو ....... ۱۱۹
د ایمان تفصیل ....... ۱۲۱
یو اویایمه عقیده: په ژبه اقرار او په زړه تصدیق ایمان دی ....... ۱۲۱
دوه اویایمه عقیده: هغه شرعي حکمونه او د هغو تفصیلونه حق دي ....... ۱۲۳
درې اویایمه عقیده: ایمان یو دی او مومنان په اصل ایمان کې سره برابر دي ....... ۱۲۴
څلور اویایمه عقیده: مؤمنان ټول د الله ﷻ دوستان دي ....... ۱۲۵
پنځه اویایمه عقیده: موږ پر الله ﷻ، د هغه پر ملایکو، د هغه پر کتابونو ....... ۱۲۶
شپږ اویایمه عقیده: موږ عقیده لرو چې الله ﷻ ابراهیم علیه الصلاة والسلام خپل خلیل ....... ۱۲۸
اووه اویایمه عقیده: الله ﷻ خپل بنده ګان یوازې په هغه څه مکلف کړي دي ....... ۱۲۸
له اختلاف څخه ځان ساتل ....... ۱۲۹
اته اویایمه عقیده: موږ د محمد ﷺ له امت څخه د هیچا پر خلاف ....... ۱۲۹
نهه اویایمه عقیده: موږ د خپلو امیرانو خلاف بغاوت نه کوو، که څه هم هغوی ظلم وکړي ....... ۱۳۱
اتیایمه عقیده: موږ د سنتو او د مسلمانانو د ډلې اتباع او پیروي کوو ....... ۱۳۳
یو اتیایمه عقیده: موږ یووالي او اتفاق ته د حق او صداقت په سترګه ګورو ....... ۱۳۶
دوه اتیایمه عقیده: موږ باور لرو چې حج او جهاد د مسلمانو امیرانو په مشرې ....... ۱۳۸
درې اتیایمه عقیده: د انصاف کوونکو او امانت داره خلکو سره مینه لرو او ....... ۱۳۹
پر برزخ او قیامت ایمان ....... ۱۴۱
څلور اتیایمه عقیده: قبر د جنت له باغونو څخه یو باغچه ده او ....... ۱۴۱

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

پنځه اتیایمه عقیده: مونږ پر بیا راژوندي کېدلو، د قیامت پر ورځ، د عملونو په بدله، او ........ ۱۴۱
شپږ اتیایمه عقیده: جنت او دوزخ پخوا پیدا شوي دي، هیڅکله به فنا او له منځه ولاړ نه شي ........ ۱۴۶
اووه اتیایمه عقیده: مونږ د قیامت په علاماتو، لکه: د دجال په راتلو، د یأجوج او مأجوج ........ ۱۵۰
د اهل السنة والجماعة ځانګړي عقائد ........ ۱۵۵
اته اتیایمه عقیده: د ژوندیو په دعاء او صدقه مړو ته ګټه رسیږي ........ ۱۵۵
نهه اتیایمه عقیده: په کوم شي چې نه پوهیږو هلته «الله اعلم» وایو ........ ۱۵۶
نوي یمه عقیده: په سفر او حضر کې پر موزو مسح جائز ګڼو ........ ۱۵۷
یو نوي یمه عقیده: مونږ د رسول الله ﷺ له ټولو صحابه کرامو سره مینه ........ ۱۵۸
دوه نوي یمه عقیده: مونږ له رسول الله ﷺ وروسته ابوبکر صدیق رضي الله عنه ........ ۱۶۲
دري نوي یمه عقیده: هغه لس صحابه رضي الله تعالی عنهم چې رسول الله ﷺ ........ ۱۶۴
څلور نوي یمه عقیده: څوک چې د رسول الله ﷺ صحابه ........ ۱۶۵
له سلف صالحینو سره مینه ........ ۱۶۷
پنځه نوي یمه عقیده: پخواني علماء، مجتهدین امامان، د ........ ۱۶۷
شپږ نوي یمه عقیده: هیڅ ولي پر هیڅ نبي غوره نه ګڼو، بلکې یو نبي تر ټولو اولیاوو غوره دی ........ ۱۶۸
اووه نوي یمه عقیده: مونږ د اولیاؤ په هغه کراماتو ایمان لرو چې په معتبرو روایاتو ثابت دي ........ ۱۶۹
اته نوي یمه عقیده: مونږ په کاهن، فال ویونکي او هغه چا چې د کتاب، سنت او ........ ۱۷۰
نهه نوي یمه عقیده: مونږ په پورتنیو عقائدو ایمان او عقیده لرو، او ........ ۱۷۱
ماخذونه ........ ۱۷۴

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library


بسم الله الرحمن الرحیم

## مقدمه

الحمد لله رب العلمین و الصلوة والسلام علی رسوله محمد وعلی اله واصحابه اجمعین

سمه عقیده یو قوي بنیاد او د اسلام د دین مهم رکن دی. له همدې امله، انبیاء علیهم السلام د خپلو قومونو د بلنې په پیل کې د عقیدې د سمولو او د الله سبحانه وتعالی د یووالي اعلان ته ځانګړې پاملرنه وکړه. د خلکو اصلاح د هغوی د عقیدې په سالمیت او د فکرونو په جوړېدو پورې تړلې ده. هر عمل چې پر صحیح عقیده ولاړ نه وي، هغه بې ارزښته او بې ګټې ګڼل کېږي.

کامل ایمان چې بنده د الله ﷻ له عذابه څخه خلاصولای شي، دوه برخې لري: لومړۍ یې د صحیح عقیدې جوړول دي، او دویمه برخه یې د شریعت مطابق عمل کول دي. تر هغه چې د عقیدې برخه نه وي بشپړه شوې، د عمل برخه هېڅ اعتبار نه لري. که یو کس هر څومره د خیر او نیکۍ کارونه وکړي، خو صحیح عقیده ونه لري، نو هغه ته د الله ﷻ له ابدي عذابه خلاصون نشي ورکولای.

د عائشه رضي الله عنها څخه روایت دی چې هغې نبي کریم ﷺ ته وویل: "ای د الله رسوله! ﷺ ابن جدعان (چې د عائشه رضي الله عنها له خپلوانو څخه و)، په جاهلیت کې به یې صله رحمي کوله او مسکینانو ته به یې خواړه ورکول، آیا دا به په آخرت کې ورته ګټه وکړي؟" رسول الله ﷺ وفرمایل: "نه، ګټه به ورته ونه کړي، ځکه هغه په خپل ټول ژوند کې یوه ورځ هم داسې نه دي ویلي چې: 'یاربه! زما ګناهونه په آخرت کې وبښه.' " یعني، هغه په آخرت ایمان نه درلود، او که ایمان نه وي، نو نیک عملونه ګټه نه کوي.[1]

---

(۱) عَنْ عَائِشَةَ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، ابْنُ جُدْعَانَ كَانَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ يَصِلُ الرَّحِمَ، وَيُطْعِمُ الْمِسْكِينَ، فَهَلْ ذَاكَ نَافِعُهُ؟ قَالَ: « لَا يَنْفَعُهُ، إِنَّهُ لَمْ يَقُلْ يَوْمًا: رَبِّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ » صحيح مسلم (۱/ ۱۹۶).

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



له سفیان بن عیینه څخه د علم د فضیلت په اړه پوښتنه وشوه. هغه وویل: "آیا تا د الله جل جلاله دا قول نه دی اورېدلی چې د علم په یادولو یې پیل کړی او فرمایي: فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ [محمد: ۱۹] پوه شه چې د الله پرته بل معبود نشته، او د خپلې ګناه بښنه وغواړه. نو الله ﷻ په دې آیت کې د زده کړې (علم) له امر وروسته د عمل امر کړی دی. له دې آیت څخه معلومېږي چې د توحید پېژندل فرض دي. (۱)

امیر المؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوي هبة الله اخوند زاده

---

(۱) وسئل سفيان بن عيينة عن فضل العلم، فقال: ألم تسمع قوله تعالى حين بدأ به فقال: {فاعلم أنه لا إله إلا الله واستغفر لذنبك} (محمد: ۱۹) فأمره بالعمل بعد العلم، ويعلم من الآية أن التوحيد مما يجب العلم به، ولا يجوز فيه تقليد. عمدة القاري شرح صحيح البخاري (۲/ ۳۹) ط دار احياء التراث العربي- بيروت.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

# پر الله ﷻ او د هغه پر صفاتو عقیده

## لومړۍ عقیده: الله ﷻ یو دی هیڅ شریک نه لري.(١)

لقوله تعالی:

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ.(٢)

ژباړه: وو ایه (اې محمده ! دوی ته) شان دا دی چې الله یو دی (په ذات او صفات خپل کې).

وإلهكم إله وَاحِدٌ لاَّ إله إلاَّ هُوَ الرحمن الرحيم.(٣)

ژباړه: او معبود ستاسې معبود یو دی نشته بل څوک لائق د عبادت مګر هم دی، خورا (ډېر) مهربان پوره رحم لرونکی دی.

لاَ شَرِيكَ لَهُ وبذلك أُمِرْتُ وَأَنَاْ أَوَّلُ المسلمين.(٤)

ژباړه: نشته هیڅ شریک ده لره (په دغو تېرو عبادتونو کې) او په هم دې (توحید) امر (حکم) کړی شوی دی ما ته او زه اول د مسلمانانو (الله ته غاړه ایښودونکی) یم

## دوهمه عقیده: د عبادت مستحق یوازې الله ﷻ دی.(٥)

لقوله تعالی:

يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ.(٦)

---

(١) إن الله واحد لا شريك له. العقيدة الطحاوية ص: ٨.
(٢) سورة الإخلاص: ١.
(٣) سورة البقرة: ١٦٣.
(٤) سورة الأنعام: ١٦٣.
(٥) لا إله غيره. العقيدة الطحاوية ص: ٨.
(٦) سورة البقرة: ٢١.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: اې خلکو! عبادت وکړئ د رب خپل، هغه (رب چې) پیدا کړي یې یئ تاسې او (پیدا کړي یې دي) هغه کسان چې وو پخوا له تاسې څخه لپاره د دې چې تاسې ځان وساتئ (له عذابه د الله ﷻ).

وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ.(۱)

ژباړه: حال دا چې امر حکم نه و ورکړی شوی دوی ته په تورات او انجیل کې مګر ورکړی شوی و چې عبادت کوي دوی د الله په داسې حال کې چې خالص کوونکي وي الله لره دین له شرکه او نفاقه

## دریمه عقیده: خیر او شر یوازې د اللّه ﷻ له طرفه دي.(۲)

لقوله تعالی:

وَإِنْ تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَقُولُوا هَذِهِ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُوا هَذِهِ مِنْ عِنْدِكَ قُلْ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ فَمَالِ هَؤُلَاءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ حَدِيثًا.(۳)

ژباړه: او که ورسیږي دوی ته څه نیکي (لکه پراخي) نو وایې دوی دا (نیکي) له (جانبه د) الله ده او که ورسیږي دوی ته څه بدي (لکه قحط) نو وایې دوی دا (بدي) له جانبه ستا ده، ووایه (اې محمده! دوی ته) دا ټول (خیر او شر) له جانبه د الله دی پس څه سبب دی دې قوم لره چې نه دی نژدې (دې ته) چې پوه شي دوی په هیڅ خبره باندې.

(۱) سورة البينة: ۵.
(۲) والخير والشر مقدران على العباد. العقيدة الطحاوية ص: ۲۶.
(۳) سورة النساء: ۷۸.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ولما روي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: كُنْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَقَالَ:... وَاعْلَمْ أَنَّ الأُمَّةَ لَوِ اجْتَمَعَتْ عَلَى أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَنْفَعُوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللَّهُ لَكَ وَلَوِ اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ يَضُرُّوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَضُرُّوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللَّهُ عَلَيْكَ رُفِعَتِ الأَقْلامُ وَجَفَّتِ الصُّحُفُ» رواه أَحْمد وَالتِّرْمِذِيّ.(۱)

ژباړه: له حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی هغه وایي: چې یو ځل زه د رسول کریم ﷺ سره پر سپرلۍ سپور وم، رسول کریم ﷺ راته وویل: او دا خبره په یاد لره که ټول مخلوق راجمع شي او تا ته ګټه رسول وغواړي نو هیڅکله به ګټه نشي دررسولای مګر یوازې دومره څومره چې الله ﷻ ستا په مقدر کې لیکلې وي او که ټول خلک راټول شي په دې چې تا ته ضرر ورسوي په یو شي سره، نو ضرر به ونه رسوي تا ته مګر په هغه اندازه څومره چې الله ﷻ ستا په تقدیر کې لیکلي دي قلمونه پورته شوي دي او صحیفې وچې شوي دي.

## څلورمه عقیده: الله ﷻ همېشه و او همېشه به وي.(۲)

لقوله تعالی:

هُوَ الْأَوَّلُ وَالْآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ.(۳)

ژباړه: هم دغه (الله ﷻ) اول دی (له هر شي څخه چې ابتداء نه لري) او آخر دی (له هر شي څني چې انتهاء نه لري، او ظاهر دی (په دلیلونو سره) او باطن دی (پټ دی له لیدلو د سترګو نه په دنیا کې) او هم دغه (الله ﷻ) دی په هر شي باندې ښه عالم ښه پوهیدونکی.

(۱) مشکوة المصابیح: ۳/ ۱۴۵۹، رقم الحدیث: ۵۳۰۲.
(۲) قدیم بلا ابتداء دائم بلا انتهاء لا یفنی ولا یبید. العقیدة الطحاویة ص: ۸.
(۳) سورة الحدید: ۳.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



﴿كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ لَهُ الْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ﴾[1]

ژباړه: هر څيز فاني کېدونکی دی مګر ذات د ده (چې تل باقي دی).

ولما روي:

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَعَقَلْتُ نَاقَتِي بِالْبَابِ، فَأَتَاهُ نَاسٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ فَقَالَ: «اقْبَلُوا الْبُشْرَى يَا بَنِي تَمِيمٍ»، قَالُوا: قَدْ بَشَّرْتَنَا فَأَعْطِنَا، مَرَّتَيْنِ، ثُمَّ دَخَلَ عَلَيْهِ نَاسٌ مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ، فَقَالَ: «اقْبَلُوا الْبُشْرَى يَا أَهْلَ الْيَمَنِ، إِذْ لَمْ يَقْبَلْهَا بَنُو تَمِيمٍ»، قَالُوا: قَدْ قَبِلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالُوا: جِئْنَاكَ نَسْأَلُكَ عَنْ هَذَا الأَمْرِ؟ قَالَ: «كَانَ اللَّهُ وَلَمْ يَكُنْ شَيْءٌ غَيْرُهُ، وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى المَاءِ، وَكَتَبَ فِي الذِّكْرِ كُلَّ شَيْءٍ، وَخَلَقَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ»[2]

ژباړه: له عمران بن حصين رضي الله عنهما څخه روايت دی هغه وايي: چې زه د رسول کريم ﷺ خوا ته راغلم خپله اوښه مې له دروازې سره نږدې وتړله، د بنو تميم يوه ډله خلک د رسول کريم عليه السلام خدمت ته راغلل (د هغوی په ليدو سره) رسول کريم ﷺ وويل: اې د بنو تميم خلکو ! زما زيری قبول کړئ، هغوی وويل: تاسو پخوا هم زيری راکړی دی (او موږ قبول کړی دی) اوس موږ ته مال راکړه دا خبره يې دوه ځله وکړه، بيا د يمن يوه ډله خلک د رسول کريم ﷺ خدمت ته حاضر شول (د هغوی په ليدو سره هم) رسول کريم ﷺ وويل: اې د يمن خلکو ! زيری قبول کړئ ځکه چې بنو تميم قبول نه کړ، هغوی وويل: موږ زيری قبول کړ، د دې لپاره راغلي يو چې له تاسو څخه د دې دنيا په هکله پوښتنه وکړو، رسول کريم عليه السلام وويل: له هر څه وړاندې د الله تعالی ذات و او بل هيڅ شی نه و، د هغه عرش په اوبو و، په لوح محفوظ کې يې هر شی وليکل او ځمکې او اسمانونه يې پيدا کړل

(۱) سورة القصص: ۸۸.

(۲) صحيح البخاري: ۴/ ۱۰۵، رقم الحديث: ۳۱۹۱، وأخرجه أيضا أحمد: ۴۳۱/۴ ، رقم الحديث: ۱۹۸۸۹، والطبراني: ۲۰۳/۱۸، رقم الحديث: ۴۹۷.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ: «اللَّهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ وَبِكَ خَاصَمْتُ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِعِزَّتِكَ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَنْ تُضِلَّنِي أَنْتَ الْحَيُّ الَّذِي لَا يَمُوتُ وَالْجِنُّ وَالْإِنْسُ يَمُوتُونَ».(١)

ژباړه: له حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به دغه دعاء ويله: اې الله! ما ستا فرمانبرداري وکړه او ما ستا په لور رجوع وکړه او ستا په مرسته سره جګړه کوم اې الله! زه ستا د عزت په ذريعه پناه غواړم ستا څخه پرته بل څوک د عبادت وړ نه شته دد دې څخه چې ته ما ګمراه کړې ته ژوندی يې داسې ژوندی چې نه مرې حال دا چې انسانان او پيريانان ټول مړه کېدونکي دي

## پنځمه عقيده: الله ﷻ پر هر شي قادر دی.(٢)

لقوله تعالی:

إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ.(٣)

ژباړه: بې شکه الله پر هر شي (چې اراده وفرمايي) ښه قادر دی.

وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ.(٤)

ژباړه: او خاص الله لره دی ملک (سلطنت) د آسمانونو او (سلطنت) د ځمکې او (سلطنت) د هغو شيانو چې په مينځ د دوی کې دي، پيدا کوي (الله ﷻ) هغه چې اراده وفرمايي د (پيدا کولو يې) او الله پر هر څيز باندې (چې اراده وفرمايي) ښه قادر دی.

وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ مُّقْتَدِرًا.(٥)

ژباړه: او دی الله پر هر څيز باندې (چې اراده وفرمايي) توانا قادر (چې ځينې د هغو انشاء او افناء دي).

---

(١) مشکوة المصابيح: ٢/ ٧٦٠، رقم الحديث: ٢٤٦٣.
(٢) ذلك بأنه على كل شيء قدير وكل شيء إليه فقير. العقيدة الطحاوية ص: ١٠.
(٣) سورة البقرة: ٢٠.
(٤) سورة المائدة: ١٧.
(٥) سورة الكهف: ٤٥.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## شپږمه عقیده: الله ﷻ په هر شي علم لري.(۱)

لقوله تعالی:

وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ.(۲)

ژباړه: او دی پر هر څه باندې ښه عالم دی.

إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ.(۳)

ژباړه: بې شکه چې الله ښه عالم دی په خبرو د سینو (او په حالاتو د زړونو هم).

وَإِن تَجْهَرْ بِالْقَوْلِ فَإِنَّهُ يَعْلَمُ السِّرَّ وَأَخْفَى.(۴)

ژباړه: او که جهر کوې په وینا سره (چې ذکر د الله او دعا ده نو جهر ته حاجت نشته ځکه چې) پس بې شکه دغه (الله ﷻ) عالم دی په پټه خبره او په ډېره پټه (له هغې پټې نه هم).

يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ.(۵)

ژباړه: عالم دی په هغو شیانو چې په مخ د مخلوقاتو کې دي (د دنیا له امورو) او په هغو شیانو چې وروسته له دوی دي (د عقبی له امورو).

---

(۱) وقد علم الله تعالی فیما لم یزل عدد من یدخل الجنة وعدد من یدخل النار جملة واحدة فلا یزاد في ذلك العدد ولا ینقص منه وكذلك أفعالهم فیما علم منهم أن یفعلوه. العقیدة الطحاویة ص: ۱۶.

(۲) سورة البقرة: ۲۹.

(۳) سورة المائدة: ۷.

(۴) سورة طه: ۷.

(۵) سورة البقرة: ۲۵۵.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



اوومه عقيده: الله ﷻ د ارادې څښتن دی، هر څه چې وغواړي په خپله خوښه او اختيار يې کوي.(۱)

لقوله تعالى:

﴿فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ﴾(۲)

ژباړه: ډېر ښه کوونکی دی د هر هغه شي چې اراده يې وفرمايي.

﴿إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ﴾(۳)

ژباړه: بې شکه هم دا خبره ده چې امر حکم د الله هر کله چې اراده وفرمايي (د پيدا کولو) د يوه څيز دا دی چې وفرمايي هغه ته چې (جوړ) شه نو (جوړ) شي.

﴿وَإِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِقَوْمٍ سُوءًا فَلَا مَرَدَّ لَهُ وَمَا لَهُم مِّن دُونِهِ مِن وَالٍ﴾(۴)

ژباړه: او کله چې اراده وکړي الله پر کوم قوم باندې د بدي (آفت) نو نشته بېرته ګرځېدل د هغه، او نشته دوی ته بې له الله ﷻ څخه هيڅوک متولي (مددګار).

﴿وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَيَخْتَارُ﴾(۵)

ژباړه: او رب ستا پيدا کوي هغه څه چې اراده وفرمايي (د پيدا ينښت يې) او غوره کوي يې.

﴿وَيَفْعَلُ اللَّهُ مَا يَشَاءُ﴾(۶)

ژباړه: او کوي الله هر هغه څه چې اراده وفرمايي (د کولو يې له اهداء د مؤمنانو او اضلال د کافرانو).

(۱) ولا يكون إلا ما يريد. العقيدة الطحاوية ص:۸.
- يفعل ما يشاء. العقيدة الطحاوية ص: ۲۷.
(۲) سورة البروج : ۱۶.
(۳) سورة يس : ۸۲.
(٤) سورة الرعد : ۱۱.
(٥) سورة القصص: ٦٨.
(٦) سورة ابراهيم : ۲۷.

ketabton.com - The Digital Library



إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ.(۱)

ژباړه: بې شکه الله تعالی کوي هر هغه کار چې اراده يې وکړي.

اتمه عقيده: هر څه د الله ﷻ په اراده، د هغه په علم، د هغه په قضاء، د هغه په تقدير او د هغه په امر ترسره کيږي.(۲)

لقوله تعالی:

وَمَا تَشَاءُونَ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ رَبُّ الْعَلَمِينَ.(۳)

ژباړه: او نشئ قصد کولی تاسې (د سمې لارې) مګر هغه چې اراده وفرمايي الله (د قصد د تاسې د سمې لارې) چې رب پالونکی د (ټولو) عالميانو دی.

{ وَمَا تَشَاءُونَ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا.(٤)

ژباړه: او اراده نشئ کولی تاسې (د هيڅ لاره د طاعت) مګر هغه چې اراده وفرمايي الله (تاسو ته) بې شکه الله دی (پر هر شي باندې) ښه عالم، دانا، ښه حکمت والا.

إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ.(٥)

ژباړه: بې شکه چې الله کوي هر هغه چې اراده يې وکړي.

أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ.(٦)

---

(۱) سورة الحج: ۱۸.

(۲) كل شيء يجري بتقديره ومشيئته، ومشيئته تنفذ، لا مشيئة للعباد إلا ما شاء لهم، فما شاء لهم كان، وما لم يشأ لم يكن. العقيدة الطحاوية ص: ۱۱.

- وكل شيء يجري بمشيئة الله تعالى وعلمه وقضائه وقدره غلبت مشيئة المشيئات كله وغلب قضاؤه الحيل كلها. العقيدة الطحاوية ص: ۲۷.

(۳) سورة التكوير: ۲۹.

(٤) سورة الدهر: ۳۰.

(٥) سورة الحج: ۱٤.

(٦) سورة الملك: ۱٤.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: آیا نه پوهیږي (په پټو اسرارو د زړونو) هغه (الله ﷻ) چې پیدا کړي یې دي (زړونه بلکه هر شی ورمعلوم دی) او همغه (الله) دی علیم دانا (په پټو اسرارو) ښه خبردار دی (په ظواهرو د موجوداتو هم).

لِتَعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ وَأَنَّ اللَّهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا.(۱)

ژباړه: (پوهوي مو) تر څو چې وپوهیږئ تاسې چې بې شکه الله پر هر څیز باندې (چې اراده یې وفرمایي) ښه قادر دی (چې ځینې دغه جریان د احکام یې دی په ځمکه او اسمان کې) او (پوه شئ) بې شکه چې الله په تحقیق احاطه فرمایلې رسیدلی دی هر شي ته له جهته د علمه قدرته.

قُلْ لَنْ يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَانَا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ.(۲)

ژباړه: ووایه (اې محمده! دوی ته) له سره به ونه رسیږي مونږ ته مګر همغه چې لیکلي دي الله زمونږ لپاره هم دغه (الله) دی مولا (کار جوړوونکی) زمونږ، او (خاص) پر هم دغه الله باندې دې نو توکل (اعتماد) کوي مؤمنان (د هیلو په تر سره کېدلو، د اړتیاوو په پوره کېدلو او د آفتونو څخه په ژغورلو کې).

إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ.(۳)

ژباړه: بې شکه مونږ هر شی پیدا کړی مو دی په (ړومبني ازلي) اندازه سره.

وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا.(۴)

ژباړه: او پیدا کړی دی الله هر شی پس په اندازه کړی یې دی هغه (شی) په اندازه کولو سره.

اللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ أُنْثَىٰ وَمَا تَغِيضُ الْأَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهُ بِمِقْدَارٍ.(۵)

---

(۱) سورة الطلاق: ۱۲.
(۲) سورة التوبة: ۵۱.
(۳) سورة القمر: ۴۹.
(۴) سورة الفرقان: ۲.
(۵) سورة الرعد: ۸.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: الله عالم دی (لا یخوا له تولده) په هغه څه چې بار اخلي هره ښځه او (الله عالم دی) په هغه څه چې کموي یې ارحام (او ناقص یې څېږوي) او (الله عالم دی) په هغه چې زیاتوي یې (من حیث الأعضاء والجثة والعدد والمدة) او هر شی په نزد د دغه (الله) په اندازه دی.

ولما روي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: كُنْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَقَالَ: «... وَاعْلَمْ أَنَّ الأُمَّةَ لَوِ اجْتَمَعَتْ عَلَى أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَنْفَعُوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللهُ لَكَ وَلَوِ اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ يَضُرُّوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَضُرُّوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللهُ عَلَيْكَ رُفِعَتِ الأَقْلَامُ وَجَفَّتِ الصُّحُفُ» رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ. (١)

ژباړه: له حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی هغه وایي: چې یو ځل زه د رسول کریم ﷺ سره پر سپرلۍ سپور وم، رسول کریم ﷺ راته وویل: او دا خبره په یاد لره که ټول مخلوق راجمع شي او تا ته ګټه رسول وغواړي نو هیڅکله به ګټه نشي دررسولای مګر یوازې دومره څومره چې الله ﷻ ستا په مقدر کې لیکلې وي او که ټول خلک راټول شي په دې چې تا ته ضرر ورسوي په یو شي سره، نو ضرر به ونه رسوي تا ته مګر په هغه اندازه څومره چې الله ﷻ ستا په تقدیر کې لیکلي دي قلمونه پورته شوي دي او صحیفې وچې شوي دي.

**نهمه عقیده: د الله ﷻ اراده پر ټولو ارادو غالبه ده او د هغه حکم په ټولو تدبیرونو غالب دی، څه چې غواړي، هغه کوي.** (٢)

لقوله تعالى:

﴿وَإِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِقَوْمٍ سُوءًا فَلَا مَرَدَّ لَهُ وَمَا لَهُم مِّن دُونِهِ مِن وَالٍ﴾ (٣)

(١) مشكوة المصابيح: ٣/ ١٤٥٩، رقم الحديث: ٥٣٠٢.

(٢) لا شيء يعجزه، ولا يكون الا ما يريد. العقيدة الطحاوية ص: ٨.

- ولا غالب لأمره. العقيدة الطحاوية ص: ١١.

(٣) سورة الرعد: ١١.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library


ژباړه: او کله چې اراده وکړي الله پر کوم قوم باندې د بدي (آفت) نو نشته بیرته ګرځېدل د هغه، او نشته دوی ته بې له الله څخه هیڅوک متولي (مددګار).

﴿وَمَا تَشَاءُونَ إِلَّا أَنْ يَشَاءَ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا﴾(۱)

ژباړه: او اراده نشئ کولی تاسې (د هیڅ لاره د طاعت) مګر هغه چې اراده وفرمایي الله (تاسو ته) بې شکه الله دی (پر هر شي باندې) ښه عالم، دانا، ښه حکمت والا.

﴿وَاللَّهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِ وَهُوَ سَرِيعُ الْحِسَابِ﴾(۲)

ژباړه: او الله حکم کوي (په هر څه چې اراده وفرمایي) نشته هیڅوک رد کوونکی د پاره د حکم د الله او الله ډېر ژر دی حساب (د ده، نو ژر حساب به ورسره کوي په آخرت کې هم).

﴿وَمَكَرُوا وَمَكَرَ اللَّهُ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ﴾(۳)

ژباړه: او مکر وکړ کفارو (په عیسی علیه السلام باندې) او مکر وکړ الله (له دوی سره چې سزا یې دوی ته ورکړه) او الله خیر (بهتر) د ماکرینو دی (چې مکاران په سزا رسوي).

﴿إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ﴾(۴)

ژباړه: بې شکه هم دا خبره ده چې امر حکم د الله هر کله چې اراده وفرمایي (د پیدا کولو) د یوه څیز، دا دی چې وفرمایي هغه ته چې (جوړ) شه نو (جوړ) شي.

﴿فَعَّالٌ لِمَا يُرِيدُ﴾(۵)

ژباړه: ډېر ښه کوونکی دی د هر هغه شي چې اراده یې وفرمایي.

---

(۱) سورة الدهر: ۳۰.
(۲) سورة الرعد: ۴۱.
(۳) سورة آل عمران: ۵۴.
(٤) سورة يس: ۸۲.
(۵) سورة البروج: ۱۶.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



**لسمه عقيده: الله ﷻ له هر نقص، عيب او زوال څخه پاک دی، هيڅ ظلم نه کوي، الله ﷻ چې څه کوي له هغه څخه نه پوښتل کيږي، خو دوی ټول به پوښتل کيږي.(۱)**

لقوله تعالى:

سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يَقُولُونَ عُلُوًّا كَبِيرًا.(۲)

ژباړه: پاکي د الله ﷻ، او ډېر پورته دی له هغه څه چې وايې دوی په ډېرې لويې سره.

وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِلْعَبِيدِ.(۳)

ژباړه: او نه دی رب ستا ظلم کوونکی پر بنده ګانو (چې بې موجبه يې په عذاب کړي)

وَأَنَّ اللَّهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِلْعَبِيدِ.(۴)

ژباړه: او بې شکه چې الله نه دی ظلم کوونکی په بنده ګانو.

إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ.(۵)

ژباړه: بې شکه چې الله نه کوي ظلم په اندازې د يوې ذرې.

لَا يُسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْأَلُونَ.(۶)

ژباړه: نه پوښتيدلی کيږي (الله ﷻ) له هغو (شيانو) چې کوي يې (ځکه چې الوهيت يوازې د ده صفت دی) او دوی پوښتيدلی کيږي (د دوی له افعالو، احوالو او اقوالو

---

(۱) تقدس عن كل سوء وحين، وتنزه عن كل عيب وشين، لا يسأل عما يفعل وهم يسألون، وهو غير ظالم أبدا. العقيدة الطحاوية ص: ۲۸،۲۷.

- قال تعالى في كتابه: لا يسأل عما يفعل وهم يسألون، فمن سأل: لم فعل؟ فقد رد حكم الكتاب، ومن رد حكم الكتاب كان من الكافرين. العقيدة الطحاوية ص: ۱۷.

(۲) سورة الاسراء: ۴۳.

(۳) سورة فصلت: ۴۶.

(٤) سورة آل عمران: ۱۸۲.

(٥) سورة النساء: ۴۰.

(٦) سورة الأنبياء: ۲۳.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ځکه چې دوی مخلوق او مملوک دي).

ولما روي:

عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا يَرْوِي عَنِ اللَّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَنَّهُ قَالَ: «يَا عِبَادِي إِنِّي حَرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلَى نَفْسِي وَجَعَلْتُهُ بَيْنَكُمْ مُحَرَّمًا فَلَا تَظَالَمُوا».(۱)

ژباړه: ابو ذر رضي الله عنه له نبي کريم ﷺ څخه حديث قدسي روايت کوي چې الله تعالى فرمايي: اې زما بنده ګانو! ما پر خپل ځان ظلم حرام کړی دی او ستاسو په منځ کې مې هم ظلم حرام کړی دی نو تاسو په خپل منځ کې يو پر بل ظلم مه کوئ.

**يوولسمه عقيده: اللّٰه ﷻ بلا کيفه اورېدونکی دی.(۲)**

لقوله تعالى:

وَاللَّهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ.(۳)

ژباړه: او الله اورېده سوال او جواب ستاسي بې شکه چې الله ښه اوريدونکی دی (د ټولو اقوالو) ښه کتونکی دی (د ټولو احوالو).

وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ.(٤)

ژباړه: او پوه شئ تاسي چې بې شکه الله ښه اوريدونکی (د ټولو اقوالو) ښه عالم

---

(۱) مشكوة المصابيح: ۲/ ۷۱۹، رقم الحديث: ۲۳۲۶.

(۲) لا يشبه الأنام. العقيدة الطحاوية ص:۹.

- ومن وصف الله بمعنى من معاني البشر فقد كفر، فمن أبصر هذا اعتبر. وعن مثل قول الكفار انزجر، وعلم أنه بصفاته ليس كالبشر. العقيدة الطحاوية ص:۱۳.

(۳) سورة المجادلة: ۱.

(٤) سورة البقرة: ۲۴۴.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



(په ټولو احوالو) دی.

﴿وَاللَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ﴾(۱)

ژباړه: او الله، هم دی دی ښه اوریدونکی (د ټولو اقوالو) ښه عالم (په ټولو احوالو).

يد الله صفة من صفاته تعالى كالسمع والبصر والوجه لا يدرى كنهها الا الله تعالى ولا تذهب نفسك الى الجارحة وتكيّفها ويجب على العباد الايمان بها والتسليم قال ائمة السلف من اهل السنة فى هذه الصفات امرّوا كما جاءت بلا كيف.(۲)

ژباړه: «يد» د الله ﷻ صفاتو یو صفت دی، لکه: «سمع، بصر، وجه» چې یې صفتونه دي، د دې صفتونو په حقیقت له الله ﷻ پرته څوک نه پوهیږي. ستا خیال دې د دې صفاتو ځرنګوالي او (انساني) غړي ته نه ځي، او پر بندګانو د دې صفاتو منل او ایمان پر لرل واجب دي، د اهل سنت سلفو فرمایلي: دا صفات چې څنګه راغلي همداسې له کیفیت بیانولو پرته (پر خپل) پرېږدئ.

**دوولسمه عقیده: الله ﷻ بلا کیفه لیدونکی دی.**(۳)

لقوله تعالى:

﴿وَاللَّهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ﴾(۴)

ژباړه: او الله اورېده سوال او جواب ستاسې بې شکه چې الله ښه اوریدونکی دی (د ټولو اقوالو) ښه کتونکی دی (د ټولو احوالو).

﴿إِنَّ اللَّهَ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴾(۵)

---

(۱) سورة المائدة: ۷۶.

(۲) التفسير المظهري: ۳/ ۱۴۰ ط: رشيدية.

(۳) لا يشبه الأنام. العقيدة الطحاوية ص:۹.

- ومن وصف الله بمعنى من معاني البشر فقد كفر، فمن أبصر هذا اعتبر، وعن مثل قول الكفار انزجر، وعلم أنه بصفاته ليس كالبشر. العقيدة الطحاوية ص:۱۳.

(۴) سورة المجادلة: ۱.

(۵) سورة الغافر: ۲۰.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: بې شکه الله، هم دی ډېر اوریدونکی (د اقوالو) ښه لیدونکی (د اعمالو).

إِنَّهُ كَانَ بِعِبَادِهِ خَبِيرًا بَصِيرًا.(۱)

ژباړه: بې شکه چې دغه (الله) دی په (مصالحو د بنده ګانو خپلو) ښه خبردار ښه لیدونکی (عالم په پټو او ښکاره وو).

ید الله صفة من صفاته تعالى كالسمع والبصر والوجه لا يدرى كنهها الا الله تعالى ولا تذهب نفسك الى الجارحة وتكيفها ويجب على العباد الايمان بها والتسليم قال ائمة السلف من اهل السنة فى هذه الصفات امرّوا كما جاءت بلا كيف.(۲)

ژباړه: «ید» د الله ﷻ له صفاتو یو صفت دی، لکه: «سمع، بصر، وجه» چې یې صفتونه دي، د دې صفتونو په حقیقت له الله ﷻ پرته څوک نه پوهیږي. ستا خیال دې د دې صفاتو ځرنګوالي او (انساني) غړي ته نه ځي، او پر بنده ګانو د دې صفاتو منل او ایمان پر لرل واجب دي، د اهل سنت سلفو فرمایلي: دا صفات چې څنګه راغلي همداسې له کیفیت بیانولو پرته (پر خپل) پرېږدئ.

فَلَمْ يَبْقَ إِلَّا أَنْ تُحْمَلَ عَلَى صِفَتَيْنِ تَعَلَّقَتَا بِخَلْقِ آدَمَ تَشْرِيفًا لَهُ دُونَ خَلْقِ إِبْلِيسَ تَعَلُّقَ الْقُدْرَةِ بِالْمَقْدُورِ لَا مِنْ طَرِيقِ الْمُبَاشَرَةِ وَلَا مِنْ حَيْثُ الْمُمَاسَّةُ.(۳)

ژباړه: نو (هیڅ تاویل) پاته نه شو، یوازې دا چې (ید) د هغه (آدم علیه السلام) د تشریف (عزتمندي) په موخه د هغه دوه صفتونو په معنی واخلو چې (یوازې) د آدم علیه السلام له تخلیق سره اړه لري، نه د شیطان له تخلیق سره (دا) تعلق نه د مباشرت له لارې دی، او نه هم د مماسیت (موښتلو) په ډول دی، (بلکې داسې تعلق دی) لکه له مقدور سره د قدرت تعلق.

---

(۱) سورة الاسراء: ۳۰.
(۲) التفسير المظهري: ۳/ ۱۴۰ ط: رشيدية.
(۳) تفسير القرطبي: ۶/ ۲۳۹ ط: دار الكتب المصرية – القاهرة.

Scanned with CamScanner

ثم لا يحتمل أن يفهم من إضافة اليد إلى الله ما يفهم من الخلق؛ لما وجد إضافة اليد إلى من
يحتمل أن يكون له اليد، من ذلك قوله – تعالى –: (لا يأتيه الباطل من بين يديه ولا من خلفه)
لا يفهم من القرآن اليد كما يفهم من الخلق؛ فعلى. ذلك لا يجوز أن يفهم من إضافة اليد إلى الله
– تعالى – كما يفهم من الخلق؛ ألا ترى أنه قال: (ذلك بما قدمت يداك)، (فبما كسبت أيديكم)
لم يفهم منه اليد نفسها؛ وكذلك قوله: (ذلك بما قدمت أيديكم)، لكن أضيف ذلك إلى اليد؛ لما
باليد يقدم ويعطي ويكسب؛ ألا ترى أنه قال – تعالى –: (لا تقدموا بين يدي الله ورسوله)، ومعلوم
أنه لم يفهم من اليد: اليد نفسها، ولكن أضيف ذلك إليها؛ لما ذكرنا، والله أعلم.(۱)

ژباړه: نو دا احتمال نه لري چې الله ﷻ ته له شوي نسبت «يد» څخه (هغه معنی واخيستله شي) چې مخلوق (ته د «يد» له نسبت) څخه اخيستله کيږي؛ دا ځکه چې د «يد» نسبت داسې شي ته هم شوی چې هلته دا احتمال نشته چې د هغه دې لاس وي لکه: الله ﷻ (د قرآن کريم په هکله) فرمايي: (لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ). دلته له قرآن کريم څخه داسې لاس نه پوهيږي، کوم چې له خلکو څخه پوهيږي؛ نو ځکه دا جائز نه ده چې الله ﷻ ته له شوي نسبت «يد» څخه (هغه معنی واخيستله شي) چې مخلوق (ته د «يد» له نسبت) څخه اخيستله کيږي؛ ته نه ګورې چې الله ﷻ (انسان ته نسبت شوی لاس هم په داسې معنی ياد کړی چې خپله لاس ترې مراد نه دی) لکه فرمايي: (ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدَاكَ)، (فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ)، دلته خپله لاس ترې مراد نه دي (بل انسان مراد دی) او همدا راز الله ﷻ فرمايي: (ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيكُمْ) (دلته مراد خپله انسانان دي) خو لاس «يد» ته يې ځکه نسبت شوی؛ چې (انسان) په لاس (يو شیء) وړاندې کوي، ورکوي، او تر لاسه کوي، او ته نه ګورې الله ﷻ (بل ځای) فرمايي: (لَا تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ) ښکاره خبره ده چې دلته له «يد» توري څخه خپله لاس مراد نه دی، خو بيا هم نسبت ورته شوی دی. له هغې وجې چو موږ يې يادونه وکړه. والله أعلم.

---

(۱) تفسيرالماتريدي: ۳/ ۵۵۱-۵۵۲ ط دارالكتب العلمية، بيروت.

ketabton.com - The Digital Library

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## دیارلسمه عقیده: الله ﷻ بلاکیفه خبرې کوي.[1]

لقوله تعالی:

وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَىٰ تَكْلِيمًا.[2]

ژباړه: او کلام کړی دی الله له موسی سره په کلام کولو.

وَإِنْ أَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّىٰ يَسْمَعَ كَلَامَ اللَّهِ ثُمَّ أَبْلِغْهُ مَأْمَنَهُ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْلَمُونَ.[3]

ژباړه: او که یو تن له مشرکانو څخه امن (پناه) وغواړي له تا (له قتله) نو پناه ورکړه ته هغه ته؛ څو چې واوري دی کلام د الله، بیا ورسوه ته دی ځای د امن (وطن) د ده ته (که ایمان یې رانه وړ) دغه (امان لپاره د اوریدلو د قرآن) په سبب د دې دی چې بې شکه دوی (داسې) قوم دی چې نه پوهیږي (په قرآن او ایمان باندې).

تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ مِّنْهُم مَّن كَلَّمَ اللَّهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَاتٍ.[4]

ژباړه: دا ټول رسولان (چې له آدم تر محمده علی نبینا و علیهم السلام پورې یاد شول) فضیلت ورکړی دی مونږ ځینې د دوی ته پر ځینو نورو، ځینې له دوی څخه هغه دي چې کلام کړی دی الله (له دوی سره چې آدم، موسی او محمد علیهم السلام دي) او پورته کړي یې دي ځینو د دوی ته درجې (لکه محمد ﷺ).

---

(۱) لا یشبه الأنام. العقیدة الطحاویة ص:۹.
- ومن وصف الله بمعنی من معاني البشر فقد کفر، فمن أبصر هذا اعتبر، وعن مثل قول الکفار انزجر، وعلم أنه بصفاته لیس کالبشر. العقیدة الطحاویة ص:۱۳.

(۲) سورة النساء: ۱۶۴.

(۳) سورة التوبة: ۶.

(۴) سورة البقرة: ۲۵۳.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



وكلامُ الله تعالى للنبيِّ موسى دونَ تكييفٍ ولا تحديدٍ؛ فإنه سبحانه موجودٌ لا كالموجودات، معلومٌ لا كالمعلوماتِ، فكذلكَ كلامُه لا كالكلامِ..(۱)

ژباړه: او د الله تعالى كلام د حضرت موسى عليه السلام سره بې له تكييف او بې له تحديد دى ځكه چې هغه سبحانه وتعالى موجود دى نه د نورو موجوداتو په څېر، معلوم دى نه د نورو معلوماتو په څېر، نو همداسې د هغه كلام د نورو كلامونو په څېر نه دى.

قال الامام أبو حنيفة رحمه الله: وَنحن نتكلم بالآلات والحروف وَالله تعَالَى يتَكَلَّم بِلَا آلَة وَلَا حُرُوف.(۲)

ژباړه: امام ابو حنيفه رحمه الله تعالى ويلي دي: موږ په وسيلو او حروفو خبرې كوو خو الله تعالى بې له وسيلې او حروفو خبرې كوي.

## څوارلسمه عقيده: اللّٰه ﷻ دعاګانې قبلوي او حاجتونه پوره كوي.(۳)

لقوله تعالى:

﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِى عَنِّى فَإِنِّى قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِى وَلْيُؤْمِنُوا بِى لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ﴾(٤)

ژباړه: او كله چې پوښتنه وكړي (اې محمده!) له تا څخه بنده ګان زما (له لرېوالي او نژديوالي) زما نو بېشكه زه نژدې يم (دوى ته په علم او اجابت سره) قبلوم زه سوال د غوښتونكي په هغه وخت كې چې وبولي ما، نو ښايي چې دوى هم ومني حكم زما (طاعت) او ټينګ دې او سي په ايمان په ما باندې ښايي چې دوى په سمه لاره

(۱) فتح الرحمن في تفسير القران: ۲/۲۳۲ ط: دارالنوادر.
(۲) منح الروض الأزهر: ۱۰۹ ط: دار البشائر.
(۳) والله تعالى يستجيب الدعوات ويقضي الحاجات. العقيدة الطحاوية ص: ۲۸.
(٤) سورة البقرة: ۱۸۶.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



محکم پاتې شي:

﴿ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ﴾ (۱)

ژباړه: او فرمايي رب ستاسې (اې بنده ګانو زما!) تاسې وبولئ ما چې قبلوم تاسې ته (دعاء ستاسې) بې شکه هغه کسان چې تکبر (سرکشي) کوي له عبادت څخه زما ژر ده چې ننه به شي دوی په دوزخ کې په دې حال کې چې خوار او سپک به وي.

﴿ أَمَّنْ يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَاءَ الْأَرْضِ أَإِلَهٌ مَعَ اللَّهِ قَلِيلًا مَا تَذَكَّرُونَ ﴾ (۲)

ژباړه: بلکې هغه څوک (بهتر دی) چې قبلوي سوال د عاجز (بې کس، بې بس) کله چې وبولي دغه (مضطر) هغه (الله اکبر) او لرې کوي بدې سختۍ او ګرځوي (الله ﷻ) تاسې لره خليفه ګان په ځمکه کې (په ځای د تېرو خلکو) آيا شته بل معبود له الله سره؟ (نه نشته) لږ شانته پند قبلوئ (او غور چلوئ تاسې).

ولما روي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « يَنْزِلُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى كُلَّ لَيْلَةٍ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الْآخِرُ يَقُولُ: مَنْ يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ؟ مَنْ يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ؟ مَنْ يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ لَهُ؟ «وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: ثُمَّ يَبْسُطُ يَدَيْهِ وَيَقُولُ: «مَنْ يُقْرِضُ غَيْرَ عَدُومٍ وَلَا ظَلُومٍ؟ حَتَّى يَنفجر الْفَجْر. (۳)

ژباړه: له حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: نزول کوي الله ﷻ هره شپه د دنيا اسمان ته د شپې په آخري دريمه برخه کې او فرمايي: څوک شته چې له ما څخه سوال وکړي چې زه يې سوال قبول کړم؟ څوک شته چې له ما څخه بښنه وغواړي او زه يې وبښم، د مسلم په يو روايت کې دا الفاظ دي چې: بيا الله ﷻ د لطف او رحمت لاسونه خلاص کړي او وايي: څوک دی

---

(۱) سورة الغافر: ۶۰.

(۲) سورة النمل: ۶۲.

(۳) مشكوة المصابيح: ۳۸۶/۱، رقم الحديث: ۱۲۲۳.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



چې داسې ذات ته پور ورکړي چې نه خو فقير او نه ظالم دی؟ نو تر سهار کېدو
پورې الله ﷻ داسې فرمايي:

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لِيَسْأَلْ أَحَدُكُمْ رَبَّهُ حَاجَتَهُ كُلَّهَا حَتَّى يَسْأَلَهُ شِسْعَ نعله إذا انقطع» زَادَ فِي رِوَايَةٍ عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ مُرْسَلًا «حَتَّى يَسْأَلَهُ الْمِلْحَ وَحَتَّى يَسْأَلَهُ شِسْعَهُ إِذَا انقطع». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.(۱)

ژباړه: له حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: په کار ده چې تاسو خپل حاجتونه يوازې له الله ﷻ څخه وغواړئ تر دې چې د څپليو تسمه مو وشکېږي نو هغه هم له الله ﷻ څخه غواړئ، او د ثابت البناني رحمه الله په روايت کې دا الفاظ دي چې مالګه دې هم غواړي او تر دې چې د څپليو تسمه وشکېږي نو هغه دې هم له الله ﷻ څخه غواړي.

**پنځلسمه عقيده: اللّه ﷻ غني او د هر څه مالک دی، له اللّه ﷻ څخه څوک يوه شېبه هم بې احتياجه او مستغني کېدلای نه شي، که څوک ځان له اللّه ﷻ څخه مستغني کڼي هغه کافر دی.(۲)**

لقوله تعالی:

لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ وَإِنَّ ٱللَّهَ لَهُوَ ٱلْغَنِىُّ ٱلْحَمِيدُ.(۳)

ژباړه: خاص هم دغه (الله) لره دي هر څه چې په آسمانونو کې او هر څه چې په ځمکه کې دي (سره له اسمانونو او ځمکې خلقاً ملکاً وعبيداً) او بې شکه الله خامخا هم دی غني بې پروا دی (له مخلوقاتو خپلو) ښه ستايلی شوی (په صفاتو او افعالو کې).

---

(۱) مشکوة المصابيح: ۶۹۶/۲، رقم الحديث: ۲۲۵۱-۲۲۵۲.

(۲) ويملك كل شيء ولا يملكه شيء ولا غنى عن الله تعالى طرفة عين ومن استغنى عن الله طرفة عين فقد كفر وصار من أهل الحين. العقيدة الطحاوية ص: ۲۸.

(۳) سورة الحج: ۶۴.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



﴿قُلْ مَنْ بِيَدِهِ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ﴾(۱)

ژباړه: ووايه (اې محمده ﷺ! دوی ته چې) څوک دی هغه ذات چې په يد (بلا كيف) د ده کې پاچاهي تصرف دی د هر څيز او دی پناه ورکوي (مخلوقاتو ته) او پناه نه ورکول کيږي (په ضرر د) ده باندې که يئ تاسې چې پوهيږئ.

﴿تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾(۲)

ژباړه: ډېر برکت کوي هغه (الله ﷻ) چې په لاس (بلا كيف) د ده کې دی ملک سلطنت او هم دغه (الله ﷻ) پر هر څيز باندې (چې اراده وفرمايي) ښه قادر دی.

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَنْتُمُ الْفُقَرَاءُ إِلَى اللَّهِ وَاللَّهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ إِنْ يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ بِعَزِيزٍ﴾(۳)

ژباړه: اې خلکو! تاسې فقيران محتاجان يئ الله ته، او الله هم دی دی غني بې پروا ښه حمد ثناء ويلی شوی، که اراده وفرمايي (الله ﷻ) د بيولو ستاسې (په هلاک سره نو بو به موځي) او رابه ولي نور مخلوق نوی (بدل د تاسې) او نه دی دغه (شړل ستاسې او راوستل د نورو) پر الله څه سخت مشکل.

﴿وَاللَّهُ الْغَنِيُّ وَأَنْتُمُ الْفُقَرَاءُ وَإِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُونُوا أَمْثَالَكُمْ﴾(۴)

ژباړه: او الله غني بې پروا دی (له نفقې د تاسې او له هر څيزه) او تاسې فقيران محتاجان يئ (الله ﷻ ته)، او که وګرځيدئ تاسې (له ايمان او سخا نه نو الله ﷻ) به بدل کې راولي يو قوم بل بې له تاسې بيا به نه وي هغوی په شان د تاسې (ګرځيدونکي له احکامو د الله ﷻ بلکې فرمان بردار به وي.

---

(۱) سورة المؤمنون: ۸۸.
(۲) سورة الملک: ۱.
(۳) سورة الفاطر: ۱۵-۱۷.
(۴) سورة محمد: ۳۸.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## شپارسمه عقیده: الله ﷻ په غضب کیږي او راضي کیږي، غضب او رضایې د خلکو په څېر نه ده.(۱)

لقوله تعالی:

وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ وَبَاءُوا بِغَضَبٍ مِنَ اللَّهِ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ بِغَيْرِ الْحَقِّ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ.(۲)

ژباړه: او مقرر کړی شو پر دوی (د نعمت د کفران او په خپل قسمت د نارضایۍ په سبب) ذلت او محتاجي او اخته شول دوی په غضب له (جانبه د) الله، دا (خواري او عاجزي) په سبب د دې وه چې بې شکه دوی وو کافران (منکران) په آیتونو (احکامو) د الله او وژل به یې انبیاء (لکه شعیب، زکریا او یحیی علی نبینا و علیهم السلام) په ناحقه سره دا (کفر او قتل) په دې سبب و چې سرکشي یې کوله (له احکامو د الله نه) او وو دوی چې له حدودو به تیریدل (د عصیان په سبب).

لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنْزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا.(۳)

ژباړه: خامخا راضي او خوښ شوی دی الله تعالی له مؤمنانو نه هغه وخت چې بیعت یې کاوه له تا سره د لاندې د ونې، بیا معلوم کړ (الله ﷻ په ظاهري علم سره هم) هغه (اخلاص) چې په زړونو د دوی کې و. بیا راښکته کړه (الله ﷻ) سکینه او ډاډینه (سکون) پر دوی باندې او عوض یې ورکړ (الله ﷻ) دوی ته بری نژدې، (چې فتح د خیبر ده) او ولجې (غنیمت) ډیرې چې وابه خلي دوی هغه (ولجې).

لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ.(۴)

(۱) والله يغضب ويرضى لا كأحد من الورى. العقيدة الطحاوية ص: ۲۸.
(۲) سورة البقرة: ۶۱.
(۳) سورة الفتح: ۱۸.
(۴) سورة الشورى: ۱۱.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: نشته په شان د دغه (الله ﷻ) هیڅ څیز (په هیڅ څیز کې) او هم دغه (الله ﷻ) دی ښه اوریدونکی (د ټولو اقوالو) ښه لیدونکی (د ټولو اعمالو).

ولما روي:

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «رِضَى الرَّبِّ فِي رِضَى الْوَالِدِ، وَسَخَطُ الرَّبِّ فِي سَخَطِ الْوَالِدِ». [۱]

ژباړه: رسول کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي: د الله ﷻ رضامندي د پلار په رضامندۍ کې ده او د الله ﷻ ناراضګي د پلار په ناراضګۍ کې ده.

يد الله صفة من صفاته تعالى كالسمع والبصر والوجه لا يدرى كنهها الا الله تعالى ولا تذهب نفسك الى الجارحة وتكيّفها ويجب على العباد الايمان بها والتسليم قال ائمة السلف من اهل السنة فى هذه الصفات امرّوا كما جاءت بلا كيف. [۲]

ژباړه: «يد» د الله ﷻ له صفاتو يو صفت دی، لکه: «سمع، بصر، وجه» چې يې صفتونه دي، د دې صفتونو په حقيقت له الله ﷻ پرته څوک نه پوهيږي. ستا خيال دې د دې صفاتو خرنګوالي او (انساني) غړي ته نه ځي، او پر بنده ګانو د دې صفاتو منل او ايمان پر لرل واجب دي، د اهل سنت سلفو فرمايلي: دا صفات چې څنګه راغلي همداسې له کيفيت بيانولو پرته (پر خپل) پرېږدئ.

فَلَمْ يَبْقَ إِلَّا أَنْ تُحْمَلَ عَلَى صِفَتَيْنِ تَعَلَّقَتَا بِخَلْقِ آدَمَ تَشْرِيفًا لَهُ دُونَ خَلْقِ إِبْلِيسَ تَعَلُّقَ الْقُدْرَةِ بِالْمَقْدُورِ، لَا مِنْ طَرِيقِ الْمُبَاشَرَةِ وَلَا مِنْ حَيْثُ الْمُمَاسَّةُ. [۳]

ژباړه: نو (هيڅ تاويل) پاته نه شو، يوازې دا چې (يد) د هغه (آدم عليه السلام) د تشريف (عزتمندي) په موخه د هغه دوه صفتونو په معنی واخلو چې (يوازې) د آدم عليه السلام له تخليق سره اړه لري، نه د شيطان له تخليق سره (دا) تعلق نه د مباشرت له لارې دی، او نه هم د مماسيت (موښتلو) په ډول دی، (بلکې داسې

(۱) سنن الترمذي: ۴/ ۳۱۰، رقم الحديث: ۱۸۹۹ ط: مطبعة مصطفى الحلبي- مصر.
(۲) التفسير المظهري: ۳/ ۱۴۰. ط رشيدية.
(۳) تفسير القرطبي: ۶/ ۲۳۹ ط: دار الكتب المصرية – القاهرة.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library


تعلق دی) لکه له مقدور سره د قدرت تعلق.

ثم لا يحتمل أن يفهم من إضافة اليد إلى الله ما يفهم من الخلق؛ لما وجد إضافة اليد إلى من لا يحتمل أن يكون له اليد، من ذلك قوله – تعالى –: (لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ) لا يفهم من القرآن اليد كما يفهم من الخلق؛ فعلى. ذلك لا يجوز أن يفهم من إضافة اليد إلى الله – تعالى – كما يفهم من الخلق؛ ألا ترى أنه قال: (ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدَاكَ)، (فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ)، لم يفهم منه اليد نفسها؛ وكذلك قوله: (ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيكُمْ)، لكن أضيف ذلك إلى اليد؛ لما باليد يقدم ويعطي ويكسب؛ ألا ترى أنه قال – تعالى –: (لَا تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ)، ومعلوم أنه لم يفهم من اليد: اليد نفسها، ولكن أضيف ذلك إليها؛ لما ذكرنا، والله أعلم.[1]

ژباړه: نو دا احتمال نه لري چې الله ﷻ ته له شوي نسبت «يد» څخه (هغه معنی واخيستله شي) چې مخلوق (ته د «يد» له نسبت) څخه اخيستله کېږي؛ دا ځکه چې د «يد» نسبت داسې شي ته هم شوی چې هلته دا احتمال نشته چې د هغه دې لاس وي. لکه: الله ﷻ (د قرآن کريم په هکله) فرمايي: (لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ). دلته له قرآن کريم څخه داسې لاس نه پهميږي، کوم چې له خلکو څخه پهميږي؛ نو ځکه دا جائز نه ده چې الله ﷻ ته له شوي نسبت «يد» څخه (هغه معنی واخيستله شي) چې مخلوق (ته د «يد» له نسبت) څخه اخيستله کېږي؛ ته نه ګورې چې الله ﷻ (انسان ته نسبت شوی لاس هم په داسې معنی ياد کړی چې خپله لاس ترې مراد نه دی) لکه فرمايي: (ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدَاكَ)، (فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ)، دلته خپله لاس ترې مراد نه دي (بل انسان مراد دی) او همدا راز الله ﷻ فرمايي: (ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيكُمْ) (دلته مراد خپله انسانان دي) خو لاس «يد» ته يې ځکه نسبت شوی؛ چې (انسان) په لاس (يو شیء) وړاندې کوي، ورکوي، او ترلاسه کوي، او ته نه ګورې الله ﷻ (بل ځای) فرمايي: (لَا تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ) ښکاره خبره ده چې دلته له «يد» توري څخه خپله لاس مراد نه دی، خو بيا هم نسبت ورته شوی دی، له هغې وجې چې موږ يې يادونه وکړه. والله أعلم.

(١) تفسيرالماتريدي: ٣/٥٥١-٥٥٢ ط دارالكتب العلمية، بيروت.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



**اوولسمه عقیده: د الله ﷻ صفتونه د مخلوق د صفتونو په شان نه دي.[1]**

لقوله تعالی:

لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ.[2]

ژباړه: نشته په شان د دغه (الله ﷻ) هیڅ څیز (په هیڅ څیز کښې) او هم دغه (الله ﷻ) دی ښه اوریدونکی (د ټولو اقوالو) ښه لیدونکی (د ټولو اعمالو).

وکما قال الامام الاعظم رحمه الله: وصفاته کلها بخلاف صفات المخلوقین یعلم لا کعلمنا ویقدر لا کقدرتنا ویری لا کرؤیتنا ویتکلم لا ککلامنا ویسمع لا کسمعنا.[3]

**اتلسمه عقیده: موږ د الله ﷻ په ذات کې خبرې نه کوو.[4]**

لقوله تعالی:

وَالَّذِينَ يُحَاجُّونَ فِي اللَّهِ مِنْ بَعْدِ مَا اسْتُجِيبَ لَهُ حُجَّتُهُمْ دَاحِضَةٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَعَلَيْهِمْ غَضَبٌ وَلَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ.[5]

ژباړه: او هغه کفار چې مخاصمه جګړې کوي په (دین د) الله کې وروسته دې نه چې قبولوالی کړی شوی دی (حکم د) دغه (الله ﷻ) لره، خصومت حجت د دوی باطل دی په نزد د رب د دوی او پر دوی غضب دی (د الله ﷻ) او شته دوی ته عذاب ډېر سخت

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُجَادِلُ فِي اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّبِعُ كُلَّ شَيْطَانٍ مَرِيدٍ.[6]

---

(۱) ومن وصف الله بمعنی من معاني البشر فقد کفر، فمن أبصر هذا اعتبر، وعن مثل قول الکفار انزجر، وعلم أنه بصفاته لیس کالبشر. العقیدة الطحاویة ص:۱۳.

(۲) سورة الشوری: ۱۱.

(۳) الفقه الأکبر: ۲۴ ط: مکتبة الفرقان.

(٤) ولا نخوض في الله. العقیدة الطحاویة ص: ۲۰.

(۵) سورة الشوری: ۱۶.

(٦) سورة الحج: ۳.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: او ځيني له خلکو څخه هغه دي چې جګړه کوي په (حق او خبرو د) الله کې بې له پوهې (له خپلې ناپوهۍ) او متابعت کوي د هر شيطان سرکش

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُجَادِلُ فِي اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَلَا هُدًى وَلَا كِتَابٍ مُنِيرٍ ثَانِيَ عِطْفِهِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ لَهُ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَنُذِيقُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَذَابَ الْحَرِيقِ [1]

ژباړه: او ځيني له خلکو چې جګړه کوي په (حق يا قدر يا کلام د) الله کې بې له پوهې او بې له دليله، لياري سمې او بې له کتابه روښانه په داسې حال کې چې اړوي څنګ خپل (له ايمانه په تکبر او اعراض سره او جګړې کوي) چې ګمراه کړي خلق له لارې د الله، شته ده لره په دنيا کې رسوايي او وبه څکوو مونږ ده لره په ورځ د قيامت کې عذاب (د اور) سوځوونکی.

### نولسمه عقيده: الله ﷻ د هر څه خالق (پيدا کوونکی) دی.[2]

لقوله تعالی:

ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ فَاعْبُدُوهُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ [3]

ژباړه: هم دغه (ذات موصوف په دغو صفاتو سره) الله دی رب ستاسې، نشته هيڅ معبود (لائق د عبادت) مګر هم دی، پيدا کوونکی دی د هر شي نو عباد کوئ د دغه (الله يوازې) او هم دی پر هر شي وکيل (ساتونکی کار جوړوونکی) دی.

لَهُ مَقَالِيدُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ اللَّهِ أُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ [4]

ژباړه: خاص هم دغه الله لره دي کليګانې (چابيانې) د (خزانو) د اسمانونو او د ځمکې، او هغه کسان چې کافران شوي دي په آيتونو (دلائلو د قدرت) د الله، دغه کسان هم دوی زيانکاران دي (چې ځای يې ابدي دوزخ دی).

---

(۱) سورة الحج: ۸،۹.
(۲) خالق بلا حاجة.العقيدة الطحاوية ص: ۹.
(۳) سورة الأنعام: ۱۰۲.
(٤) سورة الزمر: ۶۲.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



**شلمه عقيده: مرګ او ژوند پیداځې د الله ﷻ په اختیار کې دي.(١)**

لقوله تعالى:

﴿قُلِ اللَّهُ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ﴾(٢)

ژباړه: ووايه (اې محمده ﷺ! دوی ته) چې الله ژوندي کوي تاسې بيا مړه کوي تاسې بيا به سره راټول وي تاسې ورځې د قيامت ته چې نشته هيڅ شک په (راټلو د) هغې کې، وليکن زياتره (کافران) خلق نه پوهيږي (نو ځکه ترې انکار کوي).

﴿الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ﴾(٣)

ژباړه: هغه (الله) چې پيدا کړې يې دی مرګ او ژوندون.

**يوويشتمه عقيده: رزق ورکول پوازې د الله ﷻ په اختيار کې دی.(٤)**

لقوله تعالى:

﴿إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ﴾(٥)

ژباړه: بې شکه الله، هم دی ښه رزق روزي ورکوونکی دی څښتن (خاوند) د قوت محکم مضبوط دی.

﴿وَاللَّهُ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ﴾(٦)

---

(١) مميت بلا مخافة باعث بلا مشقة. العقيدة الطحاوية ص: ٩.
(٢) سورة الجاثية: ٢٦.
(٣) سورة الملک: ٢.
(٤) رازق بلا مؤنة. العقيدة الطحاوية ص: ٩.
(٥) سورة الذاريات: ٥٨.
(٦) سورة البقرة: ٢١٢.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: او الله روزي ورکوي هغه چا لره چې اراده وکړي بې له حسابه (د بېره پراخه)

اللَّهُ لَطِيفٌ بِعِبَادِهِ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيزُ. (۱)

ژباړه: الله د پر لطف کوونکی ښه مهربان دی پر بنده ګانو خپلو، رزق روزي ورکوي (الله) هغه چا ته چې اراده وفرمايي او هم دی قوي زورور ښه زبردست د پر غالب دی.

(۱) سورة الشورى: ۱۹.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



# د اسلام په هکله عقائد

## دوه ويشتمه عقيده: اسلام حق دين دى.[١]

لقوله تعالى:

إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ.[٢]

ژباړه: بې شکه دين (چې په اديانو کې غوره دى) په نزد د الله دين د اسلام (يعني محمدي شريعت) دى.

وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ.[٣]

ژباړه: او هر څوک چې غواړي غير له اسلامه (چې توحيد او د الله احکامو ته انقياد دى) بل دين نو له سره به ونه منه شي له ده نه، حال دا چې وي به دى په آخرت کې له زيانکارانو څخه (چې د اسلام د پرېښودلو په سبب به تل په دوزخ کې پاتې کيږي).

## درويشتمه عقيده: په ځمکه او اسمانونو کې د الله ﷻ په نزد حق دين يوازې اسلام دى.[٤]

لقوله تعالى:

وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ.[٥]

ژباړه: او هر څوک چې غواړي غير له اسلامه (چې توحيد او د الله احکامو ته انقياد دى) بل دين نو له سره به ونه منه شي له ده نه، حال دا چې وي به دى په آخرت کې له

---

(١) ودين الله في الأرض والسماء واحد وهو دين الإسلام قال الله تعالى: (إن الدين عند الله الإسلام) وقال تعالى: (ورضيت لكم الإسلام دينا). العقيدة الطحاوية ص: ٣١.

(٢) سورة آل عمران: ١٩.

(٣) سورة آل عمران: ٨٥.

(٤) ودين الله في الأرض والسماء واحد وهو دين الإسلام قال الله تعالى: (إن الدين عند الله الإسلام) وقال تعالى: (ورضيت لكم الإسلام دينا). العقيدة الطحاوية ص: ٣١.

(٥) سورة آل عمران: ٨٥.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



زيانكارانو څخه (چې د اسلام د پرېښودلو په سبب به تل په دوزخ کې پاتې کيږي).

الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا.(۱)

ژباړه: نن ورځ مکمل (پوره) کړ ما تاسې ته دين ستاسې (اصولا وفروعا) او تمام (پوره) مې کړ پر تاسې (اې مؤمنانو!) نعمت (د دين په اکمال) او غوره کړ ما تاسې ته اسلام له جهت د دين (ډېر پاکيزه په ټولو اديانو کې).

هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِنْ قَبْلُ وَفِي هَذَا لِيَكُونَ الرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ.(۲)

ژباړه: دغه (الله) ونوموله تاسې مسلمانان پخوا (له دغه قرآن څخه په نورو آسماني کتابونو کې) او په دغه (قرآن) کې (هم) لپاره د دې چې رسول (ستاسې محمد) شاهد (ښوونکی) په تاسې (د تبليغ خپل) او چې شئ تاسې (اې مسلمانانو!) شاهدان (ښوونکي) په نورو خلکو (د تبليغ د نورو انبياوو).

ولما روي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَوْلَى النَّاسِ بِعِيسَى بْنِ مَرْيَمَ فِي الْأُولَى وَالْآخِرَةِ الْأَنْبِيَاءُ أَخْوَةٌ مِنْ عَلَّاتٍ وَأُمَّهَاتُهُمْ شَتَّى وَدِينُهُمْ وَاحِدٌ وَلَيْسَ بَيْنَنَا نَبِي. مُتَّفَق عَلَيْهِ(۳)

ژباړه: له حضرت ابو هريره رضی الله تعالی عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په دنيا او آخرت کې زه حضرت عيسی بن مريم عليهما السلام ته ډېر نژدې او متصل يم (د دواړو په منځ کې د بل نبي فاصله نشته او په آخر کې به عيسی عليه السلام د رسول الله ﷺ نائب وي) انبياء ميرني وروڼه دي يعني د ټولو پلار يو دی او ميندې مختلفې دي او د ټولو انبياوو دين يو دی او زموږ په منځ کې څوک نبي نشته (يعني د حضرت عيسی عليه السلام او حضرت محمد ﷺ په منځ کې بل نبي نشته).

(۱) سورة المائدة: ۳.
(۲) سورة الحج: ۷۸.
(۳) مشكوة المصابيح: ۱۵۹۴/۳، رقم الحديث: ۵۷۲۲.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



**څلور ویشتمه عقیده: مونږ د الله ﷻ په دین کې بې ځایه بحثونه نه کوو.**(۱)

لقوله تعالی:

وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ الشَّيْطَانُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَى مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ.(۲)

ژباړه: او کله چې ووینې ته هغه کسان چې جګړې کوي (طعن ورپورې تړي مسخرې پرې کوي ننوځي غوتې وهي) په ایتونو زمونږ کې نو مخ واړوه له دوی نه (او ورسره مه کښینه او که ناست وې تړې پاڅېږه) تر هغې پورې چې مشغول شي دوی په خبرو (نورکې) غیر له قرآن څخه او که هېر کړي له تا نه (دا اعراض او ځنګ کول) شیطان نو مه کښېنه وروسته له یادېدلو (د دې منعې) سره له قوم ظالمانو.

ولما روي:

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا ضَلَّ قَوْمٌ بَعْدَ هُدًى كَانُوا عَلَيْهِ إِلَّا أُوتُوا الْجَدَلَ».(۳)

ژباړه: له حضرت ابو امامه رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د هدایت تر لاسه کولو او پر هدایت باندې قائم پاته کېدو وروسته هیڅ یو قوم ګمراه شوی نه دی مګر دا چې (په دین کې) د ناحق جدل او جګړو ښکار شول (نو بیا ګمراهان شول)

---

(۱) ولا نماري في دين الله. العقيدة الطحاوية ص: ۲۰.
(۲) سورة الأنعام: ۶۸.
(۳) مشكوة المصابيح: ۱/۶۳، رقم الحديث: ۱۸۰.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا تُمَارِ أَخَاكَ وَلَا تُمَازِحْهُ وَلَا تَعِدْهُ مَوْعِدًا فَتُخْلِفَهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.(۱)

ژباړه: حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما له نبي ﷺ څخه روایت کوي چې نبي ﷺ وفرمایل: له خپل ورور سره منازعه او جګړه مه کوه، مه ورسره ټوکې کوه او مه ورسره وعده کوه چې بیا یې خلاف کوې.

عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم: «من ترك الْكَذِبَ وَهُوَ بَاطِلٌ بُنِيَ لَهُ فِي ربض الْجنَّة وَمن ترك المراء وَهُوَ مُحِقٌّ بُنِيَ لَهُ فِي وَسَطِ الْجَنَّةِ وَمَنْ حَسَّنَ خُلُقَهُ بُنِيَ لَهُ فِي أَعْلَاهَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.(۲)

ژباړه: حضرت انس رضی الله تعالی عنه وایې چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې باطل دروغ ویل پرېږدي نو د هغه لپاره د جنت پر غاړه یو ماڼۍ تیارېږي او څوک چې پر حق وي پر هغه سربېره جګړه پرېږدي د هغه لپاره د جنت په منځ کې ماڼۍ تیارېږي او چا چې خپل اخلاق ښه کړل د هغه لپاره د جنت په لوړو کې ماڼۍ جوړېږي.

---

(۱) مشکوة المصابیح: ۱۳۷۱/۳، رقم الحدیث: ۴۸۹۲.
(۲) مشکوة المصابیح: ۳/ ۱۳۵۹، رقم الحدیث: ۴۸۳۱.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



**پنځويشتمه عقيده: اسلام د افراط او تفريط، د تشبيه او تعطيل، د جبر او قدر، د أمن او يأس ترمنځ دی.**(١)

لقوله تعالی:

﴿قُلْ يَاأَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ غَيْرَ الْحَقِّ﴾(٢)

ژباړه: ووايه (اې محمده ﷺ!) چې اې اهل د کتابو! مه کوئ تجاوز (له حده او مه کوئ مبالغه) په (خبره) د دين خپل کې په ناحقه سره.

﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴾(٣)

ژباړه: نشته په شان د دغه (الله ﷻ) هيڅ څيز (په هيڅ څيز کې) او هم دغه (الله ﷻ) دی ښه اوريدونکی (د ټولو اقوالو) ښه ليدونکی (د ټولو اعمالو).

﴿وَلَا تَيْأَسُوا مِنْ رَوْحِ اللَّهِ إِنَّهُ لَا يَيْأَسُ مِنْ رَوْحِ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكَافِرُونَ﴾(٤)

ژباړه: او مه نااميده کيږئ له فيضه د الله بې شکه شان دا دی چې نه نااميده کيږي له فيضه د الله څخه مګر قوم کافران (منکران له الله او صفاتو د الله).

﴿أَفَأَمِنُوا مَكْرَ اللَّهِ فَلَا يَأْمَنُ مَكْرَ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْخَاسِرُونَ﴾(٥)

ژباړه: آيا نو په امن کې دي دوی (بلکې نه دي) له مکره (ناڅاپه نيولو) د الله، نو نه په امن کيږي له مکره د الله مګر قوم زيانکاران (په کفر او نفاق سره).

ولما روي:

---

(١) وهو بين الغلو والتقصير وبين التشبيه والتعطيل وبين الجبر والقدر وبين الأمن والإياس. العقيدة الطحاوية ص: ٣٢.

(٢) سورة المائدة: ٧٧.

(٣) سورة الشورى: ١١.

(٤) سورة يوسف: ٨٧.

(٥) سورة الأعراف: ٩٩.

Scanned with CamScanner

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقُولُ جَاءَ ثَلَاثَةُ رَهْطٍ إِلَى بُيُوتِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُونَ عَنْ عِبَادَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا أخبروا كَأَنَّهُمْ تقالوها فَقَالُوا وَأَيْنَ نَحْنُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ قَالَ أحدهم أما أنا فإني أُصَلِّي اللَّيْلَ أبدا وَقَالَ آخر أَنَا أصوم الدَّهْرَ وَلَا أفطر وَقَالَ آخر أَنَا أَعْتَزِلُ النِّسَاءَ فَلَا أَتَزَوَّجُ أَبَدًا فَجَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِمْ فَقَالَ: «أَنْتُمُ الَّذِينَ قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا أَمَا وَاللَّهِ إِنِّي لَأَخْشَاكُمْ لِلَّهِ وَأَتْقَاكُمْ لَهُ لَكِنِّي أَصُومُ وَأُفْطِرُ وَأُصَلِّي وَأَرْقُدُ وَأَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي». (١)

ژباړه: له حضرت انس رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې درې نفره د رسول الله ﷺ د بیبیانو په خدمت کې د دې لپاره حاضر شول چې هغوی د رسول الله ﷺ د عبادت د حال پوښتنه وکړي کوم وخت چې هغوی ته د رسول الله ﷺ د عبادت حال بیان کړی شو نو هغوی د رسول الله ﷺ عبادت کم وګاڼه او په خپلو کې یې وویل: د رسول الله ﷺ په مقابله کې موږ څه یو الله پاک خو د هغه مخکې او وروسته ګناهونه معاف کړي دي د دې په اوریدو سره په هغوی کې یوه وویل: اوس به زه همیشه ټوله شپه لمونځ کوم دوهم کس وویل: او زه به همیشه د ورځې روژه نیسم او هیڅکله به یې نه ماتوم دریم کس وویل: زه به د ښځو څخه بیل اوسم او هیڅ کله به نکاح نه کوم په خپلو کې یې دا خبرې کولې چې رسول الله ﷺ تشریف راوړ او هغوی ته یې وفرمایل: آیا تاسو داسې ویلي دي؟ تاسو ته دې معلومه وي چې ستاسو څخه زیات زه د الله ﷻ څخه بیریږم او ستاسو څخه زیاته تقوی کوم سره ددې روژه هم نیسم او ماتوم یې هم، د شپې لمونځ هم کوم او بیده کیږم هم، او د ښځو سره نکاح هم کوم نو کوم سړی چې زما د طریقې څخه مخ اړوي هغه زما څخه نه دی.

---

(١) مشكوة المصابيح: ١/٥٢، رقم الحديث: ١٤٥.

✍ عن ابن عباس رضي الله عنهما أنه قال: قال لي رسول الله صلى الله عليه وسلم غداة العقبة: «هات القط لي حصيات من حصى الخذف» . فلما وضعن في يده قال: «بأمثال هؤلاء، بأمثال هؤلاء، وإياكم والغلو في الدين، فإنما هلك من كان قبلكم بالغلو في الدين». (المستدرك علي الصحيحن للحاكم: ١/٦٣٧)

ketabton.com - The Digital Library



عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال: إِنِّي لَمْ أُبْعَثْ بِالْيَهُودِيَّةِ وَلَا بِالنَّصْرَانِيَّةِ وَلَكِنِّي بُعِثْتُ بِالْحَنِيفِيَّةِ السَّمْحَةِ.(١)

ژباړه: زه خو نه د يهوديت خپرولو لپاره رالېږل شوی يم او نه هم د نصرانيت خپرولو لپاره، بلکې پاک صفا شريعت سره رالېږل شوی يم چې آسان دين دی.

شپږويشتمه عقيده: په دين کې ثابت قدمي اسلام ته په ځان سپارلو کې نغښتې ده.(٢)

لقوله تعالى:

وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ.(٣)

ژباړه: او هغه کسان چې پاخه دي په علم کې وايي دوی چې ايمان راوړی دی (باور او يقين لرو) مونږ په دې (متشابه چې په معنا يې نه پوهېږو، په مثل د ايمان زمونږ په محکم باندې چې دواړه حق دي) دا ټول (محکم او متشابه) له طرفه د رب زمونږ دي او پند نه اخلي (په دې) مګر (خو پند اخلي) خاوندان د عقلونو (خالصو).

(١) مشكوة المصابيح: ٢/ ١١٣٠، رقم الحديث: ٣٨٤٩.

أورد الامام البخاري رحمه الله في صحيحه حديثا معلقا في كتاب الايمان تحت باب: الدين يسر: «أحب الأديان إلى الله الحنيفية السمحة» (صحيح البخاري: ١/ ١٦) قال الحافظ ابن حجر في الفتح (١/ ٩٤): وصله أحمد بن حنبل وغيره من طريق محمد بن إسحاق عن داود بن الحصين عن عكرمة عن ابن عباس، وإسناده حسن، وقال الهيثمي (١/ ٦٠): رواه أحمد والطبراني في الكبير والأوسط والبزار، وفيه ابن إسحاق، وهو مدلس ولم يصرح بالسماع.

(٢) ولا تثبت قدم الاسلام (أي: استقرار الاسلام ورسوخه) الا على ظهر التسليم والاستسلام. العقيدة الطحاوية ص: ١٤.

(٣) سورة آل عمران: ٧.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ.(۱)

ژباړه: اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې اې مؤمنانو!) ټول په اسلام کې (د هغه له ټولو شرائطو سره) ټول، او مه کوئ پیروي د (اثر د) قدمو د شیطان، بې شکه دا (شیطان) تاسې لره دښمن دی ښکاره.

(۱) سورة البقرة: ۲۰۸.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



# پر ملائکه وو ایمان

اوویشتمه عقیده: ملائکه د الله ﷻ غوره مخلوق دي، له نور څخه پیدا دي، د الله ﷻ فرمانبرداره دي، نه خوراک کوي نه څښاک، نه نارینه دي او نه هم ښځینه. (۱)

لقوله تعالى:

وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَٰنُ وَلَدًا سُبْحَانَهُ بَلْ عِبَادٌ مُكْرَمُونَ لَا يَسْبِقُونَهُ بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِأَمْرِهِ يَعْمَلُونَ. (۲)

ژباړه: او وایي دغه (منکران) نیولی دی رحمن ولد، پاک دی دغه (الله ﷻ له ولد څخه) بلکې (دوی) بنده ګان (د الله ﷻ) دي مکرم مقرب معزز (د الله ﷻ) په دربار کې په عزت سره، چې نه شي ړومبی (مخته) کېدی دوی له دغه (الله ﷻ) څخه په خبره سره او دوی خاص په حکم د الله عمل کوي.

عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ. (۳)

ژباړه: په دې اور باندې مقرري دي پرښتې کلکې قوتناکې زبردستې، نه کوي نافرماني دغه (پرښتې) له الله د هغه څه چې امر يې کړی دی دوی ته، او کوي دوی هغه کار چې پرې ماموري وي (من جانب الله ﷻ).

فَلَمَّا رَأَىٰ أَيْدِيَهُمْ لَا تَصِلُ إِلَيْهِ نَكِرَهُمْ وَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً قَالُوا لَا تَخَفْ إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَىٰ قَوْمِ لُوطٍ. (۴)

ژباړه: نو کله چې ولیده (ابراهیم علیه السلام) لاسونه د دوی چې نه رسیږي دغې (وریتي [کباب] غوښې) ته نو نا اشنا يې وګڼل (او ويې نه پېژندل) دوی او په زړه کې يې راوسته له دوی نه ویره، وویل (ملائکو) چې مه ویرېږه بېشکه چې مونږ

(۱) ونؤمن بالملائكة. العقيدة الطحاوية ص: ۲۰.
(۲) سورة الأنبياء: ۲۶، ۲۷.
(۳) سورة التحريم: ۶.
(۴) سورة هود: ۷۰.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



لیږلي شوي یو قوم د لوط ته (چې هلاک یې کړو).

وَجَعَلُوا الْمَلَائِكَةَ الَّذِينَ هُمْ عِبَادُ الرَّحْمَٰنِ إِنَاثًا ۚ أَشَهِدُوا خَلْقَهُمْ ۚ سَتُكْتَبُ شَهَادَتُهُمْ وَيُسْأَلُونَ. (۱)

ژباړه: او ګرځوي (کفار) پرښتې هغه چې دوی عباد الرحمن (د الله ﷻ بنده ګان) دي ښځې (لوڼې د الله ﷻ)، آیا حاضر وو (دغه کفار په وخت د) پیدا کېدلو د دغو پرښتو کې (چې ښځې لوڼې پیدا شوي دي) ژر ده چې وبه لیکلی شي شاهدي د دوی او پوښتنه به هم ترې وکړی شي (په آخرت کې).

إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ لَيُسَمُّونَ الْمَلَائِكَةَ تَسْمِيَةَ الْأُنْثَىٰ. (۲)

ژباړه: بې شکه هغه کسان چې ایمان نه راوړي په آخرت باندې خامخا نوموونه ږدي پر ملائکو باندې په نوم اېښودلو د ښځو سره.

ولما روي:

عَنْ عَائِشَةَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «خُلِقَتِ الْمَلَائِكَةُ مِنْ نُورٍ وَخُلِقَ الْجَانُّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ وَخُلِقَ آدَمُ مِمَّا وصف لكم». رَوَاهُ مُسلم. (۳)

ژباړه: حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها له رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ملائکې د نور څخه پیدا کړی شوي دي او پیریان د اور د شغلو څخه پیدا کړی شوي دي او آدم علیه السلام د هغه شي څخه پیدا کړی شوی دی چې تاسو ته یې بیان شوی دی.

---

(۱) سورة الزخرف: ۱۹.

(۲) سورة النجم: ۲۷.

(۳) مشكاة المصابيح ۳/ ۱۵۸۹ رقم الحديث ۵۷۰۱. صحيح مسلم: ۲۲۹۴/۴، رقم الحديث: ۲۹۹۶، وأخرجه أيضا أحمد: ۶/ ۱۵۳، رقم الحديث: ۲۵۲۳۵.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



**اتــه ویشــتمه عقیــده: دوی تــه دا طاقــت ورکــول شــوی چــې پــه بیلابیلو شــکلونو ښــکاره شي.**

لقوله تعالى:

﴿فَأَرْسَلْنَا إِلَيْهَا رُوحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا﴾(۱)

ژباړه: نو ولېږه مونږ دې ته (پس له غسل او اغوستلو د جامو) روح خپل، پس شکل خپل يې جوړ کړ دې ته د سړي کامل (تام الخلقة د نوراني ژلمي).

ولما روي:

عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ الحَارِثَ بْنَ هِشَامٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، كَيْفَ يَأْتِيكَ الوَحْيُ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «أَحْيَانًا يَأْتِينِي مِثْلَ صَلْصَلَةِ الجَرَسِ، وَهُوَ أَشَدُّهُ عَلَيَّ، فَيُفْصَمُ عَنِّي وَقَدْ وَعَيْتُ عَنْهُ مَا قَالَ، وَأَحْيَانًا يَتَمَثَّلُ لِيَ المَلَكُ رَجُلًا فَيُكَلِّمُنِي فَأَعِي مَا يَقُولُ».(۲)

ژباړه: حارث بن هشام له رسول کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې اې د الله رسوله! تاسو ته وحي څنګه راځي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: کله خو د هغه آواز د شپيلکي په څېر وي دا پر ما سخت ترين وحي وي بيا وحي موقوف شي او څه چې ما د ملائکې څخه اوريدلې وي هغه ياد کړم، او کله داسې وي چې د وحي ملائکې د يو سړي په شکل ما ته راشي او زما سره خبرې کوي او څه چې زه واورم هغه ياد کړم.

---

(۱) سورة مريم: ۱۷.

(۲) صحيح البخاري: ۱/۶، رقم الحديث: ۲، وأخرجه أيضا مالك: ۱/۲۰۲، رقم الحديث: ۴۷۵، وأحمد: ۶/۱۵۸، رقم الحديث: ۲۵۲۹۱.

Scanned with CamScanner

## نهه ویشتمه عقیده: له هر انسان سره د حفاظت لپاره ملائکه شته.

لقوله تعالی:

لَهُ مُعَقِّبَاتٌ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ يَحْفَظُونَهُ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ.(۱)

ژباړه: انسان لره (له جانبه د الله ﷻ ملائکې دي) نوبت په نوبت راتلونکي دي یو‌ه له بلې پسې، د مخې له طرفه د دغه (انسان) او د شا له طرفه د دغه (انسان) چې ساتنه کوي د ده په امر حکم د الله سره.

ولما روي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسلم قَالَ: «يَتَعَاقَبُونَ فِيكُمْ مَلَائِكَةٌ بِاللَّيْلِ وَملَائِكَةٌ بِالنَّهَارِ وَيَجْتَمِعُونَ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ وَصَلَاةِ الْعَصْرِ ثُمَّ يَعْرُجُ الَّذِينَ بَاتُوا فِيكُمْ فَيَسْأَلُهُمْ رَبُّهُمْ وَهو أَعْلَمُ بِهِمْ كَيْفَ تَرَكْتُمْ عِبَادِي فَيَقُولُونَ تَرَكْنَاهُمْ وَهُمْ يصلونَ وأتيناهم وهم يصلونَ». متفق عليه(۲)

ژباړه: له حضرت ابوهریره رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ستاسو سره د شپې او د ورځې ملائکې ځي راځي او دا ملائکې یو ځای کیږي د سهار او مازدیګر په لمونځونو کې هغه ملائکې چې ستاسو سره وي کله چې بیرته ولاړې شي نو د هغوی څخه د هغوی رب پوښتنه کوي حال دا چې رب د هغو څخه زیات پوهیدونکی دی چې تاسو زما بنده ګان په کوم حال کې پرېښودل؟ هغوی وایې: موږ هغوی د لمانځه په حالت کې پرېښودل او کوم وخت چې موږ هغوی ته ورغلو نو هغه وخت یې هم لمونځ کاوه.

---

(۱) سورة الرعد: ۱۱.

(۲) مشكوة المصابيح: ١/١٩٧، رقم الحديث: ٦٢٦، وأخرجه أيضا مسلم: ١/٤٣٩، رقم الحديث: ٦٣٢، والنسائي: ١/٢٤٠، رقم الحديث: ٤٨٥.

ketabton.com - The Digital Library

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



**دېرشـمه عقيـده: مـوږ پـر «کراماً کاتبيـن» ايمـان لـرو، چـې الله ﷻ دوی زمـوږ د اعمالـو سـاتونکي او ليکونکـي مقـرري کـړي دي.**[1]

لقوله تعالی:

وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ كِرَامًا كَاتِبِينَ.[2]

ژباړه: حـال دا چې بې شـکه پـه تاسې باندې خامخا سـاتونکي ملائکې (د عمـل مقـررې دي) عزتمنې (پـه نـزد د الله ﷻ) ليکونکي (د اعمالـو د تاسـې).

مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ.[3]

ژباړه: نه وايې دغه بنده هيڅ خبره مګر خو وي له ده څخه دوه ساتونکي حاضر او تيار چې ژر يې وليکي.

**يـو دېرشـمه عقيـده: مـوږ پـر ملـک المـوت (د مـرګ پـه ملک / فرښـته) ايمـان لـرو چـې اللّه ﷻ د ارواحـو اخيسـتلو ذمـه واري ورسـپارلې ده.**[4]

لقوله تعالی:

قُلْ يَتَوَفَّاكُمْ مَلَكُ الْمَوْتِ الَّذِي وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ إِلَى رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ.[5]

ژباړه: ووايـه (اې محمـده ﷺ! دوی تـه) قبـض کـوي ارواح ستاسـې فرښـته د مـرګ (عزرائيـل) هغـه چې مقرره شوې ده پـه تاسـې (لپـاره د قبض د ارواحـو) بيـا بـه رب خپـل تـه بېرتـه بو تلـل شئ (پـس د مـرګ نـه د حسـاب لپـاره).

---

(۱) ونؤمن بالكرام الكاتبين فإن الله قد جعلهم علينا حافظين. العقيدة الطحاوية ص: ۲۵.
(۲) سورة الانفطار: ۱۰، ۱۱.
(۳) سورة ق: ۱۸.
(۴) ونؤمن بملك الموت الموكل بقبض أرواح العلمين. العقيدة الطحاوية ص: ۲۵.
(۵) سورة الم السجدة: ۱۱.

Scanned with CamScanner

# پر قرآن کریم ایمان

دوه دېرشمه عقیده: قرآن کریم د الله ﷻ کلام دی، او د وحي په ذریعه پر محمد ﷺ یې نازل کړی دی.(۱)

لقوله تعالی:

يُرِيدُونَ أَنْ يُبَدِّلُوا كَلَامَ اللَّهِ (۲)

ژباړه: اراده لري دوی چې بدل کړي کلام الله (حکم د الله).

وَإِنْ أَحَدٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ اسْتَجَارَكَ فَأَجِرْهُ حَتَّى يَسْمَعَ كَلَامَ اللَّهِ ثُمَّ أَبْلِغْهُ مَأْمَنَهُ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَا يَعْلَمُونَ (۳)

ژباړه: او که یو تن له مشرکانو څخه امن (پناه) وغواړي له تا (له قتله) نو پناه ورکړه ته هغه ته، څو چې واوري دی کلام د الله بیا ورسوه ته دی ځای د امن (وطن) د ده ته (که ایمان یې رانه وړ) دغه (امان د پاره د اوریدلو د قرآن) په سبب د دې دی چې بې شکه دوی (داسې) قوم دی چې نه پوهیږي (په قرآن او ایمان باندې).

وَإِنَّهُ لَتَنْزِيلُ رَبِّ الْعَالَمِينَ نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ عَلَى قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنْذِرِينَ (۴)

ژباړه: او بې شکه دغه (قرآن) خامخا نازل کړی شوی دی له (طرفه د) رب د عالمیانو (شعر، سحر او باطلي قصې نه دي) نازل شوی دی په دغه قرآن سره روح امانتګر (یعني راوړی دی دا قرآن جبریل امین) پر زړه ستا د پاره د دې چې شې له ویروونکو (د خلکو له عذابه د الله ﷻ).

(۱) إن القرآن كلام الله منه بدا بلا كيفية قولا و أنزله على رسوله وحيا. العقيدة الطحاوية ص: ۱۲.
(۲) سورة الفتح: ۱۵.
(۳) سورة التوبة: ۶.
(۴) سورة الشعراء: ۱۹۲-۱۹۴.

ketabton.com - The Digital Library
Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library


**دري دېرشمه عقيده: د قرآن کريم قدر او تعظيم د مسلمانانو په اجماع واجب دی، سپکاوی، بې قدري، د يوه متواتر حرف انکار او د يوه داسې حرف زياتول چې قرائت يې ثابت نه وي کفر دی.** (۱)

لقوله تعالی:

﴿إِنَّهُۥ لَقُرْءَانٌ كَرِيمٌ فِى كِتَـٰبٍ مَّكْنُونٍ لَّا يَمَسُّهُۥٓ إِلَّا ٱلْمُطَهَّرُونَ تَنزِيلٌ مِّن رَّبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ﴾ (۲)

ژباړه: بې شکه دا (کتاب لوستی شوی په تا باندې) خامخا قرآن کريم عزت والا دی (چې ليکلی شوی دی) په کتاب کې پټ ساتلی شوي (لوح محفوظ) کې چې نه يې مسه کوي ده لره او نه دی مسه کوي مګر چې پاک کړی شوی وي (يعني پاکان)، (هغه قرآن چې ټوټه ټوټه) نازل کړی شوی دی له (طرفه د پالونکي) رب د عالميانو.

﴿قُلْ مَا يَكُونُ لِىٓ أَنْ أُبَدِّلَهُۥ مِن تِلْقَآئِ نَفْسِىٓ ۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَىَّ ۖ إِنِّىٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّى عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ﴾ (۳)

ژباړه: ووايه (اې محمده! دوی ته) چې نه ښايېږي ما ته دا چې بدل کړم دغه (قرآن) له خانه خپله، متابعت نه کوم زه مګر د هغه (حکم) چې رالېږلی شوی دی ما ته (بې له زيادت او نقصان)، بې شکه زه وېرېږم که بې فرماني وکړم د رب خپل (په تبديل د قرآن سره) له عذاب د ورځې لويې.

---

(۱) قال النووي رحمه الله: أجمعوا على أن من جحد منه حرفا مما أجمع عليه أوزاد حرفا لم يقرأ به أحد وهو عالم بذلك فهو كافر. التبيان في آداب حملة القرآن: ۱۶۴ ط: دار ابن حزم-بيروت.

(۲) سورة الواقعة: ۷۷-۸۰.

(۳) سورة يونس: ۱۵.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



څلور دېرشمه عقيده: موږ په قرآن كريم كې بې ځايه بحث نه كوو او كواهي وركوو چې دا د رب العلمين كلام دی، د مخلوقاتو هيڅ دول خبرې ورسره برابرې نه دي او موږ هغه مخلوق نه کڼو.(۱)

لقوله تعالى:

مَا يُجَادِلُ فِي آيَاتِ اللَّهِ إِلَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَلَا يَغْرُرْكَ تَقَلُّبُهُمْ فِي الْبِلَادِ(۲)

ژباړه: جګړې نه کوي (طعنې نه وايې) په آيتونو د الله مګر هغه کسان چې کافران شوي دي، پس نه دې تیر باسي تا ګرځېدل د دوی (په هوسايي سره) په ښارونو کې (ځکه چې عاقبت د دوی دوزخ دی).

وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ وَإِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطَانُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَى مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ(۳)

ژباړه: او کله چې ووينې ته هغه کسان چې جګړې کوي (طعن ورپورې ترې مسخرې پرې کوي ننوځي غوټې وهي) په ایتونو زمونږ کې نو مخ واړوه له دوی نه (او ورسره مه کښينه او که ناست وې ترې پاڅېږه) تر هغې پورې چې مشغول شي دوی په خبرو (نورکې) غير له قرآن څخه او که هېر کړ له تا نه (دا اعراض او څنګ کول) شيطان نو مه کېنه وروسته له یادېدلو (د دې منعې) سره له قوم ظالمانو.

إِنَّ الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي آيَاتِ اللَّهِ بِغَيْرِ سُلْطَانٍ أَتَاهُمْ إِنْ فِي صُدُورِهِمْ إِلَّا كِبْرٌ مَا هُمْ بِبَالِغِيهِ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ(٤)

ژباړه: بې شکه هغه کسان چې مجادله (جګړه) کوي په (بطلان) د آيتونو د الله بې له کوم برهان (علمي سنده) چې راغلی (ښکاره شوی) وي دوی ته (بله هيڅ خبره نشته) بې شکه چې نه دی په سينو (زړونو) د دوی کې مګر کبر او سرکشي ده

(۱) ولا نجادل في القرآن ونشهد أنه كلام رب العالمين، وهو كلام الله تعالى لا يساويه شيء من كلام المخلوقين ولا نقول بخلقه.العقيدة الطحاوية ص: ۲۰ .

(۲) سورة الغافر: ۴.

(۳) سورة الأنعام: ۶۸.

(٤) سورة الغافر: ۵۶.

ketabton.com - The Digital Library



چې نه دي دوی رسیدونکي هغه (برهان) ته، پس پناه ونیسه په الله پورې (له شره د دوی) بې شکه دغه (الله) هم دی ډېر ښه اوریدونکی (د اقوالو) ښه لیدونکی (د افعالو نو جزاء به ورکړي دوی ته).

وَيَعْلَمَ الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي آيَاتِنَا مَا لَهُمْ مِنْ مَحِيصٍ.(١)

ژباړه: او چې پوه شي هغه کسان چې مجادلې (جګړې) کوي په آیتونو زمونږ کې چې نشته دوی ته هیڅ د خلاصیدلو.

وَإِنَّكَ لَتُلَقَّى الْقُرْآنَ مِنْ لَدُنْ حَكِيمٍ عَلِيمٍ.(٢)

ژباړه: او بې شکه ته (اې محمده!) خامخا د رښوولی کیږې (د ررسیږې) تا ته قرآن له نزده د ښه حکمت والا ښه علم والا (چې الله دی).

إِنَّهُ لَقُرْآنٌ كَرِيمٌ فِي كِتَابٍ مَكْنُونٍ لَا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ تَنْزِيلٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ.(٣)

ژباړه: بې شکه دا (کتاب لوستی شوی په تا باندې) خامخا قرآن کریم عزت والا دی (چې لیکلی شوی دی) په کتاب پټ ساتلی شوي (لوح محفوظ) کې چې نه یې مسه کوي ده لره او نه دی مسه کوي مګر چې پاک کړی شوی وي (یعني پاکان)، (هغه قرآن چې ټوټه ټوټه) نازل کړی شوی دی له (طرفه د پالونکي) رب د عالمیانو.

قُلْ لَئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَى أَنْ يَأْتُوا بِمِثْلِ هَذَا الْقُرْآنِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا.(٤)

ژباړه: ووایه (اې محمده! دوی ته) خامخا که یو ځای (راټول) شي (ګرد) انسانان او (ګرد) پیریان په دې چې راوړي په شان د دې قرآن (په فصاحت، بلاغت او درایت کې) نو را به نه وړي په شان د دې (قرآن) اګر که شي ځینې د دوی له ځینو نورسره ملاتړي (او مرستیالان).

(١) سورة الشورى: ٣٥.
(٢) سورة النمل: ٦.
(٣) سورة الواقعة: ٧٧-٨٠.
(٤) سورة الاسراء: ٨٨.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ولما روي:

عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ: سَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قوما يتدارؤون في الْقُرْآنِ فَقَالَ: «إِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِهَذَا: ضَرَبُوا كِتَابَ اللَّهِ بَعْضَهُ بِبَعْضٍ وإنما نزل كتاب اللَّهِ يُصَدِّقُ بَعْضُهُ بَعْضًا فَلَا تُكَذِّبُوا بَعْضَهُ بِبَعْضٍ فَمَا عَلِمْتُمْ مِنْهُ فَقُولُوا وما جهلتم فكلوه إلى عَالِمِهِ». رَوَاهُ أَحْمد وَابْن مَاجَه.(۱)

ژباړه: رسول کريم ﷺ د ځينې خلکو په اړه واوريدل چې هغوی په قرآن کريم کې يو د بل سره جګړه کوي نو رسول الله ﷺ وويل: ستاسو څخه وړاندې خلک په دې سبب هلاک شول چې هغوی د الله ﷻ د کتاب ځينې برخې د ځينې خلاف وګرځولې او حال دا چې د الله کتاب يوه برخه د بلې برخې تصديق کوي تاسو د قرآن کريم يوه برخه په بلې برخې مه درواغ کوئ او په قرآن کريم کې چې څومره تاسو پوهيږئ هغه بيانوئ او په کومه برخه چې نه پوهيږئ هغه پوهيدونکو ته پرېږدئ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْمِرَاءُ فِي الْقُرْآنِ كُفْرٌ» رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُد.(۲)

ژباړه: حضرت ابوهريره رضی الله تعالی عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په قرآن کريم کې جګړه کول کفر دی.

(۱) مشکوة المصابيح: ۷۹/۱، رقم الحديث: ۲۳۷.

(۲) مشکوة المصابيح: ۷۹/۱، رقم الحديث: ۲۳۶. واخرجه أيضا الحاكم: ۲۴۳/۲، رقم الحديث: ۲۸۸۲، والبيهقي في شعب الإيمان: ۴/۲ ۱۶، رقم الحديث: ۲۲۵۵، وأحمد: ۲۸۶/۲، رقم الحديث: ۷۸۳۵.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



پنځـه دېرشـمه عقيـده: روح الاميـن (جبرائيـل عليـه السـلام) قـرآن کريـم راوړی او سـيد المرسـلين محمـد ﷺ تـه يـې د هغـه درس او تعليـم ورکـړی دی.(١)

لقوله تعالى:

وَإِنَّهُ لَتَنزِيلُ رَبِّ الْعَالَمِينَ نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ عَلَىٰ قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنذِرِينَ.(٢)

ژباړه: او بې شکه دغه (قرآن) خامخا نازل کړی شوی دی له (طرفه د) رب د عالميانو (شعر، سحر او باطلې قصې نه دي) نازل شوی دی په دغه قرآن سره روح امانتګر (يعني راوړی دی دا قرآن جبريل امين) پر زړه ستا د پاره د دې چې شې ته له ويروونکو (د خلکو له عذابه د الله).

وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوَىٰ.(٣)

ژباړه: او خبرې نه کوي (محمد) له هوا (خپلې) نه، نه دی دغه (قرآن) مګر وحي دي چې ورته لېږلې شوي دي، ښوولې دي ده ته د سختو قوتونو مالک (جبرئيل).

ولما روي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْوَدَ النَّاسِ بِالْخَيْرِ وَكَانَ أَجْوَدَ مَا يَكُونُ فِي رَمَضَانَ وَكَانَ جِبْرِيلُ يَلْقَاهُ كُلَّ لَيْلَةٍ فِي رَمَضَانَ يَعْرِضُ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقُرْآنَ فَإِذَا لَقِيَهُ جِبْرِيلُ كَانَ أَجْوَدَ بِالْخَيْرِ مِنَ الرِّيحِ الْمُرْسَلَةِ. متفق عليه(٤)

ژباړه: رسول کريم ﷺ تر ټولو خلکو زيات سخي و او د خلکو سره به يې د ښېګڼې کولو او ګټې رسولو په اعتبار په خاصه توګه روژې په مياشت کې به يې سخاوت ډېر زيات شو جبريل عليه السلام به د روژې په هره شپه له رسول کريم ﷺ سره ليدنه

(١) نزل به الروح الأمين فعلمه سيد المرسلين محمدا صلى الله عليه و سلم. العقيدة الطحاوية ص: ٢٠.

(٢) سورة الشعراء: ١٩٢-١٩٤.

(٣) سورة النجم: ٣-٥.

(٤) مشكوة المصابيح: ٦٤٨/١، رقم الحديث: ٢٠٩٨، وأخرجه أيضا ابن حبان: ٢٢٥/٨، رقم الحديث: ٣٤٤٠، والنسائي في الكبرى: ٦٤/٢، رقم الحديث: ٢٤٠٦، وأحمد: ٢٣٠/١، رقم الحديث: ٢٠٤٢.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library


کوله رسول علیه السلام به د هغه په مخ کې قرآن کریم وایه کله به چې جبرېل علیه السلام ور سره ملاقات کاوه نو د رسول الله ﷺ سخاوت به د باران راورونکې هوا څخه هم زیات تېزېده.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



# د محمد رسول الله ﷺ پر نبوت عقيده

شپږ دېرشمه عقيده: محمد ﷺ تر ټولو مخلوقاتو او انسانانو افضل او د الله ﷻ محبوب بنده دی، هيڅ انسان د ده په شان نه شي کيدای.[1]

لقوله تعالى:

﴿وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾[2]

ژباړه: او بې شکه چې يې ته (اې محمده!) هرومرو (خامخا) په خلق خويونو (دين ډېر لوی باندې).

ولما روي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَوَّلُ مَنْ يَنْشَقُّ عَنْهُ الْقَبْرُ وَأَوَّلُ شَافِعٍ وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ[3]

ژباړه: له حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به زه د آدم عليه السلام د اولاد سردار يم او تر ټولو مخکې به زه د قبر څخه پاڅم او تر ټولو وړاندې شفاعت به زه کوم او تر ټولو وړاندې به زما شفاعت قبليږي.

(۱) وأن محمدا عبده المصطفى ونبيه المجتبى ورسوله المرتضى، وإمام الأتقياء وسيد المرسلين وحبيب رب العلمين. العقيدة الطحاوية ص: ۱۲.

(۲) سورة القلم: ۴.

(۳) مشكوة المصابيح : ۳/ ۱۶۰۰، رقم الحديث: ۵۷۴۱.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: إِنَّ اللهَ تَعَالَى فَضَّلَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الأَنْبِيَاءِ وَعَلَى أَهْلِ السَّمَاءِ فَقَالُوا يَا ابْنَ عَبَّاسٍ بِمَ فَضَّلَهُ اللهُ عَلَى أَهْلِ السَّمَاءِ؟ قَالَ: إِنَّ اللهَ تَعَالَى قَالَ لِأَهْلِ السَّمَاءِ [وَمَنْ يَقُلْ مِنْهُمْ إِنِّي إِلَهٌ مِنْ دُونِهِ فَذَلِكَ نَجْزِيهِ جَهَنَّمَ كَذَلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِينَ] وَقَالَ اللهُ تَعَالَى لِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا لِيَغْفِرَ لَكَ اللهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ] قَالُوا: وَمَا فَضْلُهُ عَلَى الأَنْبِيَاءِ؟ قَالَ: قَالَ اللهُ تَعَالَى: [وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ رَسُولٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ فَيُضِلُّ اللهُ مَنْ يَشَاءُ] الآيَةَ وَقَالَ اللهُ تَعَالَى لِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِلنَّاسِ] فَأَرْسَلَهُ إِلَى الْجِنِّ وَالإِنْسِ. (1)

ژباړه: له حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې: الله تعالی محمد ﷺ ته فضیلت ورکړی دی پر ټولو انبیاوو او اسمان والاوو، خلکو پوښتنه وکړه ای ابن عباس! پر اسمان والاوو په کومه خبره کې فضیلت ورکړی شوی دی؟ ابن عباس وویل: الله تعالی اسمان والاوو ته فرمایلي دي: څوک دا وایي چې زه له الله تعالی څخه پرته بل معبود یم نو موږ به د دې په بدله کې ورته جهنم ورکړو او موږ ظالمانو ته همدا سې بدله ورکوو، او محمد ﷺ ته الله تعالی فرمایلي دي موږ ستا لپاره د برکتو دروازې خلاصې کړې دي او الله تعالی ستاسو مخکني او وروستني ګناهونه وبښل، بیا خلکو پوښتنه وکړه او پر انبیاوو رسول الله ﷺ ته څنګه فضیلت ورکړی شوی دی؟ ابن عباس وویل: الله تعالی د نورو انبیاوو په اړه فرمایلي دي: موږ چې کوم پیغمبر ولیږو د هغه د قوم د ژبې سره مو ولیږه چې د هغوی په وړاندې د الله احکام بیان کړي بیا چا ته چې الله وغواړي ګمراه کوي، او الله ﷻ د محمد ﷺ په اړه فرمایلي دي: موږ ته ټولو خلکو ته رسول لیږلی یې، یعني الله تعالی رسول کریم ﷺ د جن او انس ټولو لپاره پیغمبر رالیږلی دی.

(1) مشكوة المصابيح: ۳/۱۶۰۷، رقم الحديث: ۵۷۷۳. وأخرجه أيضا الحاكم: ۲/۱۳۸، رقم الحديث: ۳۳۳۵، (قال الذهبي: صحيح «هذا حديث صحيح الإسناد» فإن الحكم بن أبان قد احتج به جماعة من أئمة الإسلام ولم يخرجه الشيخان)، والهيثمي في مجمع الزوائد: ۸/۴۵۶، رقم الحديث: ۱۳۹۲۷.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْحَارِثِ، قَالَ: ثنا جُنْدَبٌ، أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ قَبْلَ أَنْ يَتَوَفَّى: «إِنَّ اللهَ اتَّخَذَنِي خَلِيلًا كَمَا اتَّخَذَ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا» لو كنت متخذاً خليلاً لاتخذت أبا بكر خليلاً ، ولكنه أخي وصاحبي ، وقد اتخذ الله عز وجل صاحبكم خليلاً(1)

ژباړه: حضرت جندب رضي الله عنه له رسول کریم ﷺ څخه قبل الوفاة واوریدل چي ویل: الله تعالی د ابراهیم علیه السلام په څېر زه هم خلیل ګرځولی یم که ما یو څوک خپل خلیل نیولی نو ابو بکر رضي الله عنه به مې نیولی وای خو هغه مې (اسلامي) ورور او (نژدې) صحابي دی او په تحقیق سره الله ﷻ ستاسو ملګری خلیل ګرځولی دی.

قال الامام الرازي رحمه الله: فلما أمر محمد عليه الصلوة والسلام بأن يقتدي بالكل فكأنه أمر بمجموع ما كان متفرقا فيهم، ولما كان ذلك درجة عالية لم تتيسر لأحد من الأنبياء قبله، لا جرم وصف الله خلقه بأنه عظيم.(2)

ژباړه: امام رازي رحمه الله تعالی لیکي: کله چې محمد ﷺ ته امر وشو چې په ټولو په سې اقتداء وکړه، نو ګواکي په هغه ټولو (أحکامو) مأمور شو چې پر هغوی وېشل شوي وو، او کله چې دا لوړه درجه وه، او تر (رسول الله ﷺ) وړاندې هیڅ نبي ته نه ورکړل شوې، نو هرومرو الله ﷻ د هغه (رسول الله ﷺ) اخلاق په عظیم (لویې) سره وستایل.

---

(1) المستدرك على الصحيحين: ۲/۵۹۹، رقم الحديث: ۴۰۱۸، وأخرجه أيضا مسلم: ۷/۱۰۸، وابن ماجة: رقم الحديث: ۹۳. والترمذي: رقم الحديث: ۳۶۵۶.

(2) تفسير الرازي: ۳۰/۶۰۱. ط دار احياء التراث العربي.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## اووه دېرشمه عقيده: محمد ﷺ اخيرني نبي دی، تر ده وروسته بل نبي دنيا ته نه راځي. (١)

لقوله تعالى:

﴿مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِنْ رِجَالِكُمْ وَلَكِنْ رَسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا﴾ (٢)

ژباړه: نه دی محمد ﷺ (حقيقي) پلار د هيڅ يو تن له سړيو ستاسې وليکن رسول د الله دی (خلکو ته په شان د معنوي پلار) او مهر د (ټولو) انبياوو دی (چې پس له ده نه بل نبي نه دی) او دی الله پر هر شيز ښه عالم.

ولما روي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَثَلِي وَمَثَلُ الْأَنْبِيَاءِ كَمَثَلِ قَصْرٍ أُحْسِنَ بُنْيَانُهُ تُرِكَ مِنْهُ مَوضِع لبنة فَطَافَ النظّارُ يتعجّبونَ من حُسنِ بنيانه إِلَّا مَوْضِعَ تِلْكَ اللَّبِنَةِ فَكُنْتُ أَنَا سَدَدْتُ مَوْضِعَ اللَّبِنَةِ خُتِمَ بِيَ الْبُنْيَانُ وَخُتِمَ بِي الرُّسُلُ». وَفِي رِوَايَةٍ: «فَأَنَا اللَّبِنَةُ وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ». مُتَّفق عَلَيْهِ. (٣)

ژباړه: له حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول کريم ﷺ وفرمايل: زما او د نورو انبياوو عليهم السلام مثال د هغه ماڼۍ په ډول دی چې د هغه عمارت يا ديوالونه ډېر ښه وي په ديوال کې د يوې خښتې ځای خالي پرې ښودل شوی وي او کتونکي د هغه ماڼۍ تعجب کوي چې څنګه ښه ماڼۍ ده مګر دا يوه خښته يې کمه ده زه د هغه خښتې ځای ډکوونکی يم او زه هغه ماڼۍ پوره کوونکی يم او پر ما باندې رسولان ختم شوي دي او په يوه روايت کې دي چې زه هغه خښته يم او زه د نبوت د لړۍ ختموونکی يم.

---

(١) وأنه خاتم الأنبياء. العقيدة الطحاوية ص: ١٢.

(٢) سورة الأحزاب: ٤٠.

(٣) مشكوة المصابيح: ٣/ ١٦٠١، رقم الحديث: ٥٧٤٥.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



عن ثوبان – في حديث طويل – مرفوعا: «وإنه سيكونُ في أمّتي كذّابون ثلاثون، كلُّهم يزعم أنه نبيٌّ، وأنا خاتمُ النبيين لا نبيَّ بعدي». (۱)

ژباړه: حضرت ثوبان رضي الله عنه له رسول کريم ﷺ څخه روايت کوي: چې زما په امت کې به ژر ديرش درواغجن نبيان پيدا شي او په هغوی کې به هر يو سړی دا خيال لري چې هغه د الله ﷻ نبي دی او حال دا دی چې زه خاتم النبيين يم زما څخه وروسته به هيڅوک نبي نه وي.

**اته دېرشمه عقيده: د محمد ﷺ له نبوت وروسته د هر چا د نبوت دعوه کفر ده.** (۲)

لقوله تعالى:

﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى عَلَى اللهِ كَذِبًا أَوْ قَالَ أُوحِيَ إِلَيَّ وَلَمْ يُوحَ إِلَيْهِ شَيْءٌ وَمَنْ قَالَ سَأُنْزِلُ مِثْلَ مَا أَنْزَلَ اللهُ﴾ (۳)

ژباړه: او څوک دی ډېر ظالم؟ (يعني هيڅوک نشته) له هغه چا نه چې تړلي پر الله دروغ يا وايې چې وحی کړی شوې ده ما ته حال دا چې وحي نه وي کړی شوي ده ته هيڅ شی او (بل څوک دی ډېر ظالم؟ يعني نشته) له هغه چې وايې زر ده چې (زه به هم) نازل کړم (وبه ليکم له ځانه) په مثل د هغه کتاب چې نازل کړی دی الله (تا ته اې محمده! چې قرآن دی.

---

(۱) سنن أبي داود: ۳۰۶/۶، رقم الحديث: ۴۲۵۲، وأخرجه أيضا أحمد: ۲۷۸/۵، رقم الحديث: ۲۲۴۴۸.

(۲) وكل دعوى النبوة بعده فغي وهوى. العقيدة الطحاوية ص: ۱۲.

(۳) سورة الأنعام: ۹۳.

Scanned with CamScanner

ولما روي:

عن النبي صلی الله عليه وسلم أنه قال: وَإِنَّهُ سَيَكُونُ فِي أُمَّتِي ثَلَاثُونَ كَذَّابُونَ كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيُّ اللهِ وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ لَا نَبِيَّ بَعْدِي.(۱)

ژباړه: رسول کریم ﷺ فرمايي: زما په امت کې به ژر ديرش دروا غجن نبيان پيدا شي او په هغوی کې به هر يو سړی دا خيال لري چې هغه د الله ﷻ نبي دی او حال دا دی چې زه خاتم النبيين يم زما څخه وروسته به هيڅوک نبي نه وي.

**نهه دېرشمه عقيده: محمد ﷺ تولو انسانانو او پېريانو ته په حق او هدايت سره راليږل شوی دی.(۲)**

لقوله تعالى:

تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَىٰ عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيرًا.(۳)

ژباړه: ډېر برکتناک څښتن (خاوند) د ډېر خير او پورته دی هغه (ذات) چې نازل کړی يې دی قرآن پر بنده خپل (محمد ﷺ) لپاره د دې چې شي دی خلکو ته ويروونکی (له جحيمه).

هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا.(۴)

ژباړه: دغه (الله ﷻ) هغه ذات دی چې راليږلی يې دی رسول خپل په (ښوونه د) سمې لارې، او دين حق سره (چې دين د اسلام دی) لپاره د دې چې غلبه ورکړي (پورته کړي هغه دين) پر دينونو ټولو باندې او کافي بس دی الله ښه شاهد (حق ثابت کوونکی).

---

(۱) سنن الترمذي: ۴/۴۹۹، رقم الحديث: ۲۲۱۹، وقال: هذا حديث حسن صحيح، وأخرجه أيضا الحاكم: ۴/۴۹۶، رقم الحديث: ۸۳۹۰، وقال: صحيح على شرط الشيخين.

(۲) وهو المبعوث إلى عامة الجن وكافة الورى بالحق والهدى وبالنور والضياء. العقيدة الطحاوية ص: ۱۲.

(۳) سورة الفرقان: ۱.

(۴) سورة الفتح: ۲۸.

ketabton.com - The Digital Library



﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ﴾(۱)

ژباړه: او نه يې لېږلی مونږ ته مګر په دې حال کې چې جامع يې خلکو ته زېری ورکوونکی (د جنت مؤمنانو ته) او ويروونکی يې (له دوزخ کفارو ته) وليکن اکثر خلک (له کفارو) نه پوهيږي (په فضائلو ستا او په رذائلو خپلو).

﴿وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا مِنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوا أَنْصِتُوا فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا إِلَى قَوْمِهِمْ مُنْذِرِينَ قَالُوا يَاقَوْمَنَا إِنَّا سَمِعْنَا كِتَابًا أُنْزِلَ مِنْ بَعْدِ مُوسَى مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ وَإِلَى طَرِيقٍ مُسْتَقِيمٍ يَاقَوْمَنَا أَجِيبُوا دَاعِيَ اللَّهِ وَآمِنُوا بِهِ يَغْفِرْ لَكُمْ مِنْ ذُنُوبِكُمْ وَيُجِرْكُمْ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ وَمَنْ لَا يُجِبْ دَاعِيَ اللَّهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِي الْأَرْضِ وَلَيْسَ لَهُ مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءُ أُولَئِكَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللَّهَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلَمْ يَعْيَ بِخَلْقِهِنَّ بِقَادِرٍ عَلَى أَنْ يُحْيِيَ الْمَوْتَى بَلَى إِنَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾(۲)

لقوله تعالی:

﴿بَلْ هُوَ قُرْآنٌ مَّجِيدٌ فِي لَوْحٍ مَّحْفُوظٍ﴾(٢)

ژباړه: بلکې دا قرآن دی شانداره لوی (لفظا معنا اعجازا په ټولو کتابونو کې نه ده داسې لکه چې ګومان کوي کافران چې قرآن سحر، شعر یا کهانت دی)، لیکلی شوی دی په لوح محفوظ کې.

﴿ن وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ﴾(٣)

ژباړه: قسم دی په قلم او په هغه څه چې دوی يې لیکي.

﴿وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوهُ فِي الزُّبُرِ وَكُلُّ صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ مُّسْتَطَرٌ﴾(٤)

ژباړه: او هر هغه شی چې کړی دی هغوی (لیکلی شوی دی) په (پاڼو د اعمال نامې د دوی او په) لوح محفوظ کې، او هر واړه کی او لوی (عمل که خیر وي که شر وي) لیکلی شوی دی (په لوح محفوظ کې).

﴿وَمَا مِن دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا كُلٌّ فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ﴾(٥)

ژباړه: او نشته هیڅ تلونکی (خوځیدونکی ذي روح) په ځمکه کې مګر چې دی پر الله رزق (روزي) د هغه (تفضلا ترحما نه وجوبا) او عالم دی (الله ﷻ) په ځای

---

(١) ونؤمن باللوح والقلم وبجميع ما فيه قد رقم. العقيدة الطحاوية ص: ١٨.
(٢) سورة البروج: ٢١، ٢٢.
(٣) سورة القلم: ١.
(٤) سورة القمر: ٥٢،٥٣.
(٥) سورة هود: ٦.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



د او سیدلو د هغه او ځای د سپاریدلو د هغه، ټول (دا مذکوره اشیاء) په کتاب واضح کې دي.

يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا وَهُوَ الرَّحِيمُ الْغَفُورُ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَأْتِينَا السَّاعَةُ قُلْ بَلَى وَرَبِّي لَتَأْتِيَنَّكُمْ عَالِمِ الْغَيْبِ لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ وَلَا أَصْغَرُ مِنْ ذَلِكَ وَلَا أَكْبَرُ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ (۱)

ژباړه: معلوم دي (الله ﷻ ته) هر هغه شی چې ښکته ننوځي په ځمکه کې او هر هغه شي چې بیرون راوځي له دغې (ځمکې) څخه او هر هغه څیز چې را ښکته کیږي له آسمانه او هر هغه شي چې پورته خیږي په دغه (آسمان) کې، او هم دغه (الله ﷻ) ډېر رحم والا دی (په انعام د اجر او ثواب سره) ښه بښونکی دی (د خطیاتو)، او وایي هغه کسان چې کافران شوي دي چې رابه نه شي مونږ ته قیامت، ووایه (اې محمده! دوی ته چې ولې به رانه شي) بلکې رابه شي قسم دی زما په رب خپل چې خامخا رابه شي هرومرو (لازما) دا قیامت تاسې ته، (هسې رب) چې عالم دی په غیبو، نه پټیږي له ده په اندازه د یوې ذرې په آسمانونو کې او نه په ځمکه کې او نه وړوکی له هغې ذرې او نه لوی (ترې) مګر (چې دا ټول لیکلي پراته دي) په کتاب ښکاره (لوح محفوظ) کې.

وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ ثُمَّ جَعَلَكُمْ أَزْوَاجًا وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنْثَى وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِ وَمَا يُعَمَّرُ مِنْ مُعَمَّرٍ وَلَا يُنْقَصُ مِنْ عُمُرِهِ إِلَّا فِي كِتَابٍ إِنَّ ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ (۲)

ژباړه: او الله پیدا کړي یئ تاسې (اول ځلې نیکه د تاسې) له خاورو بیا (تاسې اولاده یې پیدا کړي) له څاڅکي (د مني) بیا یې وګرځولئ تاسې جوړې جوړې (ښځه او مېړه لپاره د توالد او تناسل) او نه اخلي حمل هیڅ ښځه او نه زږدي (حمل هیڅ ښځه) مګر په علم د الله سره، او نه شي اوږدیدلی عمر د هیڅ عمر اوږد کړي

(۱) سورة سبأ: ۲،۳.
(۲) سورة فاطر: ۱۱.

ketabton.com - The Digital Library



او نه هيڅ قدر كمولی شي له عمر د دغه (معمر) څخه (يا له عمره د بل شوي معمر څخه يعني تزييد او تنقيص د عمر نه دی) مگر په كتاب (د لوح محفوظ كې ليكلي دي) بې شكه دغه (لنډول او اوږدول د عمر) پر الله ډېر آسان دي

ولما روي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كُنْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا، فَقَالَ... وَاعْلَمْ أَنَّ الأُمَّةَ لَوْ اجْتَمَعَتْ عَلَى أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَنْفَعُوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللَّهُ لَكَ، وَلَوْ اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ يَضُرُّوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَضُرُّوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللَّهُ عَلَيْكَ، رُفِعَتِ الأَقْلَامُ وَجَفَّتْ الصُّحُفُ.[1]

ژباړه: له حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی هغه وايي: چې يو ځل زه د رسول كريم ﷺ سره پر سپرلۍ سپور وم، رسول كريم ﷺ راته وويل: او دا خبره په ياد لره كه ټول مخلوق راجمع شي او تا ته گټه رسول وغواړي نو هيڅكله به گټه نشي دررسولای مگر يوازې دومره څومره چې الله ستا په مقدر كې ليكلي وي او كه ټول خلك راټول شي په دې چې تا ته ضرر ورسوي په يو شي سره، نو ضرر به ونه رسوي تا ته مگر په هغه اندازه څومره چې الله ﷻ ستا په تقدير كې ليكلي دي قلمونه پورته شوي دي او صحيفې وچې شوي دي.

(1) سنن الترمذي: ٤/٦٦٧، رقم الحديث: ٢٥١٦.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



شپږ پنځوسمه عقيده: موږ باور لرو که ټول مخلوقات راټول شي پر هغه څه چې الله ﷻ په لوح محفوظ کې ليکلي دي چې هغه به پيدا کيږي، نو دوی به ونه توانيږي چې د هغه د پيدا کيدو مخه ونيسي او که دوی راټول شي پر هغه څه چې الله ﷻ په لوح محفوظ کې ليکلي دي چې هغه به نه پيدا کيږي، نو دوی به ونه توانيږي چې هغه پيدا کړي.(١)

لقوله تعالى:

﴿وَإِنْ تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَقُولُوا هَـٰذِهِ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُوا هَـٰذِهِ مِنْ عِنْدِكَ قُلْ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ فَمَالِ هَـٰؤُلَاءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ حَدِيثًا﴾(٢)

ژباړه: او که ورسيږي دوی ته څه نيکي (لکه پراخي) نو وايي دوی دا (نيکي) له (جانبه د) الله ده او که ورسيږي دوی ته څه بدي (لکه قحط) نو وايي دوی دا (بدي) له جانبه ستا ده، ووايه (اې محمده! دوی ته) دا ټول (خير او شر) له جانبه د الله دي پس څه سبب دی دې قوم لره چې نه دی نژدې (دې ته) چې پوه شي دوی په هيڅ خبره باندې.

ولما روي:

عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كُنْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا، فَقَالَ:... وَاعْلَمْ أَنَّ الأُمَّةَ لَوْ اجْتَمَعَتْ عَلَى أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَنْفَعُوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللهُ لَكَ، وَلَوْ اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ يَضُرُّوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَضُرُّوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللهُ عَلَيْكَ، رُفِعَتِ الأَقْلَامُ وَجَفَّتْ الصُّحُفُ.(٣)

ژباړه: له حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی هغه وايي: چې يو ځل زه

(١) فلو اجتمع الخلق كلهم على شيء كتبه الله تعالى فيه أنه كائن ليجعلوه غير كائن لم يقدروا عليه، ولو اجتمعوا كلهم على شيء لم يكتبه الله تعالى فيه ليجعلوه كائنا لم يقدروا عليه جف القلم بما هو كائن الى يوم القيامة. العقيدة الطحاوية ص: ١٨.

(٢) سورة النساء: ٧٨.

(٣) سنن الترمذي: ٦٦٧/٤، رقم الحديث: ٢٥١٦.

عن أبي حفصة، قال: قال عبادة بن الصامت لابنه: يا بني إنك لن تجد طعم حقيقة الإيمان حتى تعلم أن ما أصابك لم يكن ليخطئك، وما أخطاك لم يكن ليصيبك، سمعت رسول الله -صلى الله عليه وسلم- يقول: «إن أول ما خلق الله القلم، فقال له: اكتب، قال: رب، وماذا أكتب؟ قال: اكتب مقادير كل شيء حتى تقوم

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library


د رسول کریم ﷺ سره پر سپرلی سپور وم، رسول کریم ﷺ راته وویل: او دا خبره په یاد لره که ټول مخلوق را جمع شي او تا ته ګټه رسول وغواړي نو هيڅکله به ګټه نشي دررسولای مګر یوازې دومره څومره چې الله ستا په مقدر کې لیکلي وي او که ټول خلک را ټول شي په دې چې تا ته ضرر ورسوي په يو شي سره. نو ضرر به ونه رسوي تا ته مګر په هغه اندازه څومره چې الله ﷻ ستا په تقدير کې ليکلي دي قلمونه پورته شوي دي او صحيفې وچې شوي دي.

**اووه پنځوسمه عقيده: قلم په هغه څه وچ شوی دی چې تر قيامته پيدا کيږي، نو څه چې بنده ته ونه رسيږي ورته ليکل شوي دي چې نه به ور رسيږي او څه چې ورته رسيږي ليکل شوي دي چې هغه به ور رسيږي.**(١)

لقوله تعالى:

مَا أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَابٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَا إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ(٢)

ژباړه: نه رسيږي هيڅ مصيبت آفت غم په ځمکه او نه ستاسي په ځانونو کې مګر هغه خو ليکلی شوی دی په کتاب (لوح محفوظ) کې پخوا له هغې څخه چې پيدا کړي وي مونږ هغه (په دنيا کې) بې شکه دا (اندازه پخوا له پيدا کولو) پر الله ډېره آسانه ده.

---

الساعة». يا بني، إني سمعت رسول الله -صلى الله عليه وسلم يقول: «من مات على غير هذا فليس مني» (سنن ابي داود: ٢٢٥/٤، رقم الحديث: ٤٧٠٠).

(١) فلو اجتمع الخلق كلهم على شيء كتبه الله تعالى فيه أنه كائن ليجعلوه غير كائن لم يقدروا عليه. ولو اجتمعوا كلهم على شيء لم يكتبه الله تعالى فيه ليجعلوه كائنا لم يقدروا عليه جف القلم بما هو كائن الى يوم القيامة. العقيدة الطحاوية ص: ١٨.

(٢) سورة الحديد: ٢٢.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ولما روي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه، في حديث طويل قال : ... فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يا أَبَا هُرَيْرَةَ جَفَّ الْقَلَمُ بِمَا أَنْتَ لَاقٍ فَاخْتَصِ على ذَلِك أو ذَر». رَوَاهُ الْبُخَارِيّ(۱)

ژباړه: له حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه په يو اوږد حديث کې مرفوعا روايت دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: اې ابو هريره ! څه چې تا ته پېښېدونکي دي قلم د هغه په ليکلو وچ شوی دی اوس که څه هم ته نامرد شې يا نه.

---

(۱) مشكوة المصابيح: ۱/۳۲، رقم الحديث: ۸۸.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



# پر عرش او کرسي ايمان

## اته پنځوسمه عقيده: عرش او کرسي حق دي.(١)

لقوله تعالی:

وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ (٢)

ژباړه: ارته (محيطه) ده کرسي د ده پر ټولو آسمانونو او ځمکې باندې او نه ستومانه کوي ده لره ساتنه د آسمانونو او ځمکې او هم دی (الله ﷻ) دی (له ټولو څخه) خورا پورته (په پاچاهي او غلبه خپله کې) خورا لوی (په کماليه صفاتو کې).

وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا. (٣)

ژباړه: او دغه (الله ﷻ) هغه ذات دی چې پيدا کړي يې دي اسمانونه او ځمکه په (مقدار د) شپږو ورځو کې حال دا چې و عرش (تخت) د ده پر اوبو (پيدا کړي دي الله دا ټول اسمانونه او ځمکه او ما فيهما لپاره د منافعو ستاسې او) لپاره د دې چې وازمويي تاسې چې کوم يو له تاسې ډېر ښه دی له جهته د عمل.

وَالْمَلَكُ عَلَى أَرْجَائِهَا وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمَانِيَةٌ. (٤)

ژباړه: او ملائکې پرښتې به وي په څنډو (غاړو) د هغه (آسمان) کې او پورته به کړي عرش د رب ستا د پاسه د دوی په هغه ورځ کې اته (پرښتې).

---

(١) والعرش والكرسي حق. العقيدة الطحاوية ص: ١٩.
(٢) سورة البقرة: ٢٥٥.
(٣) سورة هود: ٧.
(٤) سورة الحاقة: ١٧.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



نهه پنځوسمه عقیده: الله ﷻ له عرش او تر هغه لاندې له هر څه څخه مستغني او بې حاجته دی.(۱)

لقوله تعالی:

وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ ٱلْعَٰلَمِينَ.(۲)

ژباړه: او هر څوک چې کافر شو (ویې نه مانه) نو بې شکه الله بې پروا دی له ټول عالم (یعنې له هر چا او هر شي) نه.

وَٱللَّهُ غَنِيٌّ حَمِيدٌ.(۳)

ژباړه: او الله غني بې پروا دی (له عبادت) او ډېر ستایلی شوی دی (بې له ستایلو د خلکو څخه).

قَوْلٌ مَّعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّن صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَآ أَذًى وَٱللَّهُ غَنِيٌّ حَلِيمٌ.(۴)

ژباړه: خبره معروفه نیکه (خوږه پسته فقیر ته) او عفوه (ده ته که الحاح یا شور وکړي) ډېره ښه ده له خیراته چې په هغه پسې وي ضرر (رسونه په منت یا په پیغور د سوال سره) او الله غني دی (بې پروا له هر چا او هر شي) نهایت تحمل والا (د عذاب په وروسته والي د پښیمانتیا لپاره).

شپیتمه عقیده: الله ﷻ په خپل قدرت سره پر هر شي احاطه کړې ده او پر هر شي لوړ دی او مخلوق د هغه د احاطې کولو توان نه لري.(۵)

لقوله تعالی:

وَلِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ مُّحِيطًا.(۶)

(۱) وهو مستغن عن العرش وما دونه. العقيدة الطحاوية ص: ۱۹.
(۲) سورة آل عمران: ۹۷.
(۳) سورة التغابن: ۶.
(۴) سورة البقرة: ۲۶۳.
(۵) محيط بكل شيء وفوقه وقد أعجز عن الاحاطة خلقه. العقيدة الطحاوية ص: ۱۹.
(۶) سورة النساء: ۱۲۶.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: او خاص الله لره دي هر هغه شيان چې په اسمانونو کې دي او هر هغه شيان چې په ځمکه کې دي (سره له اسمانونو او ځمکې ملکا خلقا او عبيدا) او په دې الله پر هر شي ښه احاطه کوونکی (په خپل علم او قدرت سره).

وَاللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ.(۱)

ژباړه: او الله پر هغو کارونو چې کوي يې دوی محيط (چاپېر دی علم او قدرت د ده نو جزا به پرې ورکړي).

يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِ عِلْمًا.(۲)

ژباړه: عالم دی الله پر هر هغه څه چې په منځ کې د دوی وي (له اخروي امورو) او هر هغه خيز چې پسې شا د دوی دی (د دنيوي امورو) او نه به شي احاطه کولی دوی په (ذات او په معلوماتو) د دغه (الله ﷻ) له جهته د علم.

وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ.(۳)

ژباړه: او هم دی غالب زورور دی د پاسه د بنده ګانو خپلو (په قدرت، قوت، قهر، غلبه نه په مکان) او هم دی ښه حکمت والا ښه خبردار دی (له هر شي).

لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الْأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ.(۴)

ژباړه: نشي موندلی (او احاطه نه شي کولی) پر الله سترګې او الله مومي سترګې (ويني يې) او هم دی نهايت لطيف ښه خبردار دی.

---

(۱) سورة الأنفال: ۴۷.
(۲) سورة طه: ۱۱۰.
(۳) سورة الأنعام: ۱۸.
(۴) سورة الأنعام: ۱۰۳.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## د اهل قبله په هکله عقیده

یــو شــپېتمه عقیــده: مــوږ د خپلــې قبلــې خلکــو تــه مســلمانان او مؤمنان وایــو تــر څــو چــې د رســول الله ﷺ پــه راوړل شــویو احکامــو اقرار کــوي او د رســول الله ﷺ د وینــاوو تصدیــق کــوي.(۱)

لقوله تعالی:

وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ هُوَ اجْتَبَاكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ مِلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِنْ قَبْلُ وَفِي هَذَا لِيَكُونَ الرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ.(۲)

ژباړه: او زیار (کوښښ) کوئ په (لاره د جهاد، طاعت او رضاء د) الله په حق جهاد د هغه سره (چې ورته وړ او لائق دی) دغه (الله) غوره کړي یئ تاسې او نه یې دی ګرځولی (نه یې دی ایښی) په تاسې په دین کې هیڅ (مشقت او اشکال)، (متابعت وکړئ د) دین د پلار خپل چې ابراهیم دی، دغه (الله) ونوموله تاسې مسلمانان پخوا (له دغه قرآن څخه په نورو آسماني کتابونو کې) او په دغه (قرآن) کې (هم) لپاره د دې چې رسول (ستاسې محمد) شاهد (ښوونکی) په تاسې (د تبلیغ خپل) او چې شئ تاسې (اې مسلمانانو!) شاهدان (ښوونکي) په نورو خلکو (د تبلیغ د نورو انبیاوو).

ولما روي:

عَنْ أنس أَنَّهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ صَلَّى صَلَاتَنَا وَاسْتَقْبَلَ قِبْلَتَنَا وَأَكَلَ ذَبِيحَتَنَا فَذَلِكَ الْمُسْلِمُ الَّذِي لَهُ ذِمَّةُ اللهِ وَذِمَّةُ رَسُولِهِ فَلَا تُخْفِرُوا اللهَ فِي ذِمَّتِهِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيّ.(۳)

ژباړه: له حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک

---

(۱) ونسمي أهل قبلتنا مسلمين مؤمنين، ما داموا بما جاء به النبي صلى الله عليه وسلم معترفين، وله بكل ما قاله وأخبر مصدقين. العقيدة الطحاوية ص: ۲۰.

(۲) (۲) سورة الحج: ۷۸.

(۳) مشكوة المصابيح: ۱/ ۱۱، رقم الحديث: ۱۳.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



چې زمونږ په شان لمونځ کوي زمونږ په شان قبلې ته مخ کوي او زمونږ حلال شوی حیوان وخوري هغه مسلمان دی او هغه د خدای او د خدای د رسول په عهد او امان کې دی نو (خدای ﷻ) چې څوک په خپل امان کې اخیستی دی تاسو د هغه عهد مه ماتوئ.

### دوه شپیتمه عقیده: موږ د مسلماني ټولنې سره مخالفت نه کوو.(۱)

لقوله تعالی:

وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا.(۲)

ژباړه: او منګولې ولګوئ (اې مؤمنانو!) په رسۍ د الله (چې قرآن دی) ټول او مه سره مختلف کیږئ (وروسته له اسلامه).

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَأُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ.(۳)

ژباړه: او مه کیږئ تاسې په شان د هغو کسانو چې سره جلا (جدا) شول او اختلاف (جګړې) یې وکړې د دین په اصولو کې وروسته له هغه چې راغلي وو دوی ته دلائل ښکاره (د اسلام د حقیقت) او دا (متفرقان، مختلفان مقرر دی) دوی ته عذاب دی لوی (د دوزخ).

إِنَّ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا لَسْتَ مِنْهُمْ فِي شَيْءٍ إِنَّمَا أَمْرُهُمْ إِلَى اللَّهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ بِمَا كَانُوا يَفْعَلُونَ.(۴)

ژباړه: بې شکه هغه کسان چې تار په تار کړی یې دی دین خپل (چې ځینې یې مني او ځینې یې نه مني) او شول دوی فرقې فرقې، نه یې ته له دوی نه په هیڅ شي کې (یعني هیڅ ورته مه کوه) بې شکه هم دا خبره ده چې امر (کار) د دوی (سپارلی شوی دی) الله ته بیا به خبر کړي (الله) دوی په هغه چې وو دوی چې کول به یې.

(۱) ولا نخالف جماعة المسلمين. العقيدة الطحاوية ص: ۲۰.
(۲) سورة آل عمران: ۱۰۳.
(۳) سورة آل عمران: ۱۰۵.
(۴) سورة الأنعام: ۱۵۹.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ولما روي:

وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: «من رأى أميره يكرهه فليصبر فإنه لَيسَ أَحَدٌ يُفَارِقُ الْجَمَاعَةَ شبرًا فَيَمُوتُ إِلَّا مَاتَ ميتة جاهِلِيَّةً». متفق عليه(۱)

ژباړه: له حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کې چې څوک د خپل حاکم د لوري داسې خبره ووینې چې پر هغه ښه نه لګیږي نو صبر دې وکړي ځکه چې څوک د ډلې څخه یوه لوېشت بېل شو او په دې حال کې مړ شو نو د هغه مرګ به د جاهلیت مرګ وي.

درې شپیتمه عقیده: موږ هیڅوک د اهل قبله و څخه د ګناه په وجه کافر نه ګڼو، مګر دا چې په قطعي دلیل ثابته ګناه حلاله وګڼي.(۲)

لقوله تعالی:

إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ.(۳)

ژباړه: بې شکه چې الله نه بښي دا چې شریک و نیولی شي له الله سره او بښي هغه (ګناه) چې ښکته وي له شرکه (لویه وي که وړه) هغه چا ته چې اراده وفرمایي (د مغفرت یې).

ولما روي:

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحَوْلَهُ عِصَابَةٌ مِنْ أَصْحَابِهِ «بَايِعُونِي عَلَى أَنْ لَا تُشْرِكُوا بِاللَّهِ شَيْئًا وَلَا تَسْرِقُوا وَلَا تَزْنُوا وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ وَلَا تَأْتُوا بِبُهْتَانٍ تَفْتَرُونَهُ بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَأَرْجُلِكُمْ وَلَا تَعْصُوا فِي مَعْرُوفٍ فَمَنْ وَفَى مِنْكُمْ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا فَعُوقِبَ بِهِ فِي الدُّنْيَا فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَهُ وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا ثُمَّ سَتَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا فَهُوَ إِلَى اللَّهِ: إِنْ شَاءَ عَفَا عَنْهُ وَإِنْ شَاءَ عَاقَبَهُ « فَبَايَعْنَاهُ عَلَى ذَلِكَ». متفق عليه(٤)

ژباړه: له حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د

---

(۱) مشکوة المصابیح: ۲/ ۱۰۸۶، رقم الحدیث: ۳۶۶۸.
(۲) ولا نکفر أحدا من أهل القبلة بذنب ما لم یستحله. العقیدة الطحاویة ص: ۲۱.
(۳) سورة النساء: ۴۸.
(٤) مشکوة المصابیح: ۱/ ۱۳، رقم الحدیث: ۱۸، وأخرجه أیضا أحمد: ۵/ ۳۲۰، رقم الحدیث: ۲۲۷۸۵، والترمذي:

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



صحابه کرامو هغه ډلې ته کوم چې شاوخوا ناست وو وفرمایل: په دې خبره زما سره بیعت وکړئ چې تاسو به د خدای سره هیڅوک نه شریکوئ، غلا به نه کوئ، زنا به نه کوئ، خپل اولاد به نه وژنئ (د مفلسۍ د ویرې)، پر چا به د خانه تهمت نه وایاست چې دروغ جوړوئ مخامخ (یعني ځای پر ځای) او په نیکو کارونو کې به نافرماني نه کوئ، نو کوم سړی چې په تاسو کې دا عهد پوره کړي د هغه ثواب د الله ﷻ پر ذمه دی او چا چې د دې خلاف وکړل او په دنیا کې هغه ته د دې سزا ورکړی شوه نو دا سزا د هغه کفاره ده او چا چې په دې کې د یوې خبرې خلاف عمل وکړ او خدای جل جلاله پر هغه پرده واچول نو هغه د خدای خوښه ده که یې معاف کوي یا د هغې سزا ورکوي، عباده وایې: موږ ټولو پر دې بیعت وکړ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم: «بَادِرُوا بِالْأَعْمَالِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا وَيُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا يَبِيعُ دِينَهُ بِعَرَضٍ مِن الدُّنْيَا». رَوَاهُ مُسلم [1]

ژباړه: له حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په نیکو اعمالو کې تلوار کوئ او ددې فتنو د راتلو څخه مخکې چې د تاریکې شپې د ټکړو په ډول به وي چې (هغه وخت به) ځوک په سهار کې د ایمان په حالت کې پورته کیږي او ماښام ته به کافر شي او په ماښام کې به مؤمن وي او سهار ته به کافر شي خپل دین به د دنیا په لږ سامان خرخ کړي.

استحلال المعصية كفر اذا ثبت كونها معصية بدليل قطعي. [2]

ژباړه: ګناه روا بلل کفر دی خو چې ګناه توب یې په دلیل قطعي سره ثابت شي.

۴۵/۴، رقم الحديث: ۱۴۳۹، وقال: «حسن صحيح»، والنسائى: ۷/ ۱۴۸، رقم الحديث: ۴ ۱۷۸.
(۱) مشكوة المصابيح: ۳/ ۱۴۸۲، رقم الحديث: ۵۳۸۳.
(۲) الدرمع الرد: ۲/ ۲۹۲. ط: دارالفكر-بيروت.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## څلور شپیتمه عقیده: موږ دا نه وایو چې له ایمان سره ګناهکار ته ګناه ضرر نه رسوي.(۱)

لقوله تعالی:

﴿إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَىٰ ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا﴾(۲)

ژباړه: بې شکه هغه کسان چې خوري دوی مالونه د یتیمانو په ظلم سره (بې له شرعي اذنه) خبره دا ده چې خوري دوی په (ګېډو) ګېډو [نسونو] خپلو سره اور او ژر به ورسیږي (ننه به وځي) دوی اور سخت ته.

﴿إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَنْ يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ مِنْ خِلَافٍ أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾(۳)

ژباړه: بې شکه هم دا خبره چې جزا د هغو کسانو چې جنګ کوي دوی له (دوستانو) د الله او د رسول د ده سره او سعي کوي (منډې وهي) دوی په ځمکه (په ملک) کې لپاره د فساد (او بدامنۍ غورځولو) چې دوی وژلی شي یا دې په دار کړی شي یا دې پرې کړی شي لاسونه د دوی او پښې د دوی سره مخالفې (یعنې ښی لاس او کینه پښه یا عکس د دې) یا دې وشړلی شي له ځمکې (په حبس سره یا له هغه ځایه بل لرې ځای ته) دا (مذکوره جزا) دغو (غلو) ته رسوایي ده په دنیا کې او (شته) دغو (غلو) ته په آخرت کې عذاب ډېر لوی.

---

(۱) ولا نقول: لا يضر مع الايمان ذنب لمن عمله. العقيدة الطحاوية ص: ۲۱.

(۲) سورة النساء: ۱۰.

(۳) سورة المائدة: ۳۳.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ولما روي:

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحَوْلَهُ عِصَابَةٌ مِنْ أَصْحَابِهِ: «بَايِعُونِي عَلَى أَنْ لَا تُشْرِكُوا بِاللهِ شَيْئًا وَلَا تَسْرِقُوا وَلَا تَزْنُوا وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ وَلَا تَأْتُوا بِبُهْتَانٍ تَفْتَرُونَهُ بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَأَرْجُلِكُمْ وَلَا تَعْصُوا فِي مَعْرُوفٍ فَمَنْ وَفَى مِنْكُمْ فَأَجْرُهُ عَلَى اللهِ وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا فَعُوقِبَ بِهِ فِي الدُّنْيَا فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَهُ وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا ثُمَّ سَتَرَهُ اللهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا فَهُوَ إِلَى اللهِ: إِنْ شَاءَ عَفَا عَنْهُ وَإِنْ شَاءَ عَاقَبَهُ فَبَايَعْنَاهُ عَلَى ذَلِكَ». متفق عليه[1]

ژباړه: له حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د صحابه کرامو هغه ډلې ته کوم چې شا وخوا ناست وو وفرمايل: په دې خبره زما سره بيعت وکړئ چې تاسو به د خدای سره هيڅوک نه شريکوئ، غلا به نه کوئ، زنا به نه کوئ، خپل اولاد به نه وژنئ (د مفلسۍ د ويرې)، پر چا به د ځانه تهمت نه وایاست چې درواغ جوړوئ مخامخ (يعني ځای پر ځای) او په نيکو کارونو کې به نافرماني نه کوئ، نو کوم سړی چې په تاسو کې دا عهد پوره کړي د هغه ثواب د الله ﷻ پر ذمه دی او چا چې د دې خلاف وکړل او په دنيا کې هغه ته د دې سزا ورکړی شوه نو دا سزا د هغه کفاره ده او چا چې په دې کې د يوې خبرې خلاف عمل وکړ او خدای ﷻ پر هغه پرده واچول نو هغه د خدای خوښه ده که يې معاف کوي يا د هغې سزا ورکوي، عباده وايي: موږ ټولو پر دې بيعت وکړ.

(1) مشكوة المصابيح: ١/ ١٣، رقم الحديث: ١٨، وأخرجه أيضا أحمد: ٥/ ٣٢٠، رقم الحديث: ٢٢٧٨٥، والترمذي: ٤/ ٤٥، رقم الحديث: ١٤٣٩، وقال: «حسن صحيح»، والنسائي: ٧/ ١٤٨، رقم الحديث: ٤١٧٨، والدارقطني: ٣/ ٢١٥.

ketabton.com - The Digital Library



پنځمه شپېتمه عقيده: موږ د نيکو مؤمنانو لپاره د عفوې هيله لرو، چې الله ﷻ به يې په خپل رحمت جنت ته داخل کړي، خو په يقيني توګه د هغوی په خونديتوب ډاډه نه يو او نه هم داګواهي ورکوو چې دوی به خامخا جنت ته ځي او ګناهکارانو ته يې له الله ﷻ څخه بخښنه غواړو، پر دوی وېره لرو، خو نا اميده کوو يې نه.(۱)

لقوله تعالى:

إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ.(۲)

ژباړه: بې شکه چې الله ننباسي هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او کړي يې دي ښه (عملونه په داسې) جنتونو کې چې بهيږي له لاندې (د ونو او ماڼيو د هغو ځلور قسمه) ويالې، بې شکه چې الله کوي هر هغه چې اراده يې وکړي.

أَفَأَمِنُوا مَكْرَ اللَّهِ فَلَا يَأْمَنُ مَكْرَ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْخَاسِرُونَ.(۳)

ژباړه: آيا نو په امن کې دي دوی (بلکې نه دي) له مکره (ناڅاپه نيولو) د الله، نو نه په امن کيږي له مکره د الله مګر قوم زيانکاران (په کفر او نفاق سره).

وَالَّذِينَ جَاءُوا مِنْ بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ.(۴)

ژباړه: او (اموال) هغو (کسانو لره دي) چې راغلي دي راځي وروسته له دغو (مهاجرو او انصارو) نه، وايي دوی چې اې ربه زمونږ! مغفرت وکړه مونږ ته او هغو (ديني) ورونو زمونږ ته چې ړومبی داخل شوي دي (له مونږ څخه) په ايمان کې او مه ګرځوه په زړونو زمونږ کې بغض کينه د هغو کسانو سره چې ايمان يې راوړی دی بې شکه ته (يا الله) ښه مهرباني کوونکی خورا (ډېر) رحم والايې.

---

(۱) نرجو للمحسنين من المؤمنين أن يعفو عنهم ويدخلهم الجنة برحمته ولا نأمن عليهم ولا نشهد لهم بالجنة ونستغفر لمسيئهم ونخاف عليهم ولا نقنطهم. العقيدة الطحاوية ص: ۲۱.

(۲) سورة الحج: ۱۴.

(۳) سورة الأعراف: ۹۹.

(۴) سورة الحشر: ۱۰.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



﴿لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللَّهُ فَيَغْفِرُ لِمَنْ يَشَاءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾(١)

ژباړه: (خاص) الله لره دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي (له مواليدو، عناصرو او نورو ټولو علويياتو او سفلياتو، سره له آسمانونو او ځمکې ملکا وخلقا وعبيدا) او كه ښكاره كړئ تاسې هغه (ارادې او بد نيتونه) چې په زړونو ستاسې کې دي يا پټ كړئ تاسې هغه، حساب به وكړي له تاسې سره په هغه باندې الله، پس مغفرت کوي هغه چا ته چې اراده وكړي (الله د مغفرت يې) او په عذابوي به هغه څوک چې اراده وكړي (الله د عذابولو يې) او الله په هر شي باندې ښه قادر دی (له ثوابه او عقابه او حسابه هم).

﴿وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ يَغْفِرُ لِمَنْ يَشَاءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾(٢)

ژباړه: او (خاص) الله لره دي هر هغه څه چې په آسمانونو کې دي او هر څه چې په ځمکه کې دي (سره له اسمانونو او ځمکې ملکا خلقا او عبيدا) بښنه کوي الله هر هغه ته چې اراده وفرمايي د بښنې يې او په عذابوي الله هر چا ته چې اراده وفرمايي د عذاب يې او الله ښه بښونكى (د خطياتو) ډېر رحم والا دی (د اجر او ثواب په انعام سره).

﴿قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ﴾(٣)

ژباړه: ووايه (اې محمده! چې فرمايي الله) اې بنده ګانو! (مؤمنانو) زما هغو كسانو چې اسراف يې كړى دى پر نفسونو خپلو مه نا اميده كيږئ له رحمته د الله (ځكه چې) بې شكه الله مغفرت كوي ښنې ګناهونه ټول (اګر كه ډېر هم وي بې له

---

(١) سورة البقرة: ٢٨٤.
(٢) سورة آل عمران: ١٢٩.
(٣) سورة الزمر: ٥٣.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



شرکه) بې شکه چې الله هم دی ذی بنه بښونکی (د خطیاتو) د بېر رحم والا (په انعام د اجر او ثواب سره).

ولما روي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَنْ يُنْجِيَ أَحَدًا مِنْكُمْ عَمَلُهُ» قَالُوا: وَلَا أَنْتَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: «وَلَا أَنَا إِلَّا أَنْ يَتَغَمَّدَنِيَ اللهُ مِنْهُ بِرَحْمَتِهِ فَسَدِّدُوا وَقَارِبُوا وَاغْدُوا وروحوا وشيءٌ من الدُّلْجَةِ والقَصدَ القصدَ تبلغوا». متفق عليه(۱)

ژباړه: له حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل: نجات نه شي ورکولی هیچا ته د هغه عمل، صحابه کرامو پوښتنه وکړه: اې د الله رسوله! تاسو هم نه؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: هو، زه هم نه، پرته د دې څخه چې د الله تعالی رحمت ما په غېږ کې واخلي، له دې کبله تاسو ته په کار ده چې خپل اعمال سم کړئ او میانه روي غوره کړئ او سهار ماښام او څه برخه د شپې په تېربدو سره عبادت کوئ او په هر کار کې میانه روي غوره کړئ نو خپل مقصد به تر لاسه کړئ.

عن سعيد بن المسيب قال: «لو شهدت على أحد أنه من أهل الجنة لشهدت على ابن عمر».(۲)

ژباړه: مشهور تابعي عالم سعید بن المسیب رحمه الله فرمایلي دي: که چېرته ما د یو چا په هکله دا ګواهي ورکولای چې هغه جنتي دی نو خامخا به مې د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما په هکله دا ګواهي ورکړې وای.

---

(۱) مشكوة المصابيح: ۷۳۲/۲، رقم الحديث: ۲۳۷۱.

(۲) المستدرك على الصحيحين للحاكم: ۶۴۴/۳، رقم الحديث: ۶۳۶۶.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



شپږ شپیتمه عقیده: (د الله ﷻ له عذابه) ډار او (له رحمت څخه یې) ناهیلي بنده له اسلامه باسي او تر منځ یې د اهل قبله لپاره د حق لاره ده (مسلمان به د ډار او ناهیلي تر منځ وي).(١)

لقوله تعالی:

قَالَ وَمَنْ يَقْنَطُ مِنْ رَحْمَةِ رَبِّهِ إِلَّا الضَّالُّونَ (٢)

ژباړه: وویل (ابراهیم چې زه نه یم ناامیده) او څوک دی چې ناامیده کیږي به له رحمته د رب خپل (نه ناامیده کیږي هیڅوک) مګر خو ګمراهان (کافران).

وَلَا تَيْأَسُوا مِنْ رَوْحِ اللَّهِ إِنَّهُ لَا يَيْأَسُ مِنْ رَوْحِ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْكَافِرُونَ (٣)

ژباړه: او مه ناامیده کیږئ له فیضه د الله بې شکه شان دا دی چې نه ناامیده کیږي له فیضه د الله څخه مګر قوم کافران (منکران له الله او صفاتو د الله).

أَفَأَمِنُوا مَكْرَ اللَّهِ فَلَا يَأْمَنُ مَكْرَ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْخَاسِرُونَ (٤)

ژباړه: آیا نو په امن کې دي دوی (بلکې نه دي) له مکره (ناڅاپه نیولو) د الله. نو نه په امن کیږي له مکره د الله مګر قوم زیانکاران (په کفر او نفاق سره).

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُورًا (٥)

ژباړه: دغه (معبودان) هغه دي چې عبادت یې کوي کفار، لټوي دغه (کفار) طرف د رب خپل ته وسیله (د نژدې والي) چې کوم یو له دوی څخه ډېر نژدې دی الله ته او امید لري د رحمت د دغه (الله ﷻ) او ویریږي دوی له عذابه د دغه (الله ﷻ)، نو څنګه یې بولئ خدایان؟) بې شکه عذاب د رب ستا (ور او لائق د دې) دی چې ویره ترې

---

(١) والأمن والإياس ينقلان عن ملة الإسلام وسبيل الحق بينهما لأهل القبلة. العقيدة الطحاوية ص: ٢١.
(٢) سورة الحجر: ٥٦.
(٣) سورة يوسف: ٨٧.
(٤) سورة الأعراف: ٩٩.
(٥) سورة الاسراء: ٥٧.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



وکړی شي (تل تر تله).

وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا وَادْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا إِنَّ رَحْمَتَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِنَ الْمُحْسِنِينَ.(۱)

ژباړه: او مه کوئ فساد (اې انسانانو) په ځمکه کې وروسته له اصلاح د دې (د انبیاوو په بعثت سره) او بولئ تاسې الله (عبادت یې کوئ) په خوف (ویرې سره (له عذابه د الله ﷻ) او په طمع (امید د رحمت د الله ﷻ) بې شکه چې رحمت (مهرباني) د الله ډېره نژدې ده محسنانو (نیکي کوونکو) ته.

فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَوَهَبْنَا لَهُ يَحْيَى وَأَصْلَحْنَا لَهُ زَوْجَهُ إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ.(۲)

ژباړه: پس قبوله کړه مونږ دعاء د دغه (زکریا) او وموبانښه دغه (زکریا) ته یحیی او صالحه مو کړه ده ته ښځه د ده (د ولادت لپاره له شنډوالي ځخه وروسته) بې شکه دغه (مذکور انبیاء) وو دوی چې تلوار به یې کاوه په (کولو د نیکو عملونو او طلب) د خیراتونو او بللو به یې مونږ له جهته د مینې (د ثواب) او له جهته د ویرې (د عذاب) او وو دوی خاص مونږ ته ویریدونکي متواضع.

وَالَّذِينَ يُصَدِّقُونَ بِيَوْمِ الدِّينِ وَالَّذِينَ هُمْ مِنْ عَذَابِ رَبِّهِمْ مُشْفِقُونَ إِنَّ عَذَابَ رَبِّهِمْ غَيْرُ مَأْمُونٍ.(۳)

ژباړه: او هغه کسان (هم هلوع نه دي) چې مصدق (باور کوونکي) په ورځ د انصاف جزاء باندې، او هغه کسان (هم هلوع نه دي) چې دوی له عذاب د رب خپل ویریدونکي وي (اګر که په عبادت کې یې ډېر کوښښ هم کړی وي) بې شکه له عذابه د رب دوی نه دي پر امن کړی شوي (بلکې تل ترې ویرېږي).

(۱) سورة الأعراف: ۵۶.
(۲) سورة الأنبیاء: ۹۰.
(۳) سورة المعارج: ۲۶-۲۸.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



**اووه شپېتمه عقیده: مسلمان له ایمان څخه یوازې د هغه څه په انکار سره وځي، په کوم څه چې نوموړی په ایمان کې داخل شوی وي.(۱)**

لقوله تعالی:

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ ثُمَّ أَعْرَضَ عَنْهَا إِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِينَ مُنْتَقِمُونَ.(۲)

ژباړه: او څوک دی ډېر ظالم له هغه چا چې پند ورکړی شي په آیتونو د رب خپل (قرآن) بیا مخ وګرځوي ترې (فکر او غور ونه کړي پکې او وروسته له پوهېدلو ترې بیرته وګرځي بلکې له دې نه ډېر ظالم نشته) بې شکه چې مونږ له دغو مجرمانو څخه انتقام اخیستونکي یو (په عذاب سره).

فَلَنُذِيقَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا عَذَابًا شَدِيدًا وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَسْوَأَ الَّذِي كَانُوا يَعْمَلُونَ ذَلِكَ جَزَاءُ أَعْدَاءِ اللَّهِ النَّارُ لَهُمْ فِيهَا دَارُ الْخُلْدِ جَزَاءً بِمَا كَانُوا بِآيَاتِنَا يَجْحَدُونَ.(۳)

ژباړه: (فرمايي الله تعالی چې) پس خامخا به څکوو مونږ هرومرو (خامخا) هغو کسانو ته چې کافران شوي دي عذاب سخت او خامخا جزاء به ورکړو مونږ هرومرو دوی ته ډېره بده سزا د هغو اعمالو چې وو دوی چې کول به یې، دغه (سخت عذاب) جزاء ده د دښمنانو د الله یعني چې اور دی، شته دوی ته په دغه اور کې کور د همیشه والي (لپاره د جزاء) په جزاء ورکولو په سبب د هغه چې وو دوی (په دنیا کې) چې په آیتونو زمونږ (قرآن) انکار به یې کاوه.

قَدْ نَعْلَمُ إِنَّهُ لَيَحْزُنُكَ الَّذِي يَقُولُونَ فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ.(۴)

ژباړه: په تحقیق مونږ پوهېږو بې شکه شان دا دی چې خامخا خپه کوي تا (اې

(۱) ولا يخرج العبد من الايمان الا بجحود ما أدخله فيه. العقيدة الطحاوية ص: ۲۱.

(۲) سورة الم السجدة: ۲۲.

(۳) سورة حم السجدة: ۲۷، ۲۸.

(۴) سورة الأنعام: ۳۳.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



محمده !) هغه شي چې وايي دوی (ستا په تکذیب کې) نو بې شکه دوی نه کوي تکذیب ستا (په واقع کې) ولیکن دا ظالمین په آیتونو د الله انکار (او مسخري) کوي.

وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ. (۱)

ژباړه: او منکران شول دوی په دغو (آیتونو) حال دا چې یقین کړی و په دغو معجزاتو نفسونو د دوی (چې حق او له جانبه د الله دي لیکن انکار ترې وکړ دوی) له جهته د ظلم او سرکشي پس وګوره څرنګه و عاقبت (آخره خاتمه) د مفسدانو (من الغرق والحرق).

**اته شپېتمه عقیده: د لویو ګناهونو خاوندان که څه هم توبه ونه باسي خو چې پر توحید مړه شي، په جهنم کې د تل لپاره نه پاتې کیږي، نو که الله ﷻ وغواړي هغوی به په خپل فضل وبخښي او که وغواړي په خپل عدل به عذاب ورکړي او بیا یې په خپل رحمت او د اطاعت کوونکو شافعینو په شفاعت له اور څخه راوباسي او جنت ته به یې بوځي. (۲)**

لقوله تعالی:

وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ يَغْفِرُ لِمَنْ يَشَاءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ. (۳)

ژباړه: او (خاص) الله لره دي هر هغه څه چې په آسمانونو کې دي او هر څه چې په ځمکه کې دي (سره له اسمانونو او ځمکې ملکا خلقا او عبیدا) ببښنه کوي الله

---

(۱) سورة النمل: ۱۴.

(۲) وأهل الكبائر من أمة محمد صلى الله عليه وسلم في النار لا يخلدون إذا ماتوا وهم موحدون وإن لم يكونوا تائبين بعد أن لقوا الله عارفين مؤمنين، وهم في مشيئته وحكمه: إن شاء غفر لهم وعفا عنهم بفضله كما ذكر عز وجل في كتابه: «ويغفر ما دون ذلك لمن يشاء»، وإن شاء عذبهم في النار بعدله ثم يخرجهم منها برحمته وشفاعة الشافعين من أهل طاعته ثم يبعثهم إلى جنته وذلك بأن الله تعالى تولى أهل معرفته ولم يجعلهم في الدارين كأهل نكرته الذين خابوا من هدايته ولم ينالوا من ولايته اللهم يا ولي الإسلام وأهله ثبتنا على الإسلام حتى نلقاك به. العقيدة الطحاوية ص: ۲۲، ۲۳.

(۳) سورة آل عمران: ۱۲۹.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



هر هغه ته چې اراده وفرمايي د ببښني يې او په عذابوي الله هر چا ته چې اراده وفرمايي د عذاب يې او الله ښه ببښونکی (د خطياتو) ډېر رحم والا دی (د اجر او ثواب په انعام سره).

﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ﴾(۱)

ژباړه: بې شکه چې الله نه ببښي دا چې شريک ونيولی شي له الله سره او ببښي هغه (ګناه) چې ښکته وي له شرکه (لويه وي که وړه) هغه چا ته چې اراده وفرمايي (د مغفرت يې).

ولما روي:

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحَوْلَهُ عِصَابَةٌ مِنْ أَصْحَابِهِ: «بَايِعُونِي عَلَى أَنْ لَا تُشْرِكُوا بِاللَّهِ شَيْئًا وَلَا تَسْرِقُوا وَلَا تَزْنُوا وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ وَلَا تَأْتُوا بِبُهْتَانٍ تَفْتَرُونَهُ بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَأَرْجُلِكُمْ وَلَا تَعْصُوا فِي مَعْرُوفٍ فَمَنْ وَفَى مِنْكُمْ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا فَعُوقِبَ بِهِ فِي الدُّنْيَا فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَهُ وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا ثُمَّ سَتَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا فَهُوَ إِلَى اللَّهِ: إِنْ شَاءَ عَفَا عَنْهُ وَإِنْ شَاءَ عَاقَبَهُ فَبَايَعْنَاهُ عَلَى ذَلِكَ». متفق عليه(۲)

ژباړه: له حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د صحابه کرامو هغه ډلې ته کوم چې شاوخوا ناست وو وفرمايل: په دې خبره زما سره بيعت وکړئ چې تاسو به د خدای ﷻ سره هيڅوک نه شريکوئ، غلا به نه کوئ، زنا به نه کوئ، خپل اولاد به نه وژنئ (د مفلسۍ د وېرې)، پر چا به د ځانه تهمت نه وایاست چې دروغ جوړوئ مخامخ (يعني ځای پر ځای) او په نيکو کارونو کې به نافرماني نه کوئ، نو کوم سړی چې په تاسو کې دا عهد پوره کړي د هغه ثواب د الله پر ذمه دی او چا چې د دې خلاف وکړل او په دنيا کې هغه ته د دې سزا ورکړی شوه نو دا سزا د هغه کفاره ده او چا چې په دې کې د يوې خبرې خلاف عمل وکړ او خدای جل جلاله پر هغه پرده واچول نو هغه د خدای خوښه ده که يې معاف کوي يا د هغې سزا ورکوي، عباده وايي: موږ ټولو پر دې بيعت وکړ.

---

(۱) سورة النساء: ۴۸.

(۲) مشكوة المصابيح: ۱/۱۳، رقم الحديث: ۱۸، وأخرجه أيضا أحمد: ۵/۳۲۰، رقم الحديث: ۲۲۷۸۵، والترمذي: ۴/۴۵، رقم الحديث: ۱۴۳۹، وقال: «حسن صحيح»، والنسائي: ۷/ ۱۴۸، رقم الحديث: ۴۱۷۸.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



عن أنس - في حديث طويل - يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ: لا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَكَانَ فِي قَلْبِهِ مِنَ الخَيْرِ مَا يَزِنُ شَعِيرَةً، ثُمَّ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ: لاَ إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَكَانَ فِي قَلْبِهِ مِنَ الخَيْرِ مَا يَزِنُ بُرَّةً، ثُمَّ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ: لاَ إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَكَانَ فِي قَلْبِهِ مَا يَزِنُ مِنَ الخَيْرِ ذَرَّةً.(۱)

ژباړه: له حضرت انس رضي الله عنه څخه په يو اوږد حديث کې مرفوعا روايت دی چې: له اور څخه به هغه څوک راوځي چې «لا اله الا الله» کلمه يې ويلې وي او په زړه کې يې د اوربشې د دانې په اندازه خير وي، بيا به له اور څخه هغه څوک راووځي چې «لا اله الا الله» کلمه يې ويلې وي او په زړه کې يې د غنم د دانې په اندازه خير وي، بيا به له اور څخه هغه څوک راووځي چې «لا اله الا الله» کلمه يې ويلې وي او په زړه کې يې د ذرې برابر خير وي.

**نهه شپېتمه عقيده: موږ د اهل قبله و څخه په هر صالح او فاسق پسې لمونځ کوو او چې مړه شي جنازه يې کوو.(۲)**

لما روي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عَلَيْهِ وَسلم: «الْجِهَادُ وَاجِبٌ عَلَيْكُمْ مَعَ كُلِّ أَمِيرٍ بَرًّا كَانَ أَوْ فَاجِرًا وَإِنْ عَمِلَ الْكَبَائِرَ. وَالصَّلَاةُ وَاجِبَةٌ عَلَيْكُمْ خَلْفَ كُلِّ مُسْلِمٍ بَرًّا كَانَ أَوْ فَاجِرًا وَإِنْ عَمِلَ الْكَبَائِرَ. وَالصَّلَاةُ وَاجِبَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ بَرًّا كَانَ أَوْ فَاجِرًا وَإِنْ عَمِلَ الْكَبَائِرَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد(۳)

ژباړه: له حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: پر تاسو جهاد واجب دی سره د هر امير که هغه نيک وي يا بد، که څه هم هغه لويه ګناه کوي، او پر تاسو لمونځ واجب دی په هر مسلمان پسې که هغه نيک وي يا بد وي که څه هم هغه لويه ګناه کوي او جنازه کول واجب دي پر هر مسلمان که نيک وي يا بد وي که څه هم هغه لويه ګناه کوي.

---

(۱) صحيح البخاري: ۱۲۱/۹، رقم الحديث: ۷٤۱۰.

(۲) ونرى الصلوة خلف كل بروفاجر من أهل القبلة ونصلي على من مات منهم. العقيدة الطحاوية ص: ۲۳.

(۳) مشكوة المصابيح: ۳٥۱/۱، رقم الحديث: ۱۱۲٥.

✍ عن أبي هريرة، أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: « صلوا خلف كل بروفاجر وصلوا على كل بروفاجر وجاهدوا مع كل بروفاجر». (السنن الكبرى للبيهقي: ۲۹/۴، رقم الحديث: ۶۸۳۲)

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



اوپایمه عقیده: موږ هیڅوک جنتي یا دوزخي نه کنو او د هغوی په وړاندې د کفر، شرک او نفاق شاهدي نه ورکوو، ترڅو چې له دوی څخه په ښکاره توګه کفر، شرک او یا نفاق ښکاره شوی نه وي او د هغوی رازونه الله ﷻ ته پرېږدو.[1]

لقوله تعالی:

رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِكُمْ إِنْ يَشَأْ يَرْحَمْكُمْ أَوْ إِنْ يَشَأْ يُعَذِّبْكُمْ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ وَكِيلًا.[2]

ژباړه: رب ستاسې ښه عالم خبردار دی پر تاسې، که اراده وفرمايي (د رحمت ستاسې) نو رحمت به وکړي پر تاسې (په عطاء د ایمان او قبول د توبې) یا که اراده وفرمایي (د عذابولو د تاسې) نو عذاب به درکړي تاسې ته (په کفر او عصیان سره) او نه یې لیږلی مونږ ته پر دوی وکیل (ذمه وار).

ولما روي:

في حديث طويل: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إني لم أومر أن أنقب عن قلوب الناس ولا أشق بطونهم .[3]

ژباړه: په یو اوږد حدیث کې راځي: رسول کریم ﷺ فرمایي: ما ته دا حکم نه دی شوی چې زه د خلکو له زړونو څخه پردې پورته کړم یا یې خیټې وڅیرم

(۱) ولا ننزل أحدا منهم جنة ولا نارا ولا نشهد عليهم بكفرولا بشرك ولا بنفاق ما لم يظهر منهم شيء من ذلك ونذر سرائرهم إلى الله تعالى.العقيدة الطحاوية ص: ۲۳، ۲۴.

(۲) سورة الاسراء: ۵۴.

(۳) صحيح البخاري: ۵/ ۱۶۳، رقم الحديث: ۴۳۵۱.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَيُّمَا رَجُلٍ قَالَ لِأَخِيهِ كَافِرٌ فَقَدْ بَاءَ بِهَا أَحَدُهُمَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.(۱)

ژباړه: له حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل: کوم څوک چې خپل مسلمان ورور ته کافر ووایي نو په هغو دواړو کې یو کس د کفر د دې کلمې وړ ګرځېدلی دی.

(۱) مشکوة المصابیح: ۳/ ۱۳۵۶، رقم الحدیث: ۴۸۱۵، وأخرجه أیضا أحمد: ۴۷/۲، رقم الحدیث: ۵۰۷۷، والترمذي: ۲۲/۵، ۲۶۳۷.

عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال إذا قال الرجل لأخيه يا كافر فقد باء به أحدهما. (صحيح البخاري: ۲۶/۸، رقم الحديث: ۶۱۰۳)

عن ثابت بن الضحاك عن النبي صلى الله عليه وسلم قال من حلف بملة غير الإسلام كاذبا فهو كما قال ومن قتل نفسه بشيء عذب به في نار جهنم ولعن المؤمن كقتله ومن رمى مؤمنا بكفر فهو كقتله. (صحيح البخاري: ۲۶/۸، رقم الحديث: ۶۱۰۵)

عن عبد الرحمن بن أبي بكرة عن أبيه قال أثنى رجل على رجل عند النبي صلى الله عليه وسلم فقال ويلك قطعت عنق صاحبك قطعت عنق صاحبك مرارا ثم قال من كان منكم مادحا أخاه لا محالة فليقل أحسب فلانا والله حسيبه ولا أزكي على الله أحدا أحسبه كذا وكذا إن كان يعلم ذلك منه. (صحيح البخاري: ۳/ ۱۷۶، رقم الحديث: ۲۶۶۲).

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



# د ايمان تفصيل

**يو اويايمه عقيده: په ژبه اقرار او په زړه تصديق ايمان دی.(۱)**

لقوله تعالى:

﴿يَقُولُونَ بِأَفْوَاهِهِم مَّا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يَكْتُمُونَ﴾(۲)

ژباړه: وايي دوی (منافقان) په خولو خپلو سره هغه (خبره) چې نشته (پرې تصديق) په زړونو د دوی کې، او الله ښه پوه دی په هغه څه (هم) چې پټوي يې دوی (په زړونو خپلو کې له حسد او کفره).

﴿قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُل لَّمْ تُؤْمِنُوا وَلَٰكِن قُولُوا أَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ فِي قُلُوبِكُمْ﴾(۳)

وويل صحرائيانو ايمان راوړی دی مونږ، ووايه (اې محمده! دوی ته) له سره ايمان نه دی راوړی تاسې وليکن ووايئ اسلام راوړی دی مونږ او له سره نه دی ننوتی ايمان په زړونو ستاسې کې.

﴿لَّا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ أُولَٰئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ﴾(۴)

ژباړه: نه به مومې ته (اې محمده! او نه ښايېږي چې بيا مومې) يو قوم چې ايمان يې راوړی وي په الله او په ورځې آخرې (د قيامت) چې دوستي به کوي دوی له هغه چا سره چې مخالفت کوي له [د] الله او له [د] رسول د دغه (الله ﷻ) نه [څخه] اګر که وي (دغه مخالفين) پلرونه د دوی او زامن د دوی يا ورونه د دوی يا (نور قبيله) خپلوان د دوی دغه (قوم چې له اعداء الله سره دوستي نه کوي)

---

(۱) والإيمان هو الإقرار باللسان والتصديق بالجنان. العقيدة الطحاوية ص: ۲۱.
(۲) سورة آل عمران: ۱۶۷.
(۳) سورة الحجرات: ۱۴.
(۴) سورة المجادلة: ۲۲.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



لیکلی دی (الله ﷻ) په زړونو د دوی کې ایمان.

يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ لَا يَحْزُنْكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْكُفْرِ مِنَ الَّذِينَ قَالُوا آمَنَّا بِأَفْوَاهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِنْ قُلُوبُهُمْ.(۱)

ژباړه: اې (زما) رسوله (محمده!) په غم کې دې نه اچوي تا (فعل د) هغو کسانو چې بېړه کوي (او عنادا ځانونه غورځوي) په کفر کې له هغو کسانو چې ویل دوی ایمان راوړی دی مونږ (تش) په خولو خپلو، حال دا چې ایمان نه و راوړی زړونو د دوی.

ولما روي:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ وَيُقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَوٰةَ فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّ الْإِسْلَامِ وحسابهم على الله. إِلَّا أَنَّ مُسْلِمًا لَمْ يَذْكُرْ» إِلَّا بِحَقِّ الْإِسْلَامِ». متفق عليه.(۲)

ژباړه: له حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ما ته (د خدای له لوري) دا حکم راکول شوی دی چې زه تر هغه وخته پورې له خلکو سره وجنګیږم تر څو چې هغوی د دې خبرې په ژبه او زړه سره اقرار نه وي کړی چې د الله څخه پرته بل معبود نشته او محمد ﷺ د خدای رسول دی او بیا هغوی لمونځ کوي او زکات ورکوي بیا چې هغوی دا سې کوي نو زما څخه به خپل ځانونه او مالونه خلاص کړي او بیا به پر هغوی یوازې د اسلام حقوق وي او د هغوی حساب د خدای پر ذمه دی هغه به یې اخلي او په صحیح مسلم کې د دې الفاظو «الا بحق الاسلام» ذکر نشته.

---

(۱) سورة المائدة: ۴۱.

(۲) مشكوة المصابيح: ۱/ ۱۱، رقم الحديث: ۱۲.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، وَأَنْ يَسْتَقْبِلُوا قِبْلَتَنَا وَيَأْكُلُوا ذَبِيحَتَنَا، وَأَنْ يُصَلُّوا صَلَاتَنَا، فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ حُرِّمَتْ عَلَيْنَا دِمَاؤُهُمْ وَأَمْوَالُهُمْ إِلَّا بِحَقِّهَا، لَهُمْ مَا لِلْمُسْلِمِينَ وَعَلَيْهِمْ مَا عَلَى الْمُسْلِمِينَ». (١)

ژباړه: له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ما ته د خدای له لوري حکم راکول شوی دی چې له خلکو سره تر هغه وجنګېږم تر څو چې دوی کلمه د شهادت «لا اله الا الله محمد رسول الله» ووايي، او زموږ قبلې ته (د لمانځه په موخه) مخ کړي، او زموږ حلال شوی حیوان وخوري او زموږ لمونځ وکړي، کله چې دوی دا کار وکړي نو په موږ باندې د دوی وینې او مالونه حرام شول مګر په حق سره (به يې وينو او مالونو ته تعرض کیږي) د دوی لپاره هغه حقوق دي کوم چې نورو مسلمانانو ته دي او په دوی هغه څه ذمه واریانې او فرائض دي کوم چې په نورو مسلمانانو دي.

**دوه اويايمه عقيده: هغه شرعي حکمونه او د هغو تفصيلونه حق دي چې له رسول الله ﷺ څخه په مستند ډول نقل شوي دي.** (٢)

لقوله تعالی:

وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ. (٣)

ژباړه: او هغه څه چې درکړي تاسې ته رسول (د الله ﷺ) نو وايې خلئ ويئ نيسئ قبول يې کړئ او هغه څه چې منع کوي (رسول الله ﷺ) تاسې له هغه څخه نو بيرته شئ ترې (مه يې غواړئ) او وويريږئ له (عذاب د) الله په ځان ساتلو له معاصيو، بې شکه الله سخت دی عذاب (د ده).

(١) سنن الترمذي ٤/٥ رقم الحديث ٢٦٠٨.
(٢) وجميع ما صح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم من الشرع والبيان كله حق. العقيدة الطحاوية ص: ٢٢.
(٣) سورة الحشر: ٧.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ولما روي:

عَنْ أَبِي رَافِع وَغَيره رفعه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ مُتَّكِئًا عَلَى أَرِيكَتِهِ يَأْتِيهِ أَمر مِمَّا أَمَرْتُ بِهِ أَوْ نَهَيْتُ عَنْهُ فَيَقُولُ لَا أَدْرِي مَا وَجَدْنَا فِي كِتَابِ اللهِ اتَّبَعْنَاهُ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالْبَيْهَقِيّ فِي دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ. وَقَالَ التِّرْمِذِيّ حسن صحيح[1]

ژباړه: له حضرت ابو رافع رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل: زه دې هیڅوک په تاسې کې په دې حال و نه وینم چې هغه په چپرکټ کې تکیه وي او زما د هغه احکامو چې د هغو ما حکم ورکړی وي یا د کوم څخه چې مې منعه کړې وي یو حکم هغه ته راشي او هغه دا وایي چې زه په هیڅ نه پوهیږم څه چې مو د الله په کتاب کې پیدا کړل د هغه اطاعت کوو.

**درې اویایمه عقیده: ایمان یو دی او مومنان په اصل ایمان کې سره برابر دي، د دوی تر منځ د غوره والي او توپیر معیار له الله ﷻ څخه وېره، تقوی، د خواهشاتو مخالفت او د اولی کارونو پیروي ده.[2]**

لقوله تعالى:

آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ.[3]

ژباړه: تصدیق (باور) کړی دی رسول په هغه شي چې نازل کړی شوی دی ده ته له (طرفه د) رب د ده او مؤمنانو (هم تصدیق او باور کړی دی) ټولو (د دوی) تصدیق (باور) کړی دی په الله باندې او په پرښتو د ده او په کتابو د ده او په رسولانو د ده (په داسې حال کې چې وایې دوی) فرق نه کوو په منځ د هیڅ یو (رسول) له رسولانو د الله کې، او وایې (رسول الله او مؤمنان) واورېده مونږ (پیغام ستا) او قبول کړ مونږ

(۱) مشکوة المصابیح: ۱/۵۷، رقم الحدیث: ۱۶۲، وأخرجه أیضا ابن حبان: ۱/ ۱۹۰، رقم الحدیث: ۱۳، والطبراني: ۱/۳ ۱۶، رقم الحدیث: ۹۳۴، والحاکم: ۱/ ۱۹۰، رقم الحدیث: ۳۶۸.

(۲) والإیمان واحد وأهله في أصله سواء والتفاضل بینهم بالخشیة والتقی ومخالفة الهوی وملازمة الأولی. العقیدة الطحاویة ص: ۲۲.

(۳) سورة البقرة: ۲۸۵.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



(حکم ستا، غوا ړو) مغفرت ستا اې ربه زمونږ او (خاص) تا ته دي درتلل (د هر چا).

إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ.(۱)

ژباړه: بې شکه چې ډېر مکرم او معزز له تاسې څخه په نزد د الله ډېر متقي ادب لرونکی ستاسې دی بې شکه چې الله تعالی ښه عالم ډېر خبردار دی

إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ.(۲)

ژباړه: بې شکه همدا خبره ده چې ویرېږي له الله څخه له بنده ګانو د دغه (الله ﷻ) پوهنده عالمان.

وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَى.(۳)

ژباړه: او هر هغه څوک چې ویرېږي له ودریدلو (په مخ د) رب خپل او منع کړې یې وي نفس خپل له هوا فاحشاتو بدو غوښتنو څخه.

**څلور اویایمه عقیده: مؤمنان ټول د الله ﷻ دوستان دي او د الله ﷻ په نزد په دوی کې تر ټولو عزتمند هغه څوک دی چې اطاعت وکړي او د قرآن پیروي وکړي.(۴)**

لقوله تعالی:

اللَّهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُوا يُخْرِجُهُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَوْلِيَاؤُهُمُ الطَّاغُوتُ يُخْرِجُونَهُم مِّنَ النُّورِ إِلَى الظُّلُمَاتِ أُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ.(۵)

ژباړه: الله دوست (مرستیال-مددګار) دی د هغو کسانو چې مؤمنان دي چې باسي دوی له تیارو (د کفر او ګمراهي نه) د رڼا (د ایمان او هدایت) لوري ته او هغه کسان

(۱) سورة الحجرات: ۱۳.
(۲) سورة الفاطر: ۲۸.
(۳) سورة النازعات: ۴۰.
(۴) العقيدة الطحاوية: والمؤمنون كلهم أولياء الرحمن وأكرمهم عند الله أطوعهم وأتبعهم للقرآن. ۲۲ ص.
(۵) سورة البقرة: ۲۵۷.

ketabton.com - The Digital Library



چې کافران (منکران) شوي دي دوستان د دوی شیطانان دي چې باسي دوی له رڼا (د فطري ایمان او هدایت نه) د تیارو (د کفر او ګمراهي) لوري ته، دغه کسان (چې فطري ایمان یې په عملي کفر سره بدل کړی دی) صاحبان د اور (د دوزخ) دي، هم دوی په دې اور کې تل پاتې کېدونکي دي

﴿أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ﴾[1]

ژباړه: واورئ خبردار شئ چې بې شکه دوستان د الله نیشته هیڅ قسم یره په دوی (له کوم مکروه) او نه به دوی خفه کیږي (هیڅیري له فوت د کوم مامول نه)، (دغه دوستان) هغه کسان دي چې ایمان لري او وي دوی چې ځان ساتي (له معاصیو او ویریږي له الله تعالی نه).

**پنځمه اوپایمه عقیده: موږ پر الله ﷻ، د هغه پر ملایکو، د هغه پر کتابونو، د هغه پر رسولانو، د اخرت پر ورځ او د خیر او شر، د خوږ او تریخ پر تقدیر ایمان لرو، او په رسولانو کې هیڅ فرق نه کوو او موږ په هغه څه ایمان لرو چې دوی را وړي دي.**[2]

لقوله تعالی:

﴿آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ﴾[3]

ژباړه: تصدیق (باور) کړی دی رسول په هغه شي چې نازل کړی شوی دی ده ته له (طرفه د) رب د ده او مؤمنانو (هم تصدیق او باور کړی دی) ټولو (د دوی) تصدیق (باور) کړی دی په الله باندې او په پرښتو د ده او په کتابو د ده او په رسولانو د ده (په داسې حال کې چې وایې دوی) فرق نه کوو په منځ د هیڅ یو (رسول) له

(۱) سورة يونس: ۶۲، ۶۳.

(۲) والإيمان هو الإيمان بالله وملائكته وكتبه ورسله واليوم الآخر والقدر خيره وشره وحلوه ومره من الله تعالى، ونحن مؤمنون بذلك كله لا نفرق بين أحد من رسله ونصدقهم كلهم على ما جاؤوا به. العقيدة الطحاوية ص: ۲۲.

(۳) سورة البقرة: ۲۸۵.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library


رسولانو د الله کې، او وايي (رسول الله ﷺ او مؤمنان) وأوريده مونږ (پيغام ستا) او قبول کړ مونږ (حکم ستا، غواړو) مغفرت ستا اې ربه زمونږ او (خاص) تا ته دي درتلل (د هر چا).

وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ وَبِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ[1]

ژباړه: او هغه کسان چې ايمان لري (دوی) په هغه (کتاب) چې نازل کړی شوی دی تا ته او (په) هغو (کتابونو) چې نازل کړی شوي دي له مخه د تا [ستا تر مخه] او په آخرت دوی يقين کوي (چې ضرور راتلونکی دی).

ولما روي:

في حديث جبريل: فأخبرني عن الإيمان قال أن تؤمن بالله وملائكته وكتبه ورسله واليوم الآخر وتؤمن بالقدر خيره وشره قال: صدقت.[2]

ژباړه: په «حديثِ جبريل» کې راځي: (هغه سړي پوښتنه وکړه) د ايمان حقيقت راته بيان کړئ؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: ايمان دا دی چې ته په الله، د هغه په ملائکو، د هغه په کتابونو، د هغه په رسولانو، د قيامت په ورځې او د تقدير په خير او شر ايمان ولرې چې دا د الله له لوري دي، د دې په اوريدو سره هغه سړي وويل: تاسو رښتيا وفرمايل.

(۱) سورة البقرة: ۴.

(۲) صحيح مسلم: ۳٦/۱، رقم الحديث: ۸، وأخرجه أيضا أبو داود: ۲۲۳/۴، رقم الحديث: ۴۶۹۵ وابن حبان: ۳۸۹/۱، رقم الحديث: ۱۶۸، والدارقطني: ۲۸۲/۲، والبيهقي: ۲۰۳/۱۰، رقم الحديث: ۲۰۶۶۰.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



شپږ اوياېمه عقيده: موږ عقيده لرو چې الله ﷻ ابراهيم عليه الصلاة والسلام خپل خليل (دوست) گرځولی او له موسی عليه الصلاة والسلام سره يې خبرې کړي دي. (۱)

لقوله تعالی:

وَاتَّخَذَ اللَّهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا. (۲)

ژباړه: او نيولی دی الله ابراهيم دوست (خاص خپل).

وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَىٰ تَكْلِيمًا. (۳)

ژباړه: او کلام کړی دی الله له موسی سره په کلام کولو.

اووه اوياېمه عقيده: الله ﷻ خپل بندګان يوازې په هغه څه مکلف کړي دي چې د هغوی په وس کې وي. (۴)

لقوله تعالی:

لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا. (۵)

ژباړه: نه کوي تکليف الله پر هيڅ نفس باندې مگر (په اندازې د) طاقت د ده.

رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِ. (۶)

ژباړه: او مه باروه پر مونږ باندې هغه (تکليف) چې نه وي هيڅ طاقت مونږ ته په هغه سره.

---

(۱) ونقول إن الله اتخذ إبراهيم خليلا وكلم الله موسى تكليما إيمانا وتصديقا وتسليما. العقيدة الطحاوية ص: ۲۰.

(۲) سورة النساء: ۱۲۵.

(۳) سورة النساء: ۱۶۴.

(٤) ولم يكلفهم الله تعالى إلا ما يطيقون ولا يطيقون إلا ما كلفهم. العقيدة الطحاوية ص: ۲۷.

(۵) سورة البقرة: ۲۸۶.

(٦) سورة البقرة: ۲۸۶.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## له اختلاف څخه ځان ساتل

**له اويايمه عقيده: موږ د محمد ﷺ له امت څخه د هيچا پر خلاف د توري (جنګ) عقيده نه لرو، پرته له هغو کسانو څخه چې توره (جنګ) ورسره واجب وي.[١]**

لما روي:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ وَيُقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوا الزَّكٰوةَ فَإِذَا فَعَلُوا ذَٰلِكَ عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّ الْإِسْلَامِ وحسابهم على الله. إِلَّا أَنَّ مُسْلِمًا لَمْ يَذْكُرْ إِلَّا بِحَقِّ الْإِسْلَامِ». متفق عليه.[٢]

ژباړه: له حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ما ته (د خدای له لوري) دا حکم راکول شوی دی چې زه تر هغه وخته پورې له خلکو سره وجنګېږم تر څو چې هغوی د دې خبرې په ژبه او زړه سره اقرار نه وي کړی چې د الله څخه پرته بل معبود نشته او محمد ﷺ د خدای رسول دی او بيا هغوی لمونځ کوي او زکات ورکوي بيا چې هغوی دا سې کوي نو زما څخه به خپل ځانونه او مالونه خلاص کړي او بيا به پر هغوی يوازې د اسلام حقوق وي او د هغوی حساب د خدای پر ذمه دی هغه به يې اخلي او په صحيح مسلم کې د دې الفاظو «الا بحق الاسلام» ذکر نشته.

---

(١) ولا نرى السيف على أحد من أمة محمد صلى الله عليه وسلم إلا من وجب عليه السيف. العقيدة الطحاوية ص: ٢۴.

(٢) مشكوة المصابيح: ١/ ١١. رقم الحديث: ١٢.

ketabton.com - The Digital Library



عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، وَأَنْ يَسْتَقْبِلُوا قِبْلَتَنَا وَيَأْكُلُوا ذَبِيحَتَنَا، وَأَنْ يُصَلُّوا صَلَاتَنَا، فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ حُرِّمَتْ عَلَيْنَا دِمَاؤُهُمْ وَأَمْوَالُهُمْ إِلَّا بِحَقِّهَا، لَهُمْ مَا لِلْمُسْلِمِينَ وَعَلَيْهِمْ مَا عَلَى الْمُسْلِمِينَ».(١)

ژباړه: له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ما ته د خدای له لوري حکم راکول شوی دی چې له خلکو سره تر هغه وجنګیږم تر څو چې دوی کلمه د شهادت «لا اله الا الله محمد رسول الله» ووایي، او زموږ قبلې ته (د لمانځه په موخه) مخ کړي، او زموږ حلال شوی حیوان وخوري او زموږ لمونځ وکړي، کله چې دوی دا کار وکړي نو په موږ باندې د دوی وینې او مالونه حرام شول مګر په حق سره (به یې وینو او مالونو ته تعرض کیږي) د دوی لپاره هغه حقوق دي کوم چې نورو مسلمانانو ته دي او په دوی هغه څه ذمه واریاني او فرائض دي کوم چې په نورو مسلمانانو دي.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ وَأَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ حَمَلَ عَلَيْنَا السِّلَاحَ فَلَيْسَ مِنَّا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.(٢)

ژباړه: له حضرت ابن عمر او ابو هریره رضي الله عنهم څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چې پر موږ باندې اسلحه پورته کړي (که د مقابلې لپاره وي او که د مسخرو لپاره) هغه زموږ څخه نه دی.

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: بَايَعْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِي الْعُسْرِ وَالْيُسْرِ وَالْمَنْشَطِ وَالْمَكْرَهِ وَعَلَى أَثَرَةٍ عَلَيْنَا وَعَلَى أَنْ لَا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ وَعَلَى أَنْ نَقُولَ بِالْحَقِّ أَيْنَمَا كُنَّا لَا نَخَافُ فِي اللَّهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ. وَفِي رِوَايَةٍ: وَعَلَى أَنْ لَا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ إِلَّا أَنْ تَرَوْا كُفْرًا بَوَاحًا عِنْدَكُمْ مِنَ اللَّهِ فِيهِ بُرْهَانٌ. متفق عليه(٣)

ژباړه: له حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه څخه روایت دی چې موږ د رسول کریم ﷺ پر

(١) سنن الترمذي ٤/٥ رقم الحديث ٢٦٠٨.
(٢) مشكوة المصابيح: ٢/ ١٠٤٥، رقم الحديث: ٣٥٢٠.
(٣) مشكوة المصابيح: ٢/ ١٠٨٦، رقم الحديث: ٣٦٦٦.

Scanned with CamScanner

لاس بيعت وکړ او موږ پر دې خبره عهد وکړ چې پر موږ چا ته ترجيح ورکړل شي نو موږ به صبر کوو او پر دې خبره مو عهد وکړ چې موږ به حکومت د وړ کس د لاسو څخه په زوره نه اخلو او پر دې خبره مو عهد وکړ چې موږ به حقه خبره کوو په هر ځای کې چې يو، د الله ﷻ په حق کې به د ملامت کس څخه نه ويريږو او په يوه روايت کې د الفاظ دي چې موږ پر دې خبره عهد وکړ چې موږ به امر (يعني حکومت) د وړ خلکو د لاسو څخه نه کاږو پرته د دې څخه چې ښکاره کفر ووينو او د الله ﷻ له لوري څخه ستاسو لپاره د هغه تينګ دليل موجود وي

نهم اوويايمه عقيده: موږ د خپلو اميرانو خلاف بغاوت نه کوو، که څه هم هغوی ظلم وکړي او هغوی ته ښېرا نه کوو، د هغوی اطاعت فرض ګڼو، له اطاعت څخه يې لاس نه اخلو، تر څو چې دوی د الله ﷻ د حکم خلاف امر ونه کړي او د دوی د صلاح او حفاظت لپاره دعا کوو.(۱)

لقوله تعالى:

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ.(۲)

ژباړه: اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (اې مؤمنانو!) حکم ومنئ تاسې د الله، او حکم ومنئ تاسې د رسول (د الله ﷻ) او (حکم ومنئ د خاوندانو د حکم له تاسې (مسلمانانو يعني حاکمانو او مشرانو).

---

(۱) ولا نرى الخروج على أئمتنا وولاة أمورنا وإن جاروا ولا ندعوا عليهم ولا ننزع يدا من طاعتهم ونرى طاعتهم من طاعة الله عز وجل فريضة ما لم يأمروا بمعصية وندعو لهم بالصلاح والمعافاة.العقيدة الطحاوية ص: ۲۴.

(۲) سورة النساء: ۵۹.

ketabton.com - The Digital Library



ولما روي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ عَصَى اللهَ وَمَنْ يُطِعِ الْأَمِيرَ فَقَدْ أَطَاعَنِي وَمَنْ يَعْصِ الْأَمِيرَ فَقَدْ عَصَانِي وَإِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ فَإِنْ أَمَرَ بِتَقْوَى اللهِ وَعَدَلَ فَإِنَّ لَهُ بِذَلِكَ أَجْرًا وَإِنْ قَالَ بِغَيْرِهِ فَإِنَّ عَلَيْهِ مِنْهُ». متفق عليه[1]

ژباړه: له حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول کريم ﷺ وفرمايل: چا چې زما اطاعت وکړ هغه د الله تعالی اطاعت وکړ او چا چې زما نافرماني وکړه هغه د الله نافرماني وکړه او چا چې د امير اطاعت وکړ هغه زما اطاعت وکړ او چا چې د امير نافرماني وکړه هغه زما نافرماني وکړه او څرګنده دې وي چې امام د سپر په ډول دی چې د هغه شاته جګړه کيږي (يعني د هغه تر قومندې لاندې د دښمن سره جګړه کيږي) او د هغه په نګراني کې امن عافيت تر لاسه کيږي

عن تَمِيم الدَّارِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الدِّينُ النَّصِيحَةُ» ثَلَاثًا. قُلْنَا: لِمَنْ؟ قَالَ: «لِلهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِرَسُولِهِ وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[2]

ژباړه: له حضرت تميم داري رضي تعالی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: دين د خيرخواهی او نصيحت نوم دی، رسول کريم ﷺ دا الفاظ درې واره وفرمايل: موږ پوښتنه وکړه: دا خيرخواهي او نصيحت د چا لپاره دی؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله لپاره، د الله د کتاب لپاره، د الله د رسول لپاره، د مسلمانانو د امامانو لپاره او د عامو مسلمانانو لپاره.

---

(١) مشكوة المصابيح: ٢/ ١٠٨٥، رقم الحديث: ٣٦٦١، وأخرجه أيضا النسائي: ٧/ ١٥٤، رقم الحديث: ١٩٣٤، وابن أبي شيبة: ١٨٤/٦، رقم الحديث: ٣٢٥٢٩، وأحمد: ٢٥٢/٢، رقم الحديث: ٧٤٢٨، وابن ماجة: ٩٥٤/٢، رقم الحديث: ٢٨٥٩.

(٢) مشكوة المصابيح: ٣/ ١٣٨٧، رقم الحديث: ٤٩٦٦، وأخرجه أيضا أحمد: ٤/ ١٠٢، رقم الحديث: ١٦٩٨٢، وأبو داود: ٢٨٦/٤، رقم الحديث: ٤٩٤٤، والنسائي: ٧/ ١٥٦، رقم الحديث: ١٩٧٤، وابن حبان: ٤٣٥/١٠، رقم الحديث: ٤٥٧٤، والبيهقي في شعب الإيمان: ٣٢٣/٤، رقم الحديث: ٥٢٦٥، وأبو نعيم في المعرفة: ٤٤٩/١، رقم الحديث: ١١٢٩، والطبراني: ٥٤/٢، رقم الحديث: ١٢٦٧.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «خِيارُ أئمتكم الَّذين يُحِبُّونَكُمْ وَتُحِبُّونَهُمْ وَتُصَلُّونَ عَلَيْهِمْ وَيُصَلُّونَ عَلَيْكُمْ وَشِرَارُ أَئِمَّتِكُمُ الَّذي تبغضونهم ويبغضونكم وتلعنوهم ويلعنوكم» قَالَ: قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ أَفَلَا نُنَابِذُهُمْ عِنْدَ ذَلِكَ؟ قَالَ: «لَا مَا أَقَامُوا فِيكُمُ الصَّلَاةَ لَا مَا أَقَامُوا فِيكُمُ الصَّلَاةَ أَلَا مَنْ وُلِّيَ عَلَيْهِ وَالٍ فَرَآهُ يَأْتِي شَيْئًا مِنْ مَعْصِيَةِ اللهِ فَلْيَكْرَهْ مَا يَأْتِي مِنْ مَعْصِيَةِ اللهِ وَلَا يَنْزِعَنَّ يَدًا مِنْ طَاعَةٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.(١)

ژباړه: له حضرت عوف بن مالک اشجعي رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ستاسو په حاکمانو کې به غوره هغه وي چې د هغوی سره تاسو مینه کوئ او هغوی ستاسو سره مینه کوي او د هغوی لپاره تاسو دعاء کوئ او هغوی ستاسو لپاره دعاء کوي او بدترین حاکم هغه دی چې تاسو د هغوی سره بغض ولرئ او هغوی ستاسو سره بغض ولري او تاسو پر هغوی لعنت کوئ او هغوی پر تاسو لعنت کوي، د راوي بیان دی چې: موږ عرض وکړ: اې د الله رسوله! آیا موږ هغه بدترین حاکمان مات نه کړو؟ او عهد چې د هغوی سره مو کړی دی مات نه کړو؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: تر څو پورې چې هغوی په تاسو کې لمونځ قائموي نه، تر څو پورې چې هغوی په تاسو کې لمونځ قائموي، خبردار! کوم سړی چې په تاسو کې حاکم جوړ شي او تاسو د هغه یو داسې کار ووینئ چې د الله تعالی پر نافرماني مبني وي نو تاسو د هغه دغه عمل بد وګڼئ خو د هغه د اطاعت څخه لاس مه کاږئ.

**اتیایمه عقیده: موږ د سنتو او د مسلمانانو د ډلې اتباع او پیروي کوو او له انحراف، اختلاف او تفرقې څخه ډډه او پرهیز کوو.(٢)**

لقوله تعالی:

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ.(٣)

ژباړه: خامخا په تحقیق دی تاسې ته (اې وېریدونکو) په (کار د) رسول الله کې

---

(١) مشکوة المصابیح: ٢/ ١٠٨٧، رقم الحدیث: ٣٦٧٠.

(٢) ونتبع السنة والجماعة ونجتنب الشذوذ والخلاف والفرقة. العقیدة الطحاویة ص: ٢٤.

(٣) سورة الأحزاب: ٢١.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



اقتداء غوره نیکه

قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ.(۱)

ژباړه: ووایه (اې محمده! دوی ته) که چیرې یئ تاسې چې محبت کوئ له الله سره پس متابعت وکړئ زما چې محبت به وکړي الله له تاسې سره (د ثواب په ورکولو).

وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا.(۲)

ژباړه: او منګولې ولګوئ (اې مؤمنانو!) په رسۍ د الله (چې قرآن دی) ټول او مه سره مختلف کیږئ (وروسته له اسلامه).

وَمَنْ يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا.(۳)

ژباړه: او هر څوک چې مخالفت کوي له رسوله وروسته له هغه چې ښکاره شوه ده ته سمه لاره او تابع شي (لاړ شي) بې له لارې د مؤمنانو، نو وبه ګرځوو مونږ دی هغه لوري ته چې دی ور ګرځیدلی دی او داخل به کړو مونږ دی جهنم (دوزخ) ته. او بد ځای د ورتلو دی (دا دوزخ).

ولما روي:

عن العرباض بن سارية قال: صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ فَوَعَظَنَا مَوْعِظَةً بَلِيغَةً ذَرَفَتْ مِنْهَا الْعُيُونُ وَوَجِلَتْ مِنْهَا الْقُلُوبُ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ كَأَنَّ هَذِهِ مَوْعِظَةُ مُوَدِّعٍ فَأَوْصِنَا قَالَ: «أُوصِيكُمْ بِتَقْوَى اللَّهِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ وَإِنْ كَانَ عَبْدًا حَبَشِيًّا فَإِنَّهُ من يعش منكم يرى اختلافا كثيرا فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ تَمَسَّكُوا بِهَا وَعَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ وَإِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الْأُمُورِ فَإِنَّ كُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَةَ إِلَّا أَنَّهُمَا لَمْ يَذْكُرَا الصَّلٰوةَ.(۴)

---

(۱) سورة آل عمران: ۳۱.

(۲) سورة آل عمران: ۱۰۳.

(۳) سورة النساء: ۱۱۵.

(۴) مشكوة المصابيح: ۵۸/۱. رقم الحديث: ۱۶۵. وأخرجه أيضا الحاكم: ۱/ ۱۷۴. رقم الحديث: ۳۲۹. والبيهقي: ۱۱۴/۱۰. وابن حبان: ۱/ ۱۷۸. رقم الحديث: ۵. والدارمي: ۵۷/۱. رقم الحديث: ۹۵.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ژباړه: له حضرت عرباض رضي الله عنه څخه روايت دی چې: يوه ورځ رسول كريم ﷺ زموږ سره لمونځ وکړ بيا رسول الله ﷺ زموږ لوري ته مخ کړ کېناست او موږ ته يې په ډېرو اثرناکو الفاظو نصيحت وکړ چې زموږ د سترګو څخه اوښکې روانې شوې او په زړونو کې مو ويره پيدا شوه نو په موږ کې يو سړي عرض وکړ اې د الله رسوله! (شايد) دا آخري وصيت دی تاسو موږ ته څه نور وصيت وفرمايأست. رسول كريم ﷺ وفرمايل: زه تاسو ته وصيت کوم چې د الله څخه وويرېږئ او تاسو ته د اوريدو او اطاعت کولو وصيت کوم اګر که تاسو ته د يو حبشي غلام د اطاعت کولو حکم وشي په تاسو کې چې څوک زما نه وروسته ژوندي پاته شي هغه به لوی اختلاف ويني په داسې حالت کې پر تاسو لازمه ده چې زما د نورو هدايت يافته خلفاء راشدينو طريقه په ټينګه ونيسئ پر هغه طريقه يقين ولرئ او هغه د زامې په غاښونو سره ټينګه ونيسئ او تاسو په دين کې د نوي شي پيدا کولو څخه ځان وژغورئ ځکه چې هره نوې خبره بدعت دی او هر بدعت ګمراهي ده.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: «من رأى من أميره ما يَكْرَهُهُ فَلْيَصْبِرْ فَإِنَّهُ لَيْسَ أَحَدٌ يُفَارِقُ الْجَمَاعَةَ شبرًا فَيَمُوت إِلَّا مَاتَ مِيتَة جَاهِلِيَّة». متفق عليه[1]

ژباړه: له حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کې چې څوک د خپل حاکم د لوري داسې خبره ويني چې پر هغه بده لګيږي نو صبر دې وکړي ځکه چې څوک د ډلې څخه يوه لوېشت بېل شو او په دې حال کې مړ شو نو د هغه مرګ به د جاهليت مرګ وي.

(۱) مشكوة المصابيح: ۲/ ۱۰۸۶، رقم الحديث: ۳۶۶۸، وأخرجه أيضا أحمد: ۱/ ۳۱۰، رقم الحديث: ۲۸۲۶، و أبو يعلى: ۲۳۴/۴، رقم الحديث: ۲۳۴۷، والطبراني: ۱۲/ ۱۶۰، رقم الحديث: ۱۲۷۵۹.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



يو اتيايمه عقيده: موږ يووالي او اتفاق ته د حق او صداقت په سترګه ګورو او تفرقې ته د باطل او عذاب په سترګه ګورو.(١)

لقوله تعالى:

﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا﴾(٢)

ژباړه: او منګولې ولګوئ (اې مؤمنانو!) په رسۍ د الله (چې قرآن دی) ټول او مه سره مختلف کيږئ (وروسته له اسلامه).

﴿وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا وَاخْتَلَفُوا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ وَأُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾(٣)

ژباړه: او مه کيږئ تاسې په شان د هغو کسانو چې سره جلا (جدا) شول او اختلاف (جګړې) يې وکړې د دين په اصولو کې وروسته له هغه چې راغلي وو دوی ته دلائل ښکاره (د اسلام د حقيقت) او دا (متفرقان، مختلفان مقرر دي) دوی ته عذاب ډېر لوی (د دوزخ).

﴿إِنَّ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا لَسْتَ مِنْهُمْ فِي شَيْءٍ إِنَّمَا أَمْرُهُمْ إِلَى اللَّهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ بِمَا كَانُوا يَفْعَلُونَ﴾(٤)

ژباړه: بې شکه هغه کسان چې تار په تار کړی يې دی دين خپل (چې ځينې يې مني او ځينې يې نه مني) او شول دوی فرقې فرقې، نه يې ته له دوی نه په هيڅ شي کې (يعنې هيڅ ورته مه ګوره) بې شکه هم دا خبره ده چې امر (کار) د دوی (سپارلی شوی دی) الله ته بيا به خبر کړي (الله ﷻ) دوی په هغه چې وو دوی چې کول به يې.

(١) ونرى الجماعة حقا وصوابا، والفرقة زيغا وعذابا. العقيدة الطحاوية ص: ٣١.
(٢) سورة آل عمران: ١٠٣.
(٣) سورة آل عمران: ١٠٥.
(٤) سورة الأنعام: ١٥٩.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ولما روي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: «من رأى من أميره ما يكرهه فليصبر فَإِنَّهُ لَيْسَ أَحَدٌ يُفَارِقُ الْجَمَاعَةَ شبرًا فَيَمُوتَ إِلَّا مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً». متفق عليه (١)

ژباړه: له حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کې چې څوک د خپل حاکم د لوري داسې خبره ووينې چې پر هغه نبه نه لګيږي نو صبر دې وکړي ځکه چې څوک د ډلې څخه يوه لوېشت بېل شو او په دې حال کې مړ شو نو د هغه مرګ به د جاهليت مرګ وي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «تَفَرَّقَتِ الْيَهُودُ عَلَى إِحْدَى وَسَبْعِينَ أَوْ اثْنَتَيْنِ وَسَبْعِينَ فِرْقَةً، وَالنَّصَارَى مِثْلَ ذَلِكَ، وَتَفْتَرِقُ أُمَّتِي عَلَى ثَلَاثٍ وَسَبْعِينَ فِرْقَةً». (٢)

ژباړه: له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول کريم ﷺ وفرمايل: يهود يو اويا يا دوه اويا ډلې شوې او عيسايان هم همداسې، او زما امت به په درې اويا ډلو باندې تقسيم شي.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيَأْتِيَنَّ عَلَى أُمَّتِي مَا أَتَى عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ حَذْوَ النَّعْلِ بِالنَّعْلِ حَتَّى إِنْ كَانَ مِنْهُمْ مَنْ أَتَى أُمَّهُ عَلَانِيَةً لَكَانَ فِي أُمَّتِي مَنْ يَصْنَعُ ذَلِكَ وَإِنَّ بَنِي إِسْرَائِيلَ تَفَرَّقَتْ عَلَى ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِينَ مِلَّةً وَتَفْتَرِقُ أُمَّتِي عَلَى ثَلَاثٍ وَسَبْعِينَ مِلَّةً كُلُّهُمْ فِي النَّارِ إِلَّا مِلَّةً وَاحِدَةً قَالُوا وَمن هِيَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ مَا أَنَا عَلَيْهِ وأصحابي». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ (٣)

ژباړه: له حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول کريم ﷺ وفرمايل: زما په امت کې به داسې زمانه راشي لکه څرنګه چې په بني اسرائيلو کې راغلې وه بلکل داسې درست او سم لکه څرنګه چې څپلۍ په دواړو پښو برابرې وي تر دې چې په بني اسرائيلو کې که يو چا په څرګنده د خپلې مور سره

(١) مشكوة المصابيح: ٢/ ١٠٨٦، رقم الحديث: ٣٦٦٨، وأخرجه أيضا أحمد: ١/ ٣١٠، رقم الحديث: ٢٨٢٦، وأبو يعلى: ٤/ ٢٣٤، رقم الحديث: ٢٣٤٧، والطبراني: ١٢/ ١٦٠، رقم الحديث: ١٢٧٥٩، والدارمي: ٢/ ٣١٤، رقم الحديث: ٢٥١٩، والبيهقي: ٨/ ١٥٧، رقم الحديث: ١٦٣٩٣، وأبو عوانة: ٤/ ٤٢٣، رقم الحديث: ٧ ١٧٨.

(٢) سنن الترمذي: ٥/ ٢٥، رقم الحديث: ٢٦٤٠، وأخرجه أيضا أبو داود: ٤/ ١٩٧، رقم الحديث: ٤٥٩٦.

(٣) مشكوة المصابيح: ١/ ٦١، رقم الحديث: ١٧١.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



بد فعلي کړي وي نو زما په امت کې به هم داسې خلک وي چې داسې به کوي او د بني اسرائيلو قوم به په دوه اويا ډولو ويشلی وي او زما قوم به پر دري اويا ډلو ويشلی وي چې په هغو کې به يوه ډله جنتي او پاته ټولې ډلې به دوزخي وي صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې د الله رسوله! جنتي ډله به کومه يوه وي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هغه ډله پر کوم چې زه او زما اصحاب دي.

دوه اتيايمه عقيده: موږ باور لرو چې حج او جهاد د مسلمانو اميرانو په مشري (هغوی که صالحان وي که ناصالح وي) تر قيامته پورې دوام لري او هيڅ شی يې نه باطلوي.(۱)

لما روي:

عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «ليحجن البيت وليعتمرن بعد خروج يأجوج ومأجوج».(۲)

ژباړه: له ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول کريم ﷺ وفرمايل: د ياجوج او ماجوج له راوتلو وروسته به هم هرومرو د بيت الله حج کيږي دغه راز هرومرو به عمره کيږي.

عن جابر بن عبد الله، يقول: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: «لا تزال طائفة من أمتي يقاتلون على الحق ظاهرين إلى يوم القيامة».(۳)

ژباړه: له حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول کريم ﷺ وفرمايل: زما په امت کې به يوه ډله تل د حق لپاره جنګ کوي او تر قيامته پورې به د دښمنانو پر ملک غلبه تر لاسه کوي.

---

(۱) والحج والجهاد ماضيان مع أولي الأمر من المسلمين برهم وفاجرهم إلى قيام الساعة لا يبطلهما شيء ولا ينقضهما. العقيدة الطحاوية ص: ۲۵.

(۲) صحيح البخاري: ۲/ ۱۴۹، رقم الحديث: ۱۵۹۳.

(۳) صحيح مسلم: ۳/ ۱۵۲۴، رقم الحديث: ۱۹۲۳.

Scanned with CamScanner

عن أنس رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال: والجهادُ ماضٍ منذ بعثني الله إلى أن يقاتلَ آخِرُ أمتي الدجالَ، لا يبطلُه جَوْرُ جائرٍ، ولا عَدلُ عادلٍ.(١)

ژباړه: له حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل: له کومې ورځې څخه چې زه الله پاک رالیږلی یم جهاد به همیشه جاري وي تر دې چې د دې امت آخري (ډله یا سړی) به دجال ووژني، نه به یې د یو ظالم ظلم جهاد بند کړي او نه به یې د یو منصف انصاف.

درې اتیایمه عقیده: د انصاف کوونکو او امانت داره خلکو سره مینه لرو او د ظلم کوونکو او خیانت کوونکو خلکو څخه کرکه لرو.(٢)

لقوله تعالى:

فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ.(٣)

ژباړه: پس صلح او روغه وکړئ تاسې په منځ د دوی کې، او عدل او انصاف کوئ تاسې (اې مؤمنانو! په هر کار کې) ځکه چې بې شکه الله تعالی دوست لري عدل او انصاف کوونکی (په قول او فعل کې).

إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُورٍ.(٤)

ژباړه: بې شکه چې الله نه خوښوي هر خیانتګر (له خالق او مخلوقاتو سره او) ناشکره.

---

(١) سنن أبي داود: ٤/ ١٨٤، رقم الحديث: ٢٥٣٢، وأخرجه أيضا البيهقي: ٩/ ١٥٦، وسعيد بن منصور: ٢/ ١٧٦، رقم الحديث: ٢٣٦٧، وأبو يعلى: ٢٨٧/٧، والديلمي: ٨٦/٢، رقم الحديث: ٢٤٥٦.

(٢) ونحب أهل العدل والأمانة، ونبغض أهل الجوروالخيانة.العقيدة الطحاوية ص: ٢٤.

(٣) سورة الحجرات: ٩.

(٤) سورة الحج: ٣٨.

ketabton.com - The Digital Library
Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ولما روي:

عن أبي أمامة، عن رسول الله -صلى الله عليه وسلم- أنه قال: «من أحب لله، وأبغض لله، وأعطى لله، ومنع لله، فقد استكمل الإيمان».(١)

ژباړه: له حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل: چا چې د الله لپاره مینه وکړه او د الله لپاره یې بغض وکړ او د الله لپاره یې ورکړه وکړه او د الله لپاره یې بندیز وکړ نو هغه خپل ایمان پوره کړ.

وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ وَجَدَ بِهِنَّ حَلَاوَةَ الْإِيمَانِ: مَنْ كَانَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا وَمَنْ أَحَبَّ عَبْدًا لَا يُحِبُّهُ إِلَّا لِلَّهِ وَمَنْ يَكْرَهُ أَنْ يَعُودَ فِي الْكُفْرِ بَعْدَ أَنْ أَنْقَذَهُ اللَّهُ مِنْهُ كَمَا يكره أن يلقى فِي النَّارِ». متفق عليه(٢)

ژباړه: له حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل: درې شیان داسې دي چې په یو چا کې پیدا شي نو هغه به د ایمان خوند ترلاسه کړي: ١- هغه سړی چې خدای او رسول د ټولو څخه زیات عزیز او محبوب ګڼي. ٢- هغه سړی چې د یو بنده سره یوازې د الله د رضا لپاره محبت لري. ٣- هغه سړی چې د کفر د تیارو وروسته خدای پاک ورته د اسلام نورانیت په برخه کړی وي او هغه بیا کفر ته ستنیدل داسې بد ګڼي لکه څرنګه چې دا خبره بده ګڼي چې هغه په اور کې وغورځول شي.

(١) سنن أبي داود: ٦٩/٧، رقم الحديث: ٤٦٨١.
(٢) مشكوة المصابيح: ١/ ١٠، رقم الحديث: ٨.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



# پر برزخ او قيامت ايمان

څلور اتيايمه عقيده: قبر د جنت له باغونو څخه يوه باغچه ده او يا د اور له کندو څخه يوه کنده ده.(١)

لما روي:

عن رسول الله صلى الله عليه وسلم أنه قال: «إنما القبر روضة من رياض الجنة أو حفرة من حفر النار».(٢)

ژباړه: له رسول کريم ﷺ څخه روايت دى چې: قبر د جنت له باغونو څخه يو باغچه ده يا د دوزخ له کندو څخه يوه کنده ده.

پنځه اتيايمه عقيده: مړو پر بيا راژوندي کېدلو، د قيامت پر ورځ، د عملونو په بدله او الله ﷻ ته پر وړاندې کېدلو، پر حساب، د عمل نامو پر لوستلو، پر اجر او عذاب، پر پل صراط او د اعمالو پر تللو ايمان لرو.(٣)

لقوله تعالى:

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ وَأَنَّهُ يُحْيِ الْمَوْتَىٰ وَأَنَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾(٤)

ژباړه: دغه (راز راز (قسم قسم) پيدا کول او ژوندي کول) په سبب د دې دى چې بې شکه الله هم دى دى حق (ثابت موجود دائم) او بې شکه دى ژوندي کوي مړي (د نطفې او د خمکې د ژوندي کولو په شان) او بې شکه الله په هر شي (چې اراده وکړي) ښه قادر دى.

(١) والقبر روضة من رياض الجنة أو حفرة من حفر النيران. العقيدة الطحاوية ص: ٢٥.
(٢) سنن الترمذي: ٤/ ٦٤٠، رقم الحديث: ٢٤٦٠.
(٣) ونؤمن بالبعث وجزاء الأعمال يوم القيامة والعرض والحساب وقراءة الكتاب والثواب والعقاب والصراط والميزان. العقيدة الطحاوية ص: ٢٦.
(٤) سورة الحج: ٦.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا أَحْصَاهُ اللَّهُ وَنَسُوهُ وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ.(۱)

ژباړه: (یاد کړه اې محمده!) هغه ورځ چې ژوندي به پورته کړي الله دوی ټول له قبورو پس خبر به کړي (الله ﷻ) دوی په هغو کارونو باندې چې کړي يې وي. شمېرلي ساتلي دي هغه (اعمال) الله او هېر کړي دي هغوی (هغه اعمال) او الله پر هر شي باندې ښه شاهد ښه خبردار دی (نو ور به کړي دوی ته جزاء موافقه).

يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ.(۲)

ژباړه: هغه ورځ چې وبه دريږي خلک لپاره (د احكام) د رب د ټولو مخلوقاتو.

إِنَّ السَّاعَةَ لَآتِيَةٌ لَا رَيْبَ فِيهَا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ.(۳)

ژباړه: بې شکه چې قيامت خامخا راتلونكى دى نشته هيڅ شک په (راتللو د) دغه (قيامت) کې وليکن زياتره د خلكو ايمان نه راوړي (په قيامت او تصديق يې نه کوي).

فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ.(۴)

ژباړه: پس هغه څوک چې عمل کوي په اندازه د يوې ذرې د خير نيكۍ نو وبه ويني (جزاء د هغه) او هر هغه څوک چې عمل کوي په اندازه د يوې ذرې د شر بدۍ نو وبه ويني (سزاء د هغه).

يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُونَ لَا تَخْفَىٰ مِنكُمْ خَافِيَةٌ.(۵)

ژباړه: په دغه ورځ کې به تاسې حاضر وړاندې کړل شئ (الله ته سره د حساب) پټه

---

(۱) سورة المجادلة: ۶.
(۲) سورة المطففين: ۶.
(۳) سورة الغافر: ۵۹.
(۴) سورة الزلزلة: ۷.۸.
(۵) سورة الحاقة: ۱۸.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library


به نه پاتې کيږي له (اعمالو د) تاسې هيڅ يوه پټه خبره.

﴿وَعُرِضُوا عَلَىٰ رَبِّكَ صَفًّا لَقَدْ جِئْتُمُونَا كَمَا خَلَقْنَاكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ بَلْ زَعَمْتُمْ أَلَّن نَّجْعَلَ لَكُم مَّوْعِدًا﴾(۱)

ژباړه: او وړاندې به کړی شي دوی په رب ستا صف صف (او وبه ويلی شي دغو صفوفو ته) خامخا په تحقيق راغلئ تاسې مونږ ته (يوازې لغړ بربنډ) لکه چې پيدا کړي وئ مونږ تاسې ړومبی ځلې (له خپلې موره په دې شان) بلکې ګمان کاوه تاسې (اې منکرينو د بعث) چې وبه نه ګرځوو مونږ تاسې ته ځای او وقت د وعدې.

﴿فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا﴾(۲)

ژباړه: نو ژر ده چې حساب به وکړی شي له ده سره حساب اسان.

﴿رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ﴾(۳)

ژباړه: اې ربه زمونږ! ببښنه وکړې ماته او مور او پلار زما ته او مؤمنانو ته په هغه ورځ (د قيامت کې) چې قائميږي حساب.

﴿وَكُلَّ إِنسَانٍ أَلْزَمْنَاهُ طَائِرَهُ فِي عُنُقِهِ وَنُخْرِجُ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كِتَابًا يَلْقَاهُ مَنشُورًا﴾(۴)

ژباړه: او هر انسان لازم کړی دی مونږ له ده سره عمل د ده په غاړه د ده کې، او راوبه باسو ده ته په ورځې د قيامت کې يو کتاب (ليکلی شوی) چې يو ځای به شي وبه ويني هغه غوړيدلی.

﴿وَوُضِعَ الْكِتَابُ فَتَرَى الْمُجْرِمِينَ مُشْفِقِينَ مِمَّا فِيهِ وَيَقُولُونَ يَا وَيْلَتَنَا مَالِ هَٰذَا الْكِتَابِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً إِلَّا أَحْصَاهَا﴾(۵)

---

(۱) سورة الكهف: ۴۸.
(۲) سورة الانشقاق: ۸.
(۳) سورة ابراهيم: ۴۱.
(۴) سورة الاسراء: ۱۳.
(۵) سورة الكهف: ۴۹.

Scanned with CamScanner

ژباړه: او کیښودلی به شي کتاب (اعمالنامې په لاسونو د خلکو) پس ګورې به ته ګناهګاران ویریدونکي له هغه نه چې پکې (لیکلي) دي له (ګناهونو)، او وایې به اې هلاکه زمونږ (راشه دغه دی وقت دی) څه حال دی د دې اعمال نامې (زمونږ) چې نه پریږدي (ګناه) وړه او نه لویه (ګناه زمونږ) مګر چې حساب کړي یې دي هغه (ټولې).

لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَىٰ وَزِيَادَةٌ وَلَا يَرْهَقُ وُجُوهَهُمْ قَتَرٌ وَلَا ذِلَّةٌ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ وَالَّذِينَ كَسَبُوا السَّيِّئَاتِ جَزَاءُ سَيِّئَةٍ بِمِثْلِهَا وَتَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ مَا لَهُمْ مِنَ اللَّهِ مِنْ عَاصِمٍ كَأَنَّمَا أُغْشِيَتْ وُجُوهُهُمْ قِطَعًا مِنَ اللَّيْلِ مُظْلِمًا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ.(۱)

ژباړه: (شته) لپاره د هغو کسانو چې نیکي یې کړې (ایمان یې راوړی) نیکه (جزا جنت) او زیادت (له اجره هم شته) او نه به پټوي مخونه د دوی هیڅ تور ګرد او غبار، او نه هیڅ ذلت (رسوایي) دغه (محسنان) صاحبان د جنت دي، هم دوی په دغه جنت کې تل او سیدونکي دي، او هغه کسان چې کسب یې کړی دی د بدو (لکه کفر او نفاق) جزا د بدي (د دوی) په قدر د بدي د دوی (نه ترې زیاته) او پټوي به دوی لره ذلت (رسوایي)، نه به وي دوی له (عذابه د) الله هیڅ ساتونکی، ګواکې پټ کړی شوي دي مخونه د دوی په قطعو (ټوټو) د شپې سره په داسې حال کې چې تک تور به وي، دغه (مسیئان) صاحبان د اور (د دوزخ) دي هم دوی په دغه دوزخ کې تل او سیدونکي دي.

وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَقْضِيًّا.(۲)

ژباړه: او نشته هیڅوک له تاسې مګر چې دی وارد یدونکی ننوتونکی دی دغه ته (دوزخ ته چې مؤمن په صراط تیریږي او کافر ترې لویږي) دی (دغه عبور علی النار) په رب ستا یقیني حکم پرې کړی شوی.

---

(۱) سورة یونس: ۲۷، ۲۶.

(۲) سورة مریم: ۷۱.

﴿وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذٍ الْحَقُّ فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَئِكَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ بِمَا كَانُوا بِآيَاتِنَا يَظْلِمُونَ﴾(۱)

ژباړه: او تول (د عملونو) په دغې ورځې کې حق (او برابر) دی (لپاره د قطع د عذر) نو هر چا چې درانه وختل تولونه (یا تللی شوي نیک عملونه) د دهنو دغه کسان هم دوی دي په مراد رسیدلي (بریالي) او د هر چا چې سپک وختل تولونه (یا تلل شوي بد عملونه) د ده (یعني له نظره ولوید) نو دغه کسان هغه دي چې زیان رسولی دی دوی نفسونو (ځانونو) خپلو ته (په رسولو یې اور ته) په سبب د هغه چې وو دوی چې په آیتونو زمونږ به یې ظلم (او ترې انکار به یې) کاوه.

﴿وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَإِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا وَكَفَى بِنَا حَاسِبِينَ﴾(۲)

ژباړه: او کېږدو تلې د انصاف لپاره د (اهل د) ورځې د قیامت پس ظلم به ونه کړی شي په هیڅ نفس د هیڅ شي (هیڅ)، او که وي (دغه عمل) په قدر د یوې دانې سپیلني، اوري نو رابه وړو دغه (دانه) او بس یو مونږ حساب کوونکي (یا ساتونکي د بنده ګانو د اعمالو).

ولما روي:

عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَيْسَ أَحَدٌ يُحَاسَبُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا هَلَكَ». قلتُ: أَوَ ليسَ يقولُ اللَّهُ: (فسوْفَ يُحَاسَبُ حسابا يَسِيرا) فقَالَ: «إِنَّمَا ذَلِكَ الْعَرْضُ وَلَكِنْ مَنْ نُوقِشَ فِي الْحِسَاب يهلكُ». مُتَّفق عَلَيْهِ(۳)

ژباړه: له حضرت عایشي رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ چې د چا څخه حساب واخیستل شي هغه هلاک شو، ما عرض وکړ: آیا الله تعالی دا نه دي فرمایلي چې آسان حساب به ورسره وکړل شي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: دا اسان حساب یوازې بیان دی چې په دې کې به یو ډول سختي نه

(۱) سورة الأعراف: ۸، ۹.

(۲) سورة الأنبياء: ۴۷.

(۳) مشكوة المصابيح: ۳/ ۱۵۳۹، رقم الحديث: ۵۵۴۹.

ketabton.com - The Digital Library



وي مګر د چا سره چې حساب کې سختي وشي هغه هلاک شو.

عن أبي سعيد الخدري – في حديث طويل –: ثُمَّ يُضْرَبُ الْجِسْرُ عَلَى جَهَنَّمَ وَتَحِلُّ الشَّفَاعَةُ. متفق عليه(۱)

ژباړه: له حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه څخه په یو اوږد حدیث کې روایت دي بیا به د دوزخ سربیره پل صراط کیښودلی شي او د شفاعت اجازه به ورکړل شي.

شپږ اتیایمه عقیده: جنت او دوزخ پخوا پیدا شوي دي، هیڅکله به فنا او له منځه ولاړ نه شي، او دا چې الله ﷻ د انسانانو له پیدایښت څخه مخکې جنت او دوزخ پیدا کړي دي او د هغوی لپاره یې انسانان پیدا کړي دي، نو څوک به له دوی څخه د الله ﷻ په اراده او فضل سره جنت ته ځي او څوک به له دوی څخه د الله ﷻ په عدل سره دوزخ ته ځي او ټول په دنیا کې هغه اعمال سرته رسوي د کوم لپاره چې پیدا شوي دي او ټول به خپل خپل ځای ته ستنیږي د کوم ځای لپاره چې پیدا شوي دي.(۲)

لقوله تعالی:

وَسَارِعُوا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ(۳)

ژباړه: او تلوار وکړئ په طرف د (هغو اعمالو چې سبب د) مغفرت د رب ستاسي او (سبب د دخول د) جنت (دي) چې پلنوالی د هغه (لکه پلنوالی د) آسمانونو او ځمکې دی تیار کړی شوی دی دغه (جنت) لپاره د پرهیزګارانو.

---

(۱) مشکوة المصابیح: ۳/ ۱۵۵۰، رقم الحدیث: ۵۵۷۹.

(۲) والجنة والنار مخلوقتان لا تفنيان أبدا ولا تبيدان وإن الله تعالى خلق الجنة والنار قبل الخلق وخلق لهما أهلا فمن شاء منهم إلى الجنة فضلا منه ومن شاء منهم إلى النار عدلا منه وكل يعمل لما قد فرغ له وصائر إلى ما خلق له. العقيدة الطحاوية ص: ۲۶.

(۳) سورة آل عمران: ۱۳۳.

ketabton.com - The Digital Library


﴿فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا وَلَن تَفْعَلُوا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ﴾ (١)

ژباړه: پس که ونه کړی شو تاسې (دا کار) او له سره یې ونه کړی شئ پس وساتئ تاسې (ځانونه) له هغه اوره چې خس (خشاک) د هغه بنیادمان او تیږي دي چې تیار کړی شوی دی (دا اور) لپاره د کافرانو.

﴿يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُم بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ وَجَنَّاتٍ لَّهُمْ فِيهَا نَعِيمٌ مُّقِيمٌ * خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا إِنَّ اللَّهَ عِندَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ﴾ (٢)

ژباړه: زیری کوي په دوی رب د دوی په رحمت سره له جانبه خپله او په رضامندي سره او په جنتونو سره چې وي به دوی ته په دغو (جنتونو) کې نعمتونه همیشه (دائم بلا انقطاع) حال دا چې همیشه به وي دوی په دغو (جنتونو) کې تل تر تله بې شکه الله هم ده سره دی اجر (ثواب) ډېر لوی.

﴿يُرِيدُونَ أَن يَخْرُجُوا مِنَ النَّارِ وَمَا هُم بِخَارِجِينَ مِنْهَا وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيمٌ﴾ (٣)

ژباړه: اراده به کوي (غواړي به) دوی چې ووځي دوی له اوره (د دوزخ) حال دا چې نه به وي دوی وتونکي له هغه اوره، او شته دوی لره عذاب دائم (بې انتهاء بلا انقطاع).

﴿إِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتَّىٰ فَأَمَّا مَنْ أَعْطَىٰ وَاتَّقَىٰ وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَىٰ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَىٰ وَأَمَّا مَن بَخِلَ وَاسْتَغْنَىٰ وَكَذَّبَ بِالْحُسْنَىٰ فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْعُسْرَىٰ﴾ (٤)

ژباړه: بې شکه سعي (عملونه) ستاسې خامخا راز راز (قسم قسم) دي (چې ځیني طاعت کوي او ځیني معصیت) نو هر هغه څه چې ورکړه یې کوله (د مال) او وبربده (له الله) او یقین کړی و په ښه کلمه (د ایمان) نو ژر ده چې تیار به یې

(١) سورة البقرة: ٢٤.
(٢) سورة التوبة: ٢١، ٢٢.
(٣) سورة المائدة: ٣٧.
(٤) سورة الليل: ٤- ١٠.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



کړو لپاره د لارې آسانې (د شريعت) او هر څه هغه چې بخيلي يې وکړله (په اداء د حقوقو) او بې پروايي يې وکړله (له الله) او دروغ يې وګڼله ښه کلمه (د ايمان) نو ژر ده چې تيار به يې کړو لپاره د لارې سختې (د بدعملي).

ولما روي:

عن عُتبةَ بْنِ غَزْوَانَ قَالَ: «ذُكِرَ لَنَا أَنَّ الحَجَرَ يُلْقَى مِنْ شَفَةِ جَهَنَّمَ فَيَهْوِي فِيهَا سَبْعِينَ خَرِيفًا لا يُدْرِكُ لَهَا قَعْرًا وَاللهِ لَتُمْلَأَنَّ وَلَقَدْ ذُكِرَ لَنَا أَنَّ مَا بَيْنَ مِصْرَاعَيْنِ مِنْ مَصَارِيعِ الجَنَّةِ مَسِيرَةُ أَرْبَعِينَ سَنَةً وَلَيَأْتِيَنَّ عَلَيْهَا يَوْمٌ وَهُوَ كَظِيظٌ مِنَ الزحام». رَوَاهُ مُسلم.(۱)

ژباړه: له حضرت عتبه بن غزوان رضي الله عنه څخه روايت دی چې موږ ته وويل شول (يعني د رسول الله ﷺ حديث بيان کړل شو) که د دوزخ د غاړې څخه يوه ډبره ووېشتل شي نو هغه به په اويا کاله کې د دوزخ بېخ ته ونه رسيږي او په الله ﷻ مې دې قسم وي د دوزخ دا ژور والی به ډک شي او زموږ په وړاندې ذکر شو چې د جنت دروازې د دواړو تنبو په منځ کې به د څلوېښتو کلونو د مزل فاصله وي او يوه ورځ به داسې وي چې جنت به د خلکو څخه ډک وي.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم قَالَ: «إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا مَاتَ عُرِضَ عَلَيْهِ مَقْعَدُهُ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ إِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَمِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَإِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَمِنْ أَهْلِ النَّارِ فَيُقَالُ هَذَا مَقْعَدُكَ حَتَّى يَبْعَثَكَ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». متفق عليه(۲)

له حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول کريم ﷺ وفرمايل: هر کله چې ستاسو څخه يو څوک مړ شي نو په قبر سهار او ماښام هغه ته خپل ځای ښودل کيږي يعني جنتي ته جنت او دوزخي ته دوزخ ښودل کيږي او هغه ته ويل کيږي چې دا ستا ځای دی ته تر هغه وخته پورې انتظار کوه چې الله پاک دې د قيامت په ورځ راپورته کړي او هلته دې واستوي.

---

(۱) مشكوة المصابيح: ۳/ ۱۵۶۶، رقم الحديث: ۵۶۲۹.
(۲) مشكوة المصابيح: ۱/ ۴۵، رقم الحديث: ۱۲۷.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَنْ يُنْجِيَ أَحَدًا مِنْكُمْ عَمَلُهُ» قَالُوا: وَلَا أَنْتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «وَلَا أَنَا إِلَّا أَنْ يَتَغَمَّدَنِي اللَّهُ مِنْهُ بِرَحْمَتِهِ فَسَدِّدُوا وَقَارِبُوا وَاغْدُوا وَرُوحُوا وَشَيْءٌ مِنَ الدُّلْجَةِ وَالْقَصْدَ الْقَصْدَ تَبْلُغُوا». متفق عليه(۱)

ژباړه: له حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل: نجات نه شي ورکولی هیچا ته د هغه عمل، صحابه کرامو پوښتنه وکړه: اې د الله رسوله! تاسو هم نه؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: هو، زه هم نه، پرته د دې څخه چې د الله تعالی رحمت ما په غېږ کې واخلي، له دې کبله تاسو ته په کار ده چې خپل اعمال سم کړئ او میانه روي غوره کړئ او سهار ماښام او څه برخه د شپې په تېرېدو سره عبادت کوئ او په هر کار کې میانه روي غوره کړئ نو خپل مقصد به تر لاسه کړئ.

عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ كُنَّا فِي جَنَازَةٍ فِي بَقِيعِ الْغَرْقَدِ فَأَتَانَا النَّبِي صلى الله عَلَيْهِ وَسلم فَقعدَ وَقعدنَا حوله وَمَعَهُ مخصرة فنَكس فَجعل ينكت بمخصرته ثمَّ قَالَ مَا مِنْكُم من أحد مَا من نفس منفوسة إِلَّا كتب مَكَانهَا من الْجنَّة وَالنَّار وَإِلَّا قد كتب شقية أَو سعيدة فَقَالَ رجل يَا رَسُولَ اللهِ أَفَلَا نَتَّكِلُ عَلَى كِتَابِنَا وَنَدع الْعَمَل فَمن كَانَ منا من أهل السَّعَادَة فسيصير إِلَى عمل أهل السَّعَادَة وَأما من كَانَ منا من أهل الشقاوة فسيصير إِلَى عمل أهل الشقاوة قَالَ أما أهل السَّعَادَة فييسرون لعمل السَّعَادَة وَأما أهل الشقاوة فييسرون لِعَمَلِ الشَّقَاوَةِ ثُمَّ قَرَأَ (فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى وَصدق بِالْحُسْنَى) الْآيَة. متفق عليه(۲)

ژباړه: له حضرت علي رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل: په تاسو کې هیڅوک داسې نشته چې د هغه ځای جنت یا دوزخ کې نه وي لیکل شوی خلکو عرض وکړ: اې د الله رسوله! نو بیا مونږ د خپل تقدیر په دې نوشته باور وکړو او اعمال ولې نه پرېږدو؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: عمل کوئ ځکه چې کوم سړی د کوم کار لپاره پیدا شوی دی هغه شی د هغه لپاره آسان کړل شوی دی یعني کوم سړی چې نیک بخت دی د هغه لپاره د نیک بختي کارونه آسان

(۱) مشكوة المصابيح: ۷۳۲/۲، رقم الحديث: ۲۳۷۱.
(۲) مشكوة المصابيح: ۳۱/۱، رقم الحديث: ۸۵، وأخرجه أيضا أحمد: ۱/ ۱۲۹، رقم الحديث: ۱۰۶۷، وأبو داود: ۲۲۲/۴، رقم الحديث: ۴۶۹۴، والترمذي: رقم الحديث: ۳۳۴۴، وأبو يعلى: ۴۳۷/۱، رقم الحديث: ۵۸۲.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



کیږي او څوک چې بد بخت دی د هغه لپاره د بد بختي کارونه آسانه کیږي، له دې وروسته نبي کریم ﷺ دا آیت وو ایه: نو هر هغه څه چې ورکړه یې کوله (د مال) او وېرېده (له الله) او یقین کړی و په ښه کلمه (د ایمان).

اووه اتیایمه عقیده: موږ د قیامت په علاماتو، لکه: د دجال په راتلو، د یأجوج او مأجوج په راوتلو، له اسمانه د عیسی ابن مریم علیه السلام په راکښته کېدلو، د مغرب (لوېدیځ) له لوري د لمر په راختلو او دابة الارض په راوتلو ایمان لرو.(۱)

لقوله تعالی:

فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا السَّاعَةَ أَن تَأْتِيَهُم بَغْتَةً فَقَدْ جَاءَ أَشْرَاطُهَا.(۲)

ژباړه: پس انتظار نه کوي دوی مګر د قیامت چې رابه شي دوی ته ناڅاپه نو په تحقیق راغلي دي علامې نښې د هغه (قیامت).

حَتَّىٰ إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٍ يَنسِلُونَ وَاقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ فَإِذَا هِيَ شَاخِصَةٌ أَبْصَارُ الَّذِينَ كَفَرُوا يَا وَيْلَنَا قَدْ كُنَّا فِي غَفْلَةٍ مِّنْ هَٰذَا بَلْ كُنَّا ظَالِمِينَ.(۳)

ژباړه: تر هغه پورې کله چې پرانیستلی شي یاجوج وماجوج (او دیوال یې له مخه لرې شي) او دوی له هرې لوړې (وچتې) ځخه ګړندي راکوزیږي او نژدې شوه وعده حقه (قیامت) پس ناڅاپه قصه دا ده چې تیغې (بوتې به وتلې پاتې وي سترګې د هغو کسانو چې کافران شوي دي (او وایې به) اې هلاکه زمونږ راحاضر شه دغه دې وخت دی په تحقیق وو مونږ په غفلت کې له دغې ورځې (له حقې وعدې په دنیا کې) بلکې وو مونږ ظالمان (په خپل ځان په کفر سره).

---

(۱) ونؤمن بأشراط الساعة منها: خروج الدجال ونزول عيسى ابن مريم عليه السلام من السماء ونؤمن بطلوع الشمس من مغربها وخروج دابة الأرض من موضعها.العقيدة الطحاوية ص: ۳۱.

(۲) سورة محمد: ۱۸.

(۳) سورة الأنبياء: ۹۶، ۹۷.

ketabton.com - The Digital Library



﴿بَل رَّفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْهِ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا وَإِن مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكُونُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا﴾(١)

ژباړه: بلکې پورته کړی و دی الله طرف خپل ته، او دی الله ښه قوي غالب (د احکامو په انفاذ) ښه حکمت والا (چې هر کار په تدبیر او مصلحت کوي) او نشته هیڅوک له اهل د کتابه مګر قسم دی هرومرو چې ایمان به راوړي دوی خامخا (په وخت د نزعې خپلې په وخت د نزول د عیسی علیه السلام) پر دغه (عیسی علیه السلام) په خواله مرګه د ده څخه او په ورځ د قیامت کې به وي (عیسی علیه السلام) پر دوی باندې شاهد (چې یهودانو ونه منلم او نصرانیانو «ابن الله» وبللم).

﴿وَإِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَابَّةً مِّنَ الْأَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ أَنَّ النَّاسَ كَانُوا بِآيَاتِنَا لَا يُوقِنُونَ﴾(٢)

ژباړه: او کله چې واقع ثابت شي خبر د عذاب پر دغو (بني آدمانو او نژدې شي قیامت پر دوی) نو راوبه باسو مونږ دوی ته یوه دابه (ژوندی خوځیدونکی تلونکی) له ځمکې چې خبرې به کوي دغه (دابه) له دوی سره چې بې شکه دا خلک وو چې په دلائلو (د قدرت الوهیت) زمونږ به یې یقین نه کاوه.

ولما روي:

قَالَ ابْنُ عُمَرَ: ثُمَّ قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي النَّاسِ، فَأَثْنَى عَلَى اللهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ، ثُمَّ ذَكَرَ الدَّجَّالَ فَقَالَ: «إِنِّي أُنْذِرُكُمُوهُ وَمَا مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا قَدْ أَنْذَرَهُ قَوْمَهُ، لَقَدْ أَنْذَرَهُ نُوحٌ قَوْمَهُ، وَلَكِنْ سَأَقُولُ لَكُمْ فِيهِ قَوْلًا لَمْ يَقُلْهُ نَبِيٌّ لِقَوْمِهِ، تَعْلَمُونَ أَنَّهُ أَعْوَرُ، وَأَنَّ اللهَ لَيْسَ بِأَعْوَرَ».(٣)

ژباړه: عبد الله بن عمر رضي الله عنهما وايي: رسول الله ﷺ د خلکو په منځ کې ودرېد د الله تعالی حمد او ثناء یې بیان کړه چې د هغې هغه مستحق دی، بیا یې د دجال ذکر وکړ او ویې فرمایل: زه تاسو د دجال څخه ویروم او هیڅ یو نبي داسې نه دی

(١) سورة النساء: ١٥٨، ١٥٩.
(٢) سورة النمل: ١٨٢.
(٣) صحيح البخاري: ٧١/٤، رقم الحديث: ٣٠٥٧، وأخرجه أيضا الترمذي: ٥٠٨/٤، رقم الحديث: ٢٢٣٥.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



تیر شوی چې هغه خپل قوم د دجال څخه نه وي ویرولی البته تر تولو مخکې حضرت نوح علیه السلام خپل قوم د هغه څخه ویرولی و مګر زه د دجال په اړه تاسو ته هغه خبره کوم چې هیڅ یو نبي تر ننه پورې خپل قوم ته نه ده کړې او هغه دا چې تاسو خبردار اوسئ چې دجال یو سترګی دی او الله یو سترګی نه دی.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم قَالَ: «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَقْتَتِلَ فِئَتَانِ عَظِيمَتَانِ تَكُونُ بَيْنَهُمَا مَقْتَلَةٌ عَظِيمَةٌ دَعْوَاهُمَا وَاحِدَةٌ وَحَتَّى يبعث دجالون كذابون قريب مِنْ ثَلَاثِينَ كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ رَسُولُ اللهِ وَحَتَّى يُقْبَضَ الْعِلْمُ وَتَكْثُرَ الزَّلَازِلُ وَيَتَقَارَبَ الزَّمَانُ وَيظهر الْفِتَنُ وَيَكْثُرَ الْهَرْجُ وَهُوَ الْقَتْلُ وَحَتَّى يَكْثُرَ فِيكُمُ الْمَالُ فَيَفِيضَ حَتَّى يُهِمَّ رَبَّ الْمَالِ مَنْ يَقْبَلُ صَدَقَتَهُ وَحَتَّى يَعْرِضَهُ فَيَقُولُ الَّذِي يعرضه عَلَيْهِ: لَا أَرَبَ لِي بِهِ وَحَتَّى يَتَطَاوَلَ النَّاسُ فِي الْبُنْيَانِ وَحَتَّى يَمُرَّ الرَّجُلُ بِقَبْرِ الرَّجُلِ فَيَقُولُ: يَا لَيْتَنِي مَكَانَهُ وَحَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا فَإِذَا طَلَعَتْ وَرَآهَا النَّاسُ آمَنُوا أَجْمَعُونَ فَذَلِكَ حِينَ (لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا) وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ نَشَرَ الرَّجُلَانِ ثَوْبَهُمَا بَيْنَهُمَا فَلَا يَتَبَايَعَانِهِ وَلَا يَطْوِيَانِهِ وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدِ انْصَرَفَ الرَّجُلُ بِلَبَنِ لِقْحَتِهِ فَلَا يَطْعَمُهُ وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَهُوَ يُلِيطُ حَوْضَهُ فَلَا يَسْقِي فِيهِ وَلَتَقُومَنَّ السَّاعَةُ وَقَدْ رَفَعَ أُكْلَتَهُ إِلَى فِيهِ فَلَا يَطْعَمُهَا». مُتَّفق عَلَيْهِ (۱)

ژباړه: له حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل: نه به قائمیږي قیامت تر هغه وخته پورې تر څو چې دوې لویې ډلې په خپل منځ کې جګړه ونه کړي د دغه ډلو په منځ کې به سخته جګړه وي او د دواړو به یوه دعوه وي (یعني دواړه ډلې به مسلماني وي) او قیامت به تر هغه وخته پورې نه قائمیږي تر څو پورې چې دجالان فساد کوونکي او چم بازه خلک پیدا نه شي چې پر الله ﷻ او رسول علیه السلام باندې دروغ وایي د دوی شمیر به دیرشو نژدې وي په هغوی کې به د هر یوه دا خیال وي چې هغه د الله رسول دی، او قیامت به تر هغه وخته پورې نه قائمیږي تر څو پورې چې علم پورته نه شي، ډېرې زلزلې رانه شي او تر څو پورې چې زمانه نژدې نه شي (برکت د زمانې به ولاړ شي د خلکو عمرونه به کم شي) او ترڅو پورې چې فتنې ظاهرې نه شي او تر څو پورې چې هرج یعني قتل واقع نه شي او تر څو پورې چې مال او دولت دومره زیات نه شي چې مال

(۱) مشکوة المصابیح: ۳/ ۱۴۹۰، رقم الحدیث: ۵۴۱۰.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library


والابه د خيرات اخيستونکي په لټولو کې پرېشانه شي او کوم سړي ته چې صدقه ورکوي هغه به ورته وايي چې ما ته د دې حاجت او ضرورت نشته (د امام مهدي په زمانه کې به خلکو سره دومره مال وي چې هيڅ محتاج به پاته نه شي چې د بل چا څخه زکات قبول کړي) او قيامت به تر هغه وخته پورې نه راځي تر څو پورې چې خلک په اوږده او پراخ عمارتونو فخر ونه کړي او ترڅو پورې چې يو سړی د يو قبر سره په تيريدو سره دا ونه وايي چې زه دده پر ځای وای او تر څو پورې چې لمر د مغرب څخه را ونه خيژي، کله چې لمر له مغرب څخه را وخيژي او خلک يې ووينې نو ټول به ايمان راوړي خو دا به هغه وخت وي چې د چا ايمان راوړل به ګټه نه ورکوي تر څو پورې چې هغه مخکې ايمان نه وي راوړی او نه به يو نيک کار کول ګټورو ؟ي تر څو پورې چې د وړاندې څخه يې يو نيک کار نه وي کړی او البته قيامت به په داسې حال کې قائم شي چې دوو کسانو به د رانيولو او خرڅولو لپاره جامه خلاصه کړې وي او هغوی به نه وي خرڅه کړې او نه به يې رانغښتې وي چې قيامت به راشي، البته په داسې حال کې به قيامت قائم شي چې يو سړی به د خپلې اوښې شيدې لوښلې وي او هغه به يې څښلې نه وي چې په دغه وخت کې به قيامت راشي او البته په داسې حال کې به قيامت راشي چې يو سړی به د خپل حوض جوړونه کوي چې په هغه کې به خپلو حيواناتو باندې اوبه وڅښي او هغه به لا اوبه ورکړې نه وي چې په دغه وخت کې به قيامت راشي او په داسې حال کې به قيامت قائم شي چې په يو سړي به خولې ته ګوله پورته کړې وي او هغه به ونه خوړې شي چې قيامت به راشي.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



عَنْ حذيفةَ بن أسيد الْغِفَارِيِّ قَالَ: اطَّلَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْنَا وَنَحْنُ نَتَذَاكَرُ. فَقَالَ: «مَا تَذَكَّرُونَ؟» . قَالُوا: نَذْكُرُ السَّاعَةَ. قَالَ: «إِنَّهَا لَنْ تَقُومَ حَتَّى تَرَوْا قَبْلَهَا عَشْرَ آيَاتٍ فَذَكَرَ الدُّخَانَ وَالدَّجَّالَ وَالدَّابَّةَ وَطُلُوعَ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا وَنُزُولَ عِيسَى بْنِ مَرْيَمَ وَيَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ وَثَلَاثَةَ خُسُوفٍ: خَسْفٌ بِالْمَشْرِقِ وَخَسْفٌ بِالْمَغْرِبِ وَخَسْفٌ بِجَزِيرَةِ الْعَرَبِ وَآخِرُ ذَلِكَ نَارٌ تَخْرُجُ مِنَ الْيَمَنِ تَطْرُدُ النَّاسَ إِلَى مَحْشَرِهِمْ «. وَفِي رِوَايَةٍ: «نَارٌ تَخْرُجُ مِنْ قَعْرِ عَدَنَ تَسُوقُ النَّاسَ إِلَى الْمَحْشَرِ» . وَفِي رِوَايَةٍ فِي الْعَاشِرَةِ «وَرِيحٌ تُلْقِي النَّاسَ فِي الْبَحْرِ». رَوَاهُ مُسلم[1]

ژباړه: له حضرت حذيفه بن اسيد الغفاري رضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ د قيامت ذکر کولو چې رسول الله ﷺ زموږ طرف ته وکتل او ويې فرمايل: چې تاسو څه بحث کوئ؟ موږ وويل: د قيامت خبرې کوو، هغوی وفرمايل چې: قيامت به تر هغه وخته پورې نه راځي تر څو پورې چې تاسو لس نښې ونه وينئ د دې څخه وروسته رسول الله ﷺ د هغو نښو ذکر وکړ او ويې فرمايل: دود چې په مشرق او مغرب کې به تر څلويښتو ورځو پورې خپريږي، دجال، دابه (د دابة الارض ظهور، دابة الارض يو حيوان دی چې شپېته گزه اوږد د هغه سره به د حضرت موسی عليه السلام امسا او د حضرت سليمان عليه السلام گوتمۍ وي په ځغاسته کې به هيڅوک د هغه مقابله نه شي کولای هغه به پر مؤمن د موسی عليه السلام امسا ووهي او د هغه پر مخ به «مؤمن» وليکل شي او د کافر پر مخ به مهر لگولو سره کافر وليکي) د لمر د مغرب څخه راختل، د عيسی ابن مريم عليه السلام نازليدل، ياجوج او ماجوج، پر دريو ځايونو باندې د ځمکې خسف: يو په مشرق کې، دويم په مغرب کې او دريم په په جزيرة العرب کې، او په آخر کې به يو اور له يمن څخه راووځي چې خلک به حشرگاه په لور شړي او په يو روايت کې ذکر دي: هغه اور چې د عدن د دې غاړې څخه به وځي او خلک به د حشر پر لور بيايي، او په يو روايت لسمه نښه يوه هوا ياده شوې ده چې خلک به په درياب کې وغورځوي.

(۱) مشکوة المصابيح: ۳/ ۱۵۰۵، رقم الحديث: ۵۴۶۴.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## د اهل السنة والجماعة ځانګړي عقائد

### اتـه اتیایمـه عقیـده: د ژوندیـو پـه دعـاء او صدقـه مړو تـه ګټـه رسیږي.(۱)

لقوله تعالی:

وَالَّذِينَ جَاءُوا مِنْ بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ (۲)

ژباړه: او (اموال) هغو (کسانو لره دي) چې راغلي دي راځي وروسته له دغو (مهاجرو او انصارو) نه، وايي دوی چې اې ربه زمونږ! مغفرت وکړه مونږ ته او هغو (ديني) ورونو زمونږ ته چې ړومبی داخل شوي دي (له مونږ څخه) په ايمان کې او مه ګرځوه په زړونو زمونږ کې بغض کينه د هغو کسانو سره چې ايمان يې راوړی دی بې شکه ته (يا الله) ښه مهرباني کوونکی خورا (ډېر) رحم والا يې.

ولما روي:

عن ابن عبّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ تُوُفِّيَتْ أُمُّهُ وَهُوَ غَائِبٌ عَنْهَا، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أُمِّي تُوُفِّيَتْ وَأَنَا غَائِبٌ عَنْهَا، أَيَنْفَعُهَا شَيْءٌ إِنْ تَصَدَّقْتُ بِهِ عَنْهَا؟ قَالَ: «نعم»، قَالَ: فَإِنِّي أُشْهِدُكَ أَنَّ حَائِطِيَ المِخْرَافَ صَدَقَةٌ عَلَيْهَا.(۳)

ژباړه: له حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې: د سعد بن عباده رضي الله عنه مور بي بي په داسې حال کې وفات شوه چې دی نه و، نو ويې ويل: اې د الله رسوله! زما مور بي بي زما په نشتون کې وفات شوه آيا که زه يو څه د هغې له لوري صدقه کړم ګټه به ورته وکړي؟ رسول کريم عليه السلام وويل: هو، حضرت سعد وويل: پس زه تا ګواه کوم چې ما خپل باغ «مخراف» په هغې پسې صدقه کړ.

(۱) وفي دعاء الأحياء وصدقاتهم منفعة للأموات. العقيدة الطحاوية ص: ۲۸.
(۲) سورة الحشر: ۱۰.
(۳) صحيح البخاري: ۴/۷، رقم الحديث: ۲۷۵۶.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



**نهه اتيايمه عقيده: په کوم شي چې نه پوهيږو هلته "الله اعلم" وايو.**(۱)

لقوله تعالى:

وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ.(۲)

ژباړه: او هغه کسان چې پاخه دي په علم کې وايي دوی چې ايمان راوړی دی (باور او يقين لرو) مونږ په دې (متشابه چې په معنا يې نه پوهېږو، په مثل د ايمان زمونږ په محکم باندې چې دواړه حق دي) دا ټول (محکم او متشابه) له جانبه د رب زمونږ دي او پند نه اخلي (په دې) مګر (خو پند اخلي) خاوندان د عقلونو (خالصو).

وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا.(۳)

ژباړه: او مه کوه پيروي (تعقيب) د هغه کار چې نه وي تا ته په هغه پوهه (قول وي که فعل) بې شکه غوږ او سترګه او زړه هر يو له دغو (درې واړو) دي له هغه څخه پوښتنه کړی شوي (په قيامت کې چې تا په دنيا کې ولې ګناه کوله).

ولما روي:

عن ابن عباس رضي الله عنهما، قال: سئل النبي صلى الله عليه وسلم عن أولاد المشركين، فقال: «الله أعلم بما كانوا عاملين».(٤)

ژباړه: له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې له رسول کريم ﷺ څخه د مشرکانو د ماشومانو په اړه پوښتنه وشوه هغه وفرمايل: الله ښه پوهيږي چې هغوی به څه کول.

---

(۱) ونقول: الله أعلم فيما اشتبه علينا علمه. العقيدة الطحاوية ص: ۲۴.
(۲) سورة آل عمران: ۱۸.
(۳) سورة الاسراء: ۳۶.
(٤) صحيح البخاري: ۸/ ۱۲۲، رقم الحديث: ۶۵۹۷، وأخرجه أيضا الطيالسي: ۳۴۲ ص، رقم الحديث: ۲۶۲۴، والنسائي: ۵۹/۴، رقم الحديث: ۱۹۵۲.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



نوي یمه عقیده: په سفر او حضر کې پر موزو مسح جائز کڼو، لکه څنګه چې په کڼ شمېر روایاتو کې راغلې ده.(١)

لما روي:

عن المغيرة بن شعبة قال: إن النبي صلى الله عليه وسلم توضأ فمسح بناصيته وعلى العمامة وعلى الخفين. رواه مسلم(٢)

ژباړه: له حضرت مغیره بن شعبه رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ اودس وکړ د خپل مخ مسحه یې وکړه او لنګوټه او موزو باندې یې مسحه وکړه.

عن سعد بن أبي وقاص عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه مسح على الخفين».(٣)

ژباړه: له حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول کریم ﷺ په موزو باندې مسحه وکړه.

عن المغيرة بن شعبة قال: مسح رسول الله صلى الله عليه وسلم على الخفين فقلت: يا رسول الله نسيت؟ قال: بل أنت نسيت بهذا أمرني ربي عز وجل. رواه أحمد وأبو داود(٤)

ژباړه: له حضرت مغیره رضي الله عنه څخه روایت دی چې: رسول کریم ﷺ پر موزو مسحه وکړه ما عرض وکړ: اې د الله رسوله! آیا ستاسو هیر شول؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: نه، بلکې ستا څخه هیر شول زما رب ما ته ددې حکم راکړی دی.

---

(١) ونرى المسح على الخفين في السفر والحضر كما جاء في الأثر. العقيدة الطحاوية ص: ٢٥.
(٢) مشكوة المصابيح: ١/١٢٧، رقم الحديث: ٣٩٩.
(٣) صحيح البخاري: ١/٥١، رقم الحديث: ٢٠٢.
(٤) مشكوة المصابيح: ١/١٦٢، رقم الحديث: ٥٢٤.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



قال العيني رحمه الله: وروي عن الحسن البصري أنه قال: أدركت سبعين بدريا من الصحابة كلهم يرى المسح على الخفين، ولهذا رآه أبو حنيفة من شرائط أهل السنة والجماعة. فقال: نحن نفضل الشيخين، ونحب الختنين، ونرى المسح على الخفين، ولا نحرم نبيذ الجر. يعني: المثلث، وروي عنه أنه قال: ما قلت بالمسح حتى جاءني مثل ضوء النهار.(۱)

یو نوي یمه عقیده: مونږ د ﷺ له ټولو صحابه کرامو سره مینه او محبت لرو، او هغوی په ښه خوله یادوو، له هغو کسانو څخه کرکه او نفرت کوو چې له دوی سره دښمني کوي او یا یې په بده خوله یادوي، د هغوی مینه او محبت د دین او ایمان نښه ده او له هغوی څخه کرکه او نفرت د کفر او نفاق نښه ده.(۲)

لقوله تعالی:

مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ(۳)

ژباړه: محمد رسول او رالیږل شوی د الله دی (په حق سره) او هغه کسان چې له ده سره دي سخت دي از روی مقابله او مجاهده پر کافرانو باندې، مهربانان او زړه سواندي دي پخپلو منځونو کې.

وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُم بِإِحْسَانٍ رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الْأَنْهَارُ(٤)

ژباړه: او هغه وړاندیني اولني (ایمان لرونکي) د مهاجرینو او انصارو څخه او (نور) هغه کسان چې متابعت کړی دی دوی د (سابقانو) په احسان (نیکي) سره راضي شوی دی الله له دوی نه (په قبول د طاعت سره) او راضي شوي دي دوی له الله نه (په اعطاء د نعمت) او تیار کړی دی (الله) دوی ته جنتونه چې بهیږي لاندې د

---

(۱) عمدة القاري شرح صحيح البخاري: ۹۷/۳.

(۲) ونحب أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم ولا نفرط في حب أحد منهم ولا نتبرأ من أحد منهم ونبغض من يبغضهم وبغير الخير يذكرهم ولا نذكرهم إلا بخير وحبهم دين و إيمان وإحسان وبغضهم كفر ونفاق وطغيان. العقيدة الطحاوية ص: ۲۹.

(۳) سورة الفتح: ۲۹.

(٤) سورة التوبة: ۱۰۰.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



(ونو او مانيو د ) دوی (ځلور قسمه ) ويالي چي تل به وي دوی په هغو کي هميشه،
دغه(رضاء او جنت ) برى دى د پر لوى.

لِلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا وَيَنْصُرُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُولَئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ وَالَّذِينَ تَبَوَّءُوا الدَّارَ وَالْإِيمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِمَّا أُوتُوا وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ.(۱)

ژباړه:(دغه اموال دي) د پاره د فقيرانو هجرت کوونکو (هغه مهاجران) چي ايستلى شوي دي دوی له کورونو کليو خپلو څخه او له اموالو خپلو څخه په دې حال کې چې طلبوي دوی فضل ښېښنه مهرباني له الله او رضاء (د ده) او مرسته (مدد) کوي د الله او د رسول د دغه (الله ﷺ) سره (په نفسونو او مالونو خپلو سره) دغه (مهاجران) هم دوی دي صادقان رښتيني (په ايمان او جهاد کې) او هغو (انصارو لره دي دغه اموال) چې ځای نيولى دی په (دې) کور (مدينه) کې او (خالص کړي يې دی خپل) ايمان پخوا له دغو (مهاجرانو) څخه، خوښوي محبت کوي دوی له هغه چا سره چې هجرت يې کړی دی دوی ته او نه مومي دوی په زړونو سينو خپلو کې څه تنګي (حسد) له هغه شي څخه چې ورکړی شوی وي (مهاجرانو لره) او غوره کوي (مهاجران) مقدموي يې پر خپلو ځانونو او اګر که وي پر دوی باندې تنګي (فاقه او حاجت هغه څه ته چې دوی يې ايثاروي) او هر هغه چې وساتلی شي له بخل د نفس د ده نه (او له حرص نه په مال باندې) نو هم دغه کسان دي هم دوی مراد موندونکي په مراد رسيدلي (په ثناء صفت د دنيا او په ثواب د عقبا سره).

(۱) سورة الحشر: ۸، ۹.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ولما روي:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَسُبُّوا أَصْحَابِي فَلَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ أَنْفَقَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا مَا بَلَغَ مُدَّ أَحَدِهِمْ وَلَا نَصِيفَهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.(۱)

ژباړه: له حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زما صحابه کرامو ته بد مه وایاست ځکه که په تاسو کې څوک د احد د غره برابر سره زر خرچ کړي نو د صحابي د یو مد یا نیم مد برابر ثواب نه شي تر لاسه کولای (مد یوه پیمانه ده چې د سیر په اندازه وربشې پکې راځي.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «اللَّهَ اللَّهَ فِي أَصْحَابِي، لَا تَتَّخِذُوهُمْ غَرَضًا بَعْدِي، فَمَنْ أَحَبَّهُمْ فَبِحُبِّي أَحَبَّهُمْ، وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ فَبِبُغْضِي أَبْغَضَهُمْ، وَمَنْ آذَاهُمْ فَقَدْ آذَانِي، وَمَنْ آذَانِي فَقَدْ آذَى اللَّهَ، وَمَنْ آذَى اللَّهَ فَيُوشِكُ أَنْ يَأْخُذَهُ».(۲)

ژباړه: له حضرت عبد الله بن مغفل رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل: له خدای څخه وویریږئ او بیا له خدای څخه وویریږئ زما د اصحابو په اړه د خدای څخه وویریږئ او زما د اصحابو په اړه د خدای څخه وویریږئ، زما څخه وروسته تاسو هغوی د بد او رد نښه مه جوړوئ څوک چې د هغوی سره مینه ساتي هغوی زما د مینې په سبب هغوی محبوب ساتي او څوک چې د هغوی سره دښمني کوي نو هغوی زما سره د دښمني په سبب د هغوی سره دښمني ساتي، او چا چې هغوی ته تکلیف ورسوی هغه ما ته تکلیف ورسوی او چا چې ما ته تکلیف ورسوی هغه خدای ته تکلیف ورسوی او چا چې خدای ته تکلیف ورسوی خدای جل جلاله به هغه ډېر ژر ونیسي.

---

(۱) مشکوة المصابیح: ۳/ ۱۶۹۴، رقم الحدیث: ۶۰۰۷.
(۲) سنن الترمذي: ۵/۶۹۶، رقم الحدیث: ۳۸۶۲.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



عن أنس بن مالك رضي الله عنه، عن النبي صلى الله عليه وسلم، قال: «آية الإيمان حب الأنصار، وآية النفاق بغض الأنصار». (١)

ژباړه: له حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د ايمان نښه د انصارو سره مينه کول دي او د نفاق نښه د انصارو سره بغض او دښمني کول دي.

عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال: احفظوني في أصحابي، فإن من أشراط الساعة أن يلعن آخر هذه الأمة أولها. (٢)

ژباړه: رسول کريم ﷺ فرمايي: زما د اصحابو په اړه زما خبره ياد ساتئ ځکه د قيامت يوه نښه دا ده چې د دې امت وروستني خلک به د دې امت په ړومبيو باندې لعنت وايي.

---

(١) صحيح البخاري: ٥/٣٢، رقم الحديث: ٣٧٨٤.
(٢) مسند الفاروق: ٢/٣٣٢.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



دوه نوي یمه عقیده: موږ له رسول الله ﷺ وروسته ابوبکر صدیق رضي الله عنه لومړی خلیفه، عمر بن الخطاب رضی الله عنه دوهم خلیفه، عثمان رضی الله عنه دریم خلیفه، او علي بن ابی طالب رضی الله عنه څلورم خلیفه ګڼو، او دوی د حق لاربښوونکي خلفاء او د حق پر لار روان امامان دي.[۱]

لما روي:

عن أبي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُنِي عَلَى قَلِيبٍ عَلَيْهَا دَلْوٌ، فَنَزَعْتُ مِنْهَا مَا شَاءَ اللَّهُ، ثُمَّ أَخَذَهَا ابْنُ أَبِي قُحَافَةَ فَنَزَعَ بِهَا ذَنُوبًا أَوْ ذَنُوبَيْنِ، وَفِي نَزْعِهِ ضَعْفٌ، وَاللَّهُ يَغْفِرُ لَهُ ضَعْفَهُ، ثُمَّ اسْتَحَالَتْ غَرْبًا، فَأَخَذَهَا ابْنُ الخَطَّابِ فَلَمْ أَرَ عَبْقَرِيًّا مِنَ النَّاسِ يَنْزِعُ نَزْعَ عُمَرَ، حَتَّى ضَرَبَ النَّاسُ بِعَطَنٍ».[۲]

ژباړه: له حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل: زه یو وخت ویده چې ما خپل ځان د یو څاه سره ولیده چې پر هغه سلواغه پرته وه، ما د هغه سلواغې څخه څومره چې خدای ﷻ ته منظوره وه اوبه راوکښلې بیا ابن ابي قحافه سلواغه واخیستل او د څاه څخه یوه یا دوې سلواغې اوبه راوکښلې، ابن ابي قحافه په اوبو راکښلو کې کمزوري و، خدای ﷻ به د ابو بکر رضي الله عنه کمزوري معاف کړي، بیا هغه سلواغه «لویه سلواغه» جوړه شوه او عمر بن الخطاب واخیستله او ما هیڅ پهلوان په خلکو کې داسې نه دی لیدلی چې د عمر په څېر هغه سلواغه راوکاږي تر هغو چې خلکو د اوبو اخورونه جوړ کړل.

(۱) ونثبت الخلافة بعد رسول الله صلى الله عليه وسلم أولا لأبي بكر الصديق رضي الله عنه تفضيلا له وتقديما على جميع الأمة ثم لعمر بن الخطاب رضي الله عنه ثم لعثمان رضي الله عنه ثم لعلي بن أبي طالب رضي الله عنه وهم الخلفاء الراشدون والأئمة المهتدون.العقيدة الطحاوية ص: ۲۹.

(۲) صحيح البخاري: ۶/۵، رقم الحديث: ۳۶۶۴.

ketabton.com - The Digital Library



عن حذيفة، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اقتدوا باللذين من بعدي أبي بكر، وعمر.(۱)

ژباړه: له حذيفه رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: له ما څخه وروسته تاسو د ابوبکر او عمر پيروي کوئ.

عن أبي موسى، قال: مرض رسول الله صلى الله عليه وسلم فاشتد مرضه، فقال: «مروا أبا بكر فليصل بالناس».(۲)

ژباړه: له ابو موسى اشعري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول کريم ﷺ مريض شو او مرض يې سخت شو نو ويې ويل: ابو بکر ته ووايئ چې (مخکې شه) او خلکو ته امامت ورکړه.

عن سفينة، قال: خطبنا رسول الله صلى الله عليه وسلم، فقال: «الخلافة في أمتي ثلاثون ثم يكون ملكا» ثم قال سفينة: أمسك عليك، خلافة أبي بكر وعمر رضي الله عنهما ثلاثة عشرة سنة وستة أشهر، وخلافة عثمان رضي الله عنه اثنتا عشرة سنة ثم خلافة علي مكملة الثلاثين».(۳)

ژباړه: له سفينه رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول کريم ﷺ موږ ته خطبه راکړه او ويې ويل: زما په امت کې به خلافت (على منهج النبوة) ديرش کاله وي بيا به پاچاهي شروع کيږي. حضرت سفينه رضي الله عنه فرمايي: ياد ساته د ابو بکر او عمر رضي الله عنهما د خلافت زمانه ديارلس کاله او شپږ مياشتې وه، د عثمان رضي الله عنه د خلافت زمانه دوولس کاله وه او بيا د علي رضي الله عنه په خلافت سره ديرش کاله پوره شو.

(۱) سنن الترمذي: ۶/ ۵۰، رقم الحديث: ۳۶۶۲.
(۲) صحيح مسلم: ۱/ ۳۱۶، رقم الحديث: ۴۲۰.
(۳) تثبيت الإمامة وترتيب الخلافة لأبي نعيم الأصبهاني: ۳۵۸ ص، رقم الحديث: ۱۸۲.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library


**درې نوي یمه عقیده: هغه لس صحابه رضي الله تعالی عنهم چې رسول الله ﷺ په دنیا کې د جنت زیری ورکړی دی، موږ د رسول الله ﷺ د شاهدۍ پر اساس هغوی جنتیان کڼو د هغوی نومونه دا دي: ابوبکر، عمر، عثمان، علي، طلحه، زبیر، سعد، سعید، عبدالرحمن بن عوف او ابو عبیده بن الجراح رضی الله تعالی عنهم.(۱)**

لما روي:

عن عبد الرَّحْمَن بن عَوْف أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَبُو بَكْرٍ فِي الْجَنَّةِ وَعُمَرُ فِي الْجَنَّةِ وَعُثْمَانُ فِي الْجَنَّةِ وَعَلِيٌّ فِي الْجَنَّةِ وَطَلْحَةُ فِي الْجَنَّةِ وَالزُّبَيْرُ فِي الْجَنَّةِ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ فِي الْجَنَّةِ وَسَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ فِي الْجَنَّةِ وَسَعِيدُ بْنُ زَيْدٍ فِي الْجَنَّةِ وَأَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ فِي الْجَنَّةِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ (۲)

ژباړه: له حضرت عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ابو بکر په جنت کې دی، عمر په جنت کې دی، عثمان په جنت کې دی، علي په جنت کې دی، طلحه په جنت کې دی، زبیر په جنت کې دی، عبد الرحمن بن عوف په جنت کې دی، سعد بن ابي وقاص په جنت کې دی، سعید بن زید په جنت کې دی، او ابو عبیده بن الجراح په جنت کې دی.

---

(۱) وأن العشرة الذين سماهم رسول الله صلى الله عليه وسلم وبشرهم بالجنة نشهد لهم بالجنة على ما شهد لهم رسول الله صلى الله عليه وسلم وقوله الحق وهم: أبوبكر وعمر وعثمان وعلي وطلحة والزبير وسعد وسعيد وعبد الرحمن بن عوف و أبو عبيدة بن الجراح وهو أمين هذه الأمة رضي الله عنهم أجمعين. العقيدة الطحاوية ص: ۲۹، ۳۰.

(۲) مشكوة المصابيح: ۳/ ۱۷۲۶، رقم الحديث: ۶۱۱۸.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



**څلورنوي يمه عقيده: ځوک چې د رسول الله ﷺ صحابه، د هغه ميرمنې او اولادونه په ښه نوم ياد کړي هغه له نفاق څخه خلاص دی.** (۱)

لقوله تعالى:

﴿إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا﴾ (۲)

ژباړه: بې شکه همدا خبره ده چې اراده لري الله د دې چې لرې کړي له تاسې ګناه اې اهل البيت (کورنۍ د محمد رسول الله) او چې پاک کړي تاسې (له ګناه) په پاکوالي.

﴿النَّبِيُّ أَوْلَىٰ بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ﴾ (۳)

ژباړه: (محمد د الله) نبي ډېر وړ (لائق) دی له مؤمنانو سره له نفسونو د دوی (د احکامو په انجام) او ښځې د دغه (نبي الله) ميندې د دوی دي (تعظيما او تحريما).

﴿إِذْ تَلَقَّوْنَهُ بِأَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُولُونَ بِأَفْوَاهِكُم مَّا لَيْسَ لَكُم بِهِ عِلْمٌ وَتَحْسَبُونَهُ هَيِّنًا وَهُوَ عِندَ اللَّهِ عَظِيمٌ ۝ وَلَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُم مَّا يَكُونُ لَنَا أَن نَّتَكَلَّمَ بِهَٰذَا سُبْحَانَكَ هَٰذَا بُهْتَانٌ عَظِيمٌ﴾ (۴)

ژباړه: کله چې واخيست تاسو دا (افک) په ژبو خپلو (چې يو له بله مو پوښتنه کوله) او ويله به مو په خولو خپلو سره هغه خبره چې نه و تاسو ته په هغې باندې هيڅ علم او ګڼله تاسې دغه خبره آسانه (چې هيڅ ګناه پکې نشته) حال دا چې دغه (خبره) په نزد د الله کې ډېره لويه ده (له حيثيته د ګناه نه) ولې نه کله چې واوريده تاسې دا خبره ويل تاسې چې نه ښايي مونږ ته دا کار چې خوله وخوځوو په دې خبره باندې پاکي د تا (اې ربه) دا دروغ دي ډېر لوی (چې تړلی شوي دي د منافقانو له خوا).

(۱) ومن أحسن القول في أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم وأزواجه الطاهرات من كل دنس وذرياته المقدسين من كل رجس فقد برئ من النفاق. العقيدة الطحاوية ص: ۳۰.

(۲) سورة الأحزاب: ۳۳.

(۳) سورة الأحزاب: ۶.

(۴) سورة النور: ۱۵، ۱۶.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ولما روي:

عن أيوب السختياني قال: «من أحب أبا بكر فقد أقام الدين, ومن أحب عمر فقد أوضح السبيل , ومن أحب عثمان فقد استنار بنور الله عز وجل ومن أحب عليا فقد استمسك بالعروة الوثقى, ومن أحسن القول في أصحاب محمد فقد برئ من النفاق».(١)

ژباړه: له ايوب سختياني رحمه الله څخه روايت دی چې: څوک له ابوبکر سره مينه ولري هغه دين قائم کړ، څوک چې له عمر سره مينه ولري هغه مسير واضح کړ، څوک چې له عثمان سره مينه ولري هغه د الله په نور سره منور شو، څوک چې له علي سره مينه ولري هغه په مضبوطه رسۍ (د دين) باندې منګولې ولګولې، او څوک چې د رسول کريم ﷺ د اصحابانو په باب کې ښه رايه ولري هغه له نفاق څخه بري دی.

---

(١) الشريعة للآجري: ٤/ ١٧٧٢، ١٧٧٣، رقم الحديث: ١٢٣١.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## له سلف صالحينو سره مينه

پنځه نـوي يمـه عقيـده: پخوانـي علمـاء، مجتهديـن امامـان، د هغـوی نيک پيـروان او فقهـاء پـه نيكـو يـادوو او څـوک چې يې په بده يـادوي، هغـوی بـد او پـه غلطـه لاره روان دي.(١)

لقوله تعالى:

﴿وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ﴾(٢)

ژباړه: او سړي مؤمنان او ښځې مؤمناني ځينې د دوی دوستان دي د ځينو نورو (او په ايمان کې ټول سره يو شان دي).

﴿يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ﴾(٣)

ژباړه: پورته کوي الله هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی له تاسې څخه (په طاعت فرمان برداري د ده) او (خاص پورته کوي) هغه کسان چې ورکړل شوی دی دوی ته علم پوهه په درجو مرتبو کې.

ولما روي:

عن عمران بن حصين رضي الله عنهما، يقول: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «خير أمتي قرني، ثم الذين يلونهم، ثم الذين يلونهم».(٤)

ژباړه: له حضرت عمران بن حصين رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول كريم ﷺ وفرمايل: زما د امت غوره زما د قرن خلک دي (قرن يو دور دی يعني يو زمانه ده ځينو ۴۰ کاله، ځينو ۵۰ کاله، ځينو ۸۰ کاله او ځينو ۱۰۰ کاله تاکلي دي) بيا هغه خلک غوره دي کوم چې د هغوی سره متصل دي بيا هغه خلک غوره دي چې د

---

(١) وعلماء السلف من السابقين ومن بعدهم من التابعين أهل الخير والأثر وأهل الفقه والنظر لا يذكرون إلا بالجميل ومن ذكرهم بسوء فهو على غير السبيل. العقيدة الطحاوية ص: ٣٠.

(٢) سورة التوبة: ٧١.

(٣) سورة المجادلة: ١١.

(٤) صحيح البخاري: ٥/٢، رقم الحديث: ٣٦٥٠.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



هغوی سره متصل دي.

عن عمرو بن العاص، أنه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: «إذا حكم الحاكم فاجتهد ثم أصاب فله أجران، وإذا حكم فاجتهد ثم أخطأ فله أجر».(۱)

ژباړه: له عمرو بن العاص څخه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل: هر کله چې حاکم پر حکم کولو آماده شي که اجتهاد وکړي (یعني پر معاملو باندې ډېر غور او فکر وکړي) او د هغه پریکړه صحیح وي نو هغه ته به دوه برابر ثواب تر لاسه کیږي او که هغه پوره کوښښ وکړي مگر غلطي ځینې وشوه نو یو برابر ثواب به تر لاسه کړي.

عن أبي أمامة، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «لا تقوم الساعة حتى يلعن آخر هذه الأمة أولها ألا عليهم حلت اللعنة».(۲)

ژباړه: له ابو امامه رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل: قیامت به تر هغې پورې قائم نه شي تر څو چې د دې امت وروستني خلک په اولنیو باندې لعنت ونه وایې، خبردار! په دې (لاعنینو) باندې لعنت روا دی.

شپږنوي یمه عقیده: هیڅ ولي پر هیڅ نبي غوره نه کڼو، بلکې یو نبي تر ټولو اولیاوو غوره دی.(۳)

لقوله تعالی:

اللَّهُ أَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهُ.(۴)

ژباړه: الله ښه عالم (ښه پوه) دی په هغه ځای چې ږدي رسالت خپل (هلته).

---

(۱) صحيح البخاري: ۹/ ۱۰۸، رقم الحديث: ۷۳۵۲.

(۲) الإبانة الكبرى لابن بطة: ۱/ ۱۷۹، رقم الحديث: ۱۴.

(۳) ولا نفضل أحدا من الأولياء على أحد من الأنبياء عليهم السلام ونقول: نبي واحد أفضل من جميع الأولياء. العقيدة الطحاوية ص: ۳۰، ۳۱.

(۴) سورة الأنعام: ۱۲۴.

Scanned with CamScanner

**اووه نوي يمه عقيده: موږ د اولياؤ په هغه كراماتو ايمان لرو چې په معتبرو رواياتو ثابت دي.(۱)**

لقوله تعالى:

﴿وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّى لَكِ هَذَا قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ﴾(۲)

ژباړه: او (الله) كفيل وګرځاوه دې لره زكريا عليه السلام، هر وخت چې به ورغلى دې ته زكريا په محراب (عبادت خانه) كې نو پيدا به يې كړه له دې (مريمې) سره څه روزي (يعني ميوې د ژمي په اوړي او ميوې د اوړي په ژمي كې) وويل (زكريا) اې مريمې! له كومه (راغلې) ده تا ته دا روزي؟ وويل (مريمې زكريا ته) چې دا (روزي) له طرفه د الله ده. بې شكه چې الله روزي وركوي هغه چا ته چې اراده يې وفرمايي (د روزي وركولو يې ډېره پريمانه) بې حسابه.

ولما روي:

عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، بَعَثَ جَيْشًا، وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ رَجُلًا يُدْعَى سَارِيَةَ قَالَ: فَبَيْنَا عُمَرُ يَخْطُبُ قَالَ: فَجَعَلَ يَصِيحُ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَا سَارِيَةُ: الْجَبَلَ، يَا سَارِيَةُ الْجَبَلَ. قَالَ: فَقَدِمَ رَسُولُ الْجَيْشِ , فَسَأَلَهُ , فَقَالَ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، لَقِينَا عَدُوَّنَا فَهَزَمُونَا وَإِنَّ الصَّائِحَ لَيَصِيحُ: يَا سَارِيَةُ: الْجَبَلَ، يَا سَارِيَةُ: الْجَبَلَ، فَشَدَدْنَا ظُهُورَنَا بِالْجَبَلِ، فَهَزَمَهُمُ اللَّهُ.(۳)

ژباړه: له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دى چې: عمر فاروق رضي الله عنه يو لښكر ولېږه او ساريه رضي الله عنه يې پرې امير مقرر كړ، راوي وايې: يوه ورځ عمر خطبه ويله نو د خطبې پر مهال پر منبر ولاړ چيغې يې شروع كړې: اې ساريه! غر، اې ساريه! غر، راوي وايې: څه موده پس د هغه لښكر يو استازى راغى ويې ويل: اې امير المؤمنينه! د ښمن سره مخ شولو شكست مو وخوړ خو په دې دوران كې د يو

(۱) ونؤمن بما جاء من كراماتهم وصح عن الثقات من رواياتهم. العقيدة الطحاوية ص: ۳۱.
(۲) سورة آل عمران: ۳۷.
(۳) الاعتقاد للبيهقي ص ۳۱۴.

ketabton.com - The Digital Library
Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



آواز کوونکي ږغ مو واورید چې په واز کومي چیغې وهې: اې ساریه! غر (ته پناه یوسه)، اې ساریه! غر (ته پناه یوسه) نو مونږ خپلې شاوې په غره سره مظبوطې (او خوندي) کړې الله تعالی دښمن ته ماته ورکړه.

اته نوي یمه عقیده: مونږ په کاهن، فال ویونکي او هغه چا چې د کتاب، سنت او د امت د اجماع خلاف دعوه کوي، باور نه لرو. (۱)

لما روي:

عن أبي هريرة، والحسن، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «من أتى كاهنا، أو عرافا، فصدقه بما يقول، فقد كفر بما أنزل على محمد». (۲)

ژباړه: له ابو هریره او حسن رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمایل: څوک چې کاهن یا نجومي ته ورغلل او د هغه په وینا یې باور وکړ نو په تحقیق سره ده کفر وکړ په هغه څه چې پر محمد ﷺ نازل شوي دي.

---

(۱) ولا نصدق كاهنا ولا عر افا ولا من يدعي شيئا يخالف الكتاب والسنة وإجماع الأمة. العقيدة الطحاوية ص: ۳۱.

(۲) مسند أحمد: ۳۳۱/۱۵، رقم الحديث: ۹۵۳۶.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



نهه نوي يمه عقيده: موږ په پورتنيو عقائدو ايمان او عقيده لرو، او له ټولو باطلو ډلو لکه: مشبهه، معتزله، جهميه، جبريه، قدريه او هغو کسانو څخه بېزاره يو چې د پورتنۍ عقيدې مخالف دي، هغوی زموږ په اند ګمراهان او بېلاري دي، الله ﷻ دي موږ پر خپل ايمان او عقيده ثابت قدمه کړي او زموږ خاتمه دي په ايمان کړي.(١)

لقوله تعالى:

﴿قُلْ هَٰذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ﴾(٢)

ژباړه: ووايه (اې محمده! دوی ته) چې دغه (ايمان او توحيد) لاره زما ده چې (تېنګ پرې ولاړ يم او) بولم زه ټول خلک طرف د (توحيد) د الله ته په بيان (او ښکاره دليل) سره (هم) زه او (هم هر) هغه څوک چې متابعت پيروي کوي زما، او پاک دی الله (له شرکه او ولده او نورو عيبونو) او نه يم زه له شريک نيوونکو (په الله پورې).

﴿وَأَنَّ هَٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُم بِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾(٣)

ژباړه: په تحقيق دغه (د دې سورت ذکر شوي احکام) لاره زما ده برابره (جنت ته نو متابعت وکړئ تاسې د دغې (لارې) او مه کوئ متابعت د (نورو کږو) لارو نو تار په تار به کړي (دغه متابعت) تاسې له لارې (سمې) د الله نه (چې د وحي اتباع او د برهان اقتفاء ده) دا (اتباع د سمې لارې) حکم کړی دی (الله) تاسې ته په دې سره له پاره د دې چې ځان وساتئ تاسې (له ګمراهي نه).

(١) فهذا ديننا واعتقادنا ظاهرا وباطنا ونحن براء إلى الله من كل من خالف الذي ذكرناه وبيناه ونسأل الله تعالى أن يثبتنا على الإيمان ويختم لنا به ويعصمنا من الأهواء المختلفة والآراء المتفرقة والمذاهب الردية مثل المشبهة والمعتزلة والجهمية والجبرية والقدرية وغيرهم من الذين خالفوا السنة والجماعة وحالفوا الضلالة ونحن منهم براء وهم عندنا ضلال وأردياء. وبالله العصمة والتوفيق.العقيدة الطحاوية ص: ٣٢.

(٢) سورة يوسف: ١٠٨.

(٣) سورة الأنعام: ١٥٣.

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ.(۱)

رَبِّ قَدْ آتَيْتَنِي مِنَ الْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِي مِنْ تَأْوِيلِ الْأَحَادِيثِ فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَنْتَ وَلِيِّي فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ تَوَفَّنِي مُسْلِمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ.(۲)

ژباړه: اې ربه زما! په تحقيق راکړې دې ده ما ته څه له پاچاهي (او تصرف د مصر او ښوولی دې دی ما ته څه له ګرځولو د خبرو (لکه تعبير د خوبونو بيان د کتابونو) اې پيدا کوونکيه د آسمانونو او د ځمکې (بې له نمونې)! هم ته يې ولي (دوست واکدار کار جوړوونکی) زما په دنيا او په آخرت کې، وفات راکړه ما په دې حال کې چې مسلمان يم او يو ځای مې کړه (په مرتبه او کرامت کې) له صالحانو سره.

ولما روي:

عن أبي هريرة، أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: تفرقت اليهود على إحدى وسبعين أو اثنتين وسبعين فرقة، والنصارى مثل ذلك، وتفترق أمتي على ثلاث وسبعين فرقة.(۳)

ژباړه: له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول کريم ﷺ وفرمايل: يهود ۷۱ يا ۷۲ ډلې شوې او عيسايان هم همداسې، او زما امت به درې اويا ډلو باندې تقسيم شي.

(۱) سورة حم السجدة: ۳۰.
(۲) سورة يوسف: ۱۰۱.
(۳) سنن الترمذي: ۳۲۲/۴، رقم الحديث: ۲۶۴۰، وأخرجه أيضا أبو داود: ۱۹۷/۴، رقم الحديث: ۴۵۹۶.

Scanned with CamScanner

عن عبد الله بن سفيان، عن أبيه، قال: يا رسول الله، أخبرني بأمر في الإسلام لا أسأل عنه أحدا بعدك، قال: «قل: آمنت بالله، ثم استقم».(١)

له عبد الله څخه روايت دی چې سفيان رضي الله عنه رسول کريم ﷺ ته وفرمايل: ژباړه: اې د الله رسوله! ما ته په اسلام کې يو داسې (کټمور) کار راوښيه چې له تا وروسته بيا زه له چا پوښتنه ونه کړم، رسول الله ﷺ وفرمايل: په ژبه او زړه سره د دې خبرې اقرار وکړه چې ما په خدای ايمان راوړی دی او بيا پر دې اقرار ټينګ اوسه.

وَصَلَّى اللَّهُ تَعَالَى عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ،
وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِينَ.

(١) مسند أحمد: ١٤٢/٢٤. رقم الحديث: ١٥٤١٧.

ketabton.com - The Digital Library
Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

| شمېره | د کتاب نوم | د مصنف نوم | ناشر |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱. | القرآن الكريم | - | - |
| ۲. | کابلی تفسیر پښتو | د افغانستان د علماوو هیئت | د آیتونو شریفه وو موافق |
| ۳. | العقيدة الطحاوية | أبو جعفر أحمد بن محمد بن سلامة بن عبد الملك بن سلمة الأزدي الحجري المصري المعروف بالطحاوي. | دار ابن حزم - بيروت |
| ٤. | مشكوة المصابيح | محمد بن عبد الله الخطيب العمري، أبو عبد الله، ولي الدين، التبريزي. | المكتب الإسلامي – بيروت. |
| ٥. | صحيح البخاري | محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي. | دار طوق النجاة. |
| ٦. | صحيح مسلم | مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري. | دار إحياء التراث العربي – بيروت. |
| ۷. | سنن الترمذي | أبو عيسى محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، الترمذي. | شركة مكتبة ومطبعة مصطفى الحلبي – مصر. |
| ۸. | سنن أبي داود | أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني. | دار الرسالة العالمية |
| ۹. | عمدة القاري شرح صحيح البخاري | أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين العينى. | دار إحياء التراث العربي - بيروت |
| ۱۰. | التفسير المظهري | القاضي مولوي محمد ثناء الله الهندي الفاني فتي. | مكتبة الرشدية |
| ۱۱. | الجامع لأحكام القرآن = تفسير القرطبي | أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي. | دار الكتب المصرية – القاهرة |

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| ١٢. | تفسير الماتريدي (تأويلات أهل السنة) | محمد بن محمد بن محمود، أبو منصور الماتريدي. | دار الكتب العلمية - بيروت، لبنان |
| ١٣. | فتح الرحمن في تفسير القران | مجير الدين بن محمد العليمي المقدسي الحنبلي. | دار النوادر |
| ١٤. | منح الروض الأزهر في شرح الفقه الأكبر | علي بن (سلطان محمد)، أبو الحسن نور الدين الملا الهروي. | دار البشائر الإسلامية |
| ١٥. | الفقه الأكبر | أبوحنيفة النعمان بن ثابت رحمه الله تعالى. | مكتبة الفرقان - الإمارات العربية |
| ١٦. | التبيان في آداب حملة القرآن | أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي. | دار ابن حزم للطباعة والنشر والتوزيع – بيروت |
| ١٧. | المستدرك على الصحيحين للحاكم | أبو عبد الله الحاكم محمد بن عبد الله بن محمد بن حمدويه بن نُعيم بن الحكم الضبي الطهماني النيسابوري. | دار الكتب العلمية – بيروت |
| ١٨. | مفاتيح الغيب = التفسير الكبير (تفسيرالرازي) | أبو عبد الله محمد بن عمر بن الحسن بن الحسين التيمي الرازي. | دار إحياء التراث العربي – بيروت |
| ١٩. | روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني | شهاب الدين محمود بن عبد الله الحسيني الألوسي. | دار الكتب العلمية – بيروت |
| ٢٠. | الشفا بتعريف حقوق المصطفى | عياض بن موسى بن عياض بن عمرون اليحصبي السبتي، أبو الفضل. | دار الفيحاء – عمان |
| ٢١. | شرح الزرقاني على المواهب اللدنية بالمنح المحمدية | أبو عبد الله محمد بن عبد الباقي بن يوسف بن أحمد بن شهاب الدين بن محمد الزرقاني المالكي. | دار الكتب العلمية |
| ٢٢. | الفتاوي البزازية على هامش الهندية | محمد بن شهاب البزاز الكردري | مكتبة الرشدية |
| ٢٣. | شرح أصول اعتقاد أهل السنة والجماعة. | أبو القاسم هبة الله بن الحسن بن منصور الطبري الرازي اللالكائي. | دار طيبة - السعودية |
| ٢٤. | رد المحتار على الدر المختار | ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي. | دارالفكر-بيروت. |

Scanned with CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

ما انا علیه و اصحابي

# د اهل السنة والجماعة عقیده

تألیف

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوي هبة الله اخندزاده

کال ١٤٤٧ هـ ق

Scanned with CamScanner

**Thank you for reading**

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*